گل ورینے ژوے

محمد پرویش شاہین

پہ لوړو غرونو خدائے مَیِن دے
پہ سرئے واؤرے ترے چاپیرہ زیړ کلونہ

کلور ینے شوکے

محمد پرویش شاھین

پبلشرز
شہکیب سنز پبلشرز و بکسیلرز
جی ٹی روڈ (بالمقابل سٹار مارکیٹ) منگورہ، سوات

ټول حقونه په حق د لیکونکی محفوظ دی

د کتاب نوم ـــــــــ ګل ور ینے څوکے

لیکونکے ـــــــــ محمد پرویش شاهین

وړمبے ځل ـــــــــ فروری سن ۱۹۸۹ء

کتابت ـــــــــ لطف الله

د چاپ ځائے ـــــــــ فاران پریس مکان باغ مینګوره

شمیر ـــــــــ یو زر (۱۰۰۰)

بیه ـــــــــ ۳۰/ روپئے

ناشر ـــــــــ شعیب سنز پبلشرز، بکسیلرز اودیانه بازار

جی ټی روډ مینګوره (سوات)

محمد پرویش شاہین

د

① پروفیسر پریشان خټک

② پروفیسر جهانزیب نیاز

③ پروفیسر محمد اعظم اعظم

په دوم چې د دوئ د پښتو او پښتو ادب سره مینه او علمی، تحقیقی، تنقیدی او ادبی خدمات د قدر وړ او د ستائنې جوګه دی۔

په درناوی او مینه

محمد پرویش شاهین

فہرست

شمیرہ	لیک	مخ
(۱)	سریزہ (عبدالکافی ادیب)	۵
(۲)	پرویش شاهین (پیرکوهر)	۸
(۳)	وړومبۍ خبرے	۱۰
(۴)	پښتو	۱۹
(۵)	بُدھ مت اُو پښتون خوا	۲۹
(۶)	ایلم د تاریخ په رڼا کښے	۵۶
(۷)	چُونو سر	۶۷
(۸)	د سوات وړو مےجمات	۹۱
(۹)	ملاکنډ	۱۰۰
(۱۰)	د امبیلے غزا	۱۰۹
(۱۱)	د ریښمو لار	۱۳۲
(۱۲)	صحافت په سوات کښے	۱۳۷

سریزه

د پاکستان گټې ګټې د تاریخي عظمتونو امین دے ۔ که څوک ددے سیمې دغرونو سیندونو، صحراګانو، ورشوګانو پله غور او فکر اوکړي نو ددے تاریخي صداقتونه او تهذیبي عظمتونه به ورته په هر لوري بکاره شي کوم چه د تاریخ یوه داسے قیمتي پاڼه ده چه مثال به ئے شاید که چرته وي ۔

زمونږ دښادیو، غرونو، عمارتونو او ددے سیمے د لوړو ژورو په سینو کښے د عروج و زوال بے شمیره قیصے پټے پرتے دی ۔

دا دیره د خوشحالئ خبره ده چه زمونږ په ملک کښے په تاریخ پوهه لرونکی او آثار شناس پیدا شوی دی ۔ هم داوجه ده چه زمونږ په علمی اوادبی پاڼه کښے یګیا ده برابر اضافه کیږی ۔

دګران ملګری او د پښتو ژبے پیاوړی لیکوال او محقق پرویش شاهین دا اوسنے تحقیقی کتاب " ګل ورینے څوکے " د پښتو مالاکنډ، د پښتو مولان، د جونږ سر، د اسپیلے غزا، ایلم د تاریخ په رڼا کښے، د سوات روښنے چمات او صحافت په سوات کښے " غونډے علمی موضوعاتو باندے مشتمل مقالو مجموعه ده ۔ اودیو ژور نظر لرونکی محقق په حیثیت ئے دیاب په کوزه کښے بند کړے دے ۔

دغه ورځ تیز رفتاره زمانه کښے چا سره هم دومره وخت نشته چه هغه د تاریخي ماخذ دلټون دپاره دومره وخت اولري ۔ بناغلے پرویش شاهین د وطن د

استوګنو دپاره په دا کتاب کښے تاریخی حقائق او شواهد ئے نه صرف راغونډ کړل بلکه دا ئے دیو اهم فرض په توګه سرته اورسولو - دده کتاب په برکت به نه صرف دده سیمے تاریخی اوتهذیبی اهمیت رابرخیره شی بلکه دبصیرت خاوند انو دپاره به دتاریخ اوتحقیق نوے لارے پرانستے شی - زما داباور دے چه دپرویش شاهین دا تحقیقی دستاویز به دراتلونکی نسل د اصل علم طبقے دپاره لار ښودنه ثابت شی چه بیا هغوئی دده لارے په برکت دخپلو خپلو علاقو او دقام دپاره د ماضی شاندارے قیمے مرتب کولو جوګه شی -

له بده مرغه دده نه وړاندے په قامی سطح په تاریخ او آثارشناسئ په موضوع ډیر کم کار شوے دے - که څه لږ ډیر کار شوے هم دے نو هغه په وفاقی سطح شوے دے - چه پکښے دتولو علاقو تفصیلات رایو ځائے کول ناممکنه خبره ده - دده دپاره دا خبره نوره هم د اهمیت وړ ده چه اوس دبناغلی پرویش شاهین په دے کتاب کښے د پاکستان دده اصلے سیمے تاریخی ارخونو پحقله ډیر اهم مواد راغونډ کړے شو -

دمواد او اسلوب ترڅنګ دګران شاهین یکونه ډیر دلچسپ دی - دده ژوند په زړه کښے دپښتونخوا د آثارو دلټون دپاره چه کوم قدرومنزلت دے هغه د ذکر وړ دی - او بیا په تیره تیره چه شاهین دخپل اعلیٰ مقصد ترسره کولو دپاره په کوم ارت مټ یکیا دے سرمایه خرڅ کوی ، دا دملک دنورو اهل قلم او اصل علم دپاره یو مثال دے -

حقیقت دا دے چه دیو محقق مثال دآئینے وی چه په تحریر کښے هر لوستونکے پکښے دخپلے خپلے علاقے تاریخی او ثقافتی عکسونه کتے شی - هم داوجه ده چه نن ورځ په تعلیمی توګه ، تحقیقی او تاریخی کتابونو ته ډیر اهمیت ورکولے شی - په دے کتاب

کښے هغه موضوع ګانے شامل دی ۔ د کومو چه زمونږ د اوسنی کول طالبعلمانو ته ډیر سخت ضرورت دے ۔ زما دا یقین دے چه د تعلیمی ادارو په کتب خانو کښے به دے کتاب ته ډیره په درنه ستر ګه هر کلے اوویلے شی ۔

لکه څنګه چه ما پورته عرض کړے دے ، تحقیق یو ډیر ګران کار دے ۔ په دے کار کښے ډیکونکے ډیره خواری کوی ۔ د مواد و د یو یو ټکی د لټون او د هغے تصدیق د پاره هغه ډیر کراؤ کوی ۔ ګوښه کړا پرے معلومه وی او بیا آخر کښے د ټول هغه په دا سے طریقه د څل لیک په سانچه کښے راولی چه لوستونکے ته د لوستو په وخت څه بوج نه ګڼی او په ډیره دلچسپئ سره ئے مطالعه کوی ۔ په ظاهره خو دا یو معمولی شانتے خبره ده وے دے اندازه هغه څوک لګولے شی چه څوک په دے از غنه لاره تیر شوے وی ۔

زهٔ په دے کامیاب کوششی ګران پرویش شاهین ته مبارکی ورکوم ۔ او د الله جل جلاله څخه د دهٔ د قلم د څوکے نه یه هم دا رنګه قیمتی ملغلرے راوځی دکوم چه زمونږ د ملک علمی او تحقیقی لبقے ته سخت ضرورت دے ۔

عبدالکافی ادیب اسلام آباد

۲۰ دسمبر ۱۹۸۸ء

پرویش شاهین

زلمے دے خو په پوهه بنهٔ زیرک دے او حسین دے
مسکن ئے دے منګلور خو پښتو ژبه کښے مکین دے
چا ویل چه دا شاهین دے

نظر ئے د شاهین پشان لګی لرے لرے
کوی د ساښی دور په کشف کښے خبرے
تاریخ ته د پښتو اچوی بنکلے ملغلرے
د روښ ذهن څښتن دے هسے نهٔ وئی د غرے
د توره و تور تمنو په خواخوږو نکته چین دے
چا ویل چه دا شاهین دے

پښتو ځلوی هر پله د خپل ذهن په ولی
چه چرته د پښتو څښتن وی هغه پله زغلی
د الئ د پښتو لاس کښے ګرځوی کلی په کلی
چه کوم طرفته ځی بس د پښتو ګلونه نولی
د اتوک دے چه په ویره پختو نخواه کښے ګل ورین دے
چا ویل چه دا شاهین دے

مالی دے د پښتو نه لرکوی د نفرت غنے
چه نهٔ شلوی څوک نور ے د پښتو ادب لمنے
پس پس اوګنګوسے دی کوی خلق غوږ سار نے
منګلور کښے دے پروېش مکتب پرانستے دے ځیں نے

دسوات په سنګلاخ زمکه د پښتو ادب امین دے
چاویل چه دا شاهین دے

شاهین خو یو مثال وو د اقبال او د خوشحال
رحمٰن بابا ترے لاغه خوښه کړے وه په خیال
په کوم خوئ او کردار به شی انسان دسیالو سیال
رحمٰن بابا خو وائی دے عمل دسړی فال

که علم سمندر دے ولے ؟ سازله اباسین دے
چاویل چه دا شاهین دے

د غرهٔ خواکښے نزدے چرته اوسیږی د غه سنګلے
مالوچ مالوچ څادرد ے پرے دواړو غوږونه لے
هر چا سره آشنا دے که چا نهٔ دے پیژندلے
آئین کښے د پښتو ژبے خو هر چا دے لیدلے

کوهرهٔ د پښتو په بناڅته لاسو کښے نګین دے
چاویل چه دا شاهین دے

وړومبئی خبرے

د غرۂ په سر دگلو ویش دے

یارے درویش دے مینځے گل به راوړینه

غرونه د نړئ په هر وطن او هیواد کښے شته دے - او ډیر ځایونه ورکښے داسے هم دی چه د هغے غرونو ته مذهبی لوئے حاصله ده -

نو د پښتنو غرونه، غرونه دی - ځکه چه دا د دوئ د تاریخ او کلتور روښانه بابونه دی ځکه چه د دے غرونو په سرونو دوئ تل عمری علیم ته مورچے شوی دی -

د غه وجه ده چه پامیر، سالنگ، ځکدلک، بولان، سلیمان، شوال، لواغر خیبر، پسین تنگے، چونترہ، مابل، امبیله، سرکاوئ، ایلم، چونوسر، لنډاکے ملاکنډ کامرانے او لواړئ یواځے د غرونو نومونه نهٔ دی د هاغے اوږدے اونیزی مبارزے تاریخ دے - کوم چه د دے وطن ساهو پچیانو د غلیم سره کړی دی -

د دے غرونو د دنگے څوکے، یواځے څوکے نهٔ دی - د دے څوکو په لمن کښے د پوهے، شعور، احساس، علم و عرفان، ننگ، ناموس، پت پښتو او د انسانیت داسے گلونه ټوکولی دی - چه یواځے ځان ته نه نورو ډیرو قامونو ته ئے د ساهو څرونو څواک لاره سمه کړے ده - او هم دغے گل ورینو خلقو د خواؤ شا نه واخلے تر لرے لرے پورے د علم، پوهے، رورولئ او خدائے پرستئ گلونه وروڼی دی - او د غه سیمے ئے پرے گل و گلزار کړی دی -

نن که په سندرو، ټپو، چاربیتو او نظمونو کښے ډغه د فخر او افتخار د ے
څوک یادوے او ستائے شی نو په ځائے ستائے شی - ځکه چه هم ډغه څوک د
دشمن دپاره مورچے، د علم او عرفان د خاوند انو دپاره چیلے، د مذهبی عبادتونو
او سرودونو دپاره دگډا، ټخا، میلو او انټرونو ځایونه پاتے شوی دی. دلته
جادوگرو جادو پوخ کړے، جوگیانو جوگ پوخ کړے، بن باسیانو "بن باس" تیس
کړے دے - او د دے لمنو کښے د یر مذهبونه او تهذیبونه تیر شوی دا تیر شوی دی - او
د ښل وخت په مناسبت ځے دیتائست، بنکلا او امن یو رنګینه جهان جوړ کړے
دے چه نهٔ ورکښے څوک غاصب وو، زورګیر وو او نهٔ ورکښے څوک سامراج وُو. که
یو پلو ته د اګل ورینے څوک پخپله د عظمت او لوئی ډک دستار ونه لری، نو بل پلو
ته د دے د لمنو استوګن نو میالے اولس د څوند په هر ډګر یو بنکلے او ساهو
څونډ لری - او هم ډغه میر ے نے اولس دے چه د اګل ورینے څوک پرے په ځائے
فخر کولے شی -

د دے ګل پوښه زمکے د اوسیدونکو څیره ډیره ډیره او ډیره درنه
ده او دومره چاقه ده چه د دے سړه سره نورے دوه ډیرے څیره اوستا
او سنسکرت نن د مینځه لاړے او دا هم ډغه شان صحیح او سالمه پاتے ده او
نن هم دا د دغے دواړو څیرو مینځ کښے "یو پُل" کار ورکوی - د څیرو او کلتورو محققین
که هر څومره ډیرهٔ چاوُدون او کړی او په اوستا او سنسکرت او یا د دوئی نسته
پیدا شوُ څیرو جاج اخلی - خو تر څو چه ځے څل پام، پلټنو طرف ته نهٔ وی
راګرځولے، او د دے ګل ورینو څوکو د میشته څونډ څواک ځے د ښل تحقیق موضوع
نهٔ وی ګرځولے نو هغوئی په مینځ کا میابه نتیجه نهٔ شی رسیدلے، ځکه چه د
جنوبی او وسطی ایشیا په مینځ پروت او قابض د اوګړے هم د دغے تحقیق اولنی

پوړۍ دی ۔

هم دده ځانګې دا اولس دی چه تر یونان ، ایران او هندوستان ـ ئې کلتور، لکه د صحرا د کلونو ځانګې په ځانګې نوښتې پروت دی ۔ کچرې هم په صحي ډول دده ملکونو د زوړ او خورو ورو کلتور جاج وا غښتی شی ، نو معلومه به شی چه هم دغه " پښتنی تهذیب " " تمدن " کار کړی دی او د کلتور اونه ترې جوړه شوې ده ۔

دا کتاب په یوشمیر مقالو او مضمونونو جوړ کتاب دی چه څه چاپ دی او څه ناچاپه ۔ دده هره یوه مقاله ددې پرېنالی اولس د څه ، ته څه عظمت علم او عرفان او تاریخ یو سرک لری ۔ ددغې په رڼا کښې په دې مخکښې پوړه کار کیدلے شی او پکار ده چه پرې اوشی ۔ زهٔ پخپله غواړم چه په دې او داسې په نورو و ډیرو شیانو مخکښې پرېمانه کار اوکړم ۔ خو لکه څرنګه چه معلومه ده چه که یو پلو ته داسې کار ونه ډیر وخت غواړی ۔ او په یو سر د کلونو کار ونه نهٔ دی ۔ دا یو " تیم ورک " وی ، نو بل پلو ته دې له دومره زیات " مالی وسائل " پکار وی ، شمنی پکار وی ۔ چه په ارتې متې پرې کار اوشی ۔ او زهٔ ددغې محرومه یم ۔

زما په زړهٔ کښې دډیرې مودې راسې دا ارمان په ټوپونو دی چه د کښې د پلار د بیلې بیلې سیمې په تاریخ ، تهذیب ، تمدن کلتور او اولسی ادب بیل بیل کار اوکړے شی ۔ او دغه شان زمونږ د قامی تاریخ ټوله ورکه اوپتې کړیٔ یو ځانګې کړے شی او یو خوندور قامی تاریخ ترې ساز کړے شی ۔ ځکه چه که زمونږ محترم او پوهه مورخین د پښتنو تاریخ یا د صوبه سرحد تاریخ اویکی هم ۔ نو دغه لوئی دریاب په اسانه د را ټینګولو نهٔ وی ۔ او ډیر داسې شیزونه ترې

د معلوماتو کمی په وجه پاتے شی - چه هم دغه د اصلی اورشتونی تاریخ کلک او مضبوط لے کړئ وی - اوکله چه داکړئ پاتے شی نو دغه نور تاریخ صرف د باچا هانو د تلو راتلو، جنګ جګړو، کیتے او بیلات قیصه شی - او د اولس هغه خلاصه تاریخ چه ورته د دوئ د زمکے او د دوئ ژوند ژواک وپیلے شی، مونږ دهغے نه ناخبره پاتے شو -

زمونږ دکلو بانډومیدا تونو، دشتونو، غرونو او سیندونو نومونو سته که اوکتے شی نو دا نومونه هم ځانته یو ژور تاریخ لری او دومره ژورچه که سړے وړپسے لیست اوګوی نو تاریخ د زرګونو کلونو عظمت ته رسی - او دیس د معلوماتو دک خوندور بحثونه ورکښے موندے شی -

مونږ په درنو، دښو کتابونو او لویو لویو محققینو او لیکونکو پسے ګرځو او دهغوئ په طمع یو - دیره ښه خبره ده خکه چه دغه ستړکه ور لیکوال دیره پیښه، جذبه او مستند ډول کار کوی - خو تر د وخت د حالاتو سره هر څه به لیږی رابدلیږی - تر زمونږ ساهو او سوچه شفاهی ادب پسه "فټ پاتھ" د کتابګو په څیر پروت دے - که یو طرف ته دغه کتابګی د دیرو کم نالوستو کسانو د زړهٔ آوز دے - چه دهر قسمه "بناوټ" نه پاک آواز دے - نو بل طرف ته په دغے "کتابګو" کښے د څلے څلے سیمے ټپے، چاربیتے، رباعیاتے نظمونه، نعتونه، غزلونه او قیصے وی - چه مونږ په "لوئ ادب" کښے د دغه نه بے خبره او محرومه یو - دا کوشش په کار دے چه په قامی ډول دغه "کتابګی" "فټ پاتھ" نه راجمع کړے شی او سمبال کړے شی او دغه شان زمونږ دا خوند ور ادب د ورکیدو و راسے - پچ شی، حقه خبره داده چه دا نمونه "کتابګو" کښے دیرے د کار خبرے دی -

بله داچه د چاپان د "تیپ" په برکت که نور و قاموسونو او یا نورو څیزونو هر څومره ترقی کړے ده ، کړے به ئے وی - خو پښتو او پښتنو دپاره یو "لوئی نعمت" ثابت شوے دے - ځکه چه هم ددئے "کیسټو" سره پښتنو عوامی شاعرانو دخپل زړهٔ براس په ډیر ښهٔ څیر ایستے دے - او داسے ئے ایستے دے چه وس ئے پرے کړے دے - سړے حیران شی چه دا پښتانهٔ شاعران څومره ډیر دی ، څومره تیز دی - دے خوا یوه واقعه او شی څوک ترے لاخبر وی او څوک لا ، نه ، خو پښتون شاعر پرے دسان او آوان یو خوند ور کیسټ وک کړے وی ، او صبا ته په بازار کښے په لاس ورتلے شی - هم دے کیسټو کښے هاغه نایابه ټپے ، چاربیتے ، ټوټے ټقالے ، قیصے ، حادثے ، مسئلے ، لوبے ، سندرے ، اړونه ، دوړے شاعرانه مقابلے او اسلامی خبرے وی - چه سړے ورته گوته په خوله پاتے کیږی -

ما دخپل وس په مناسبت ددئے "کتابگو" او ددئے "کیسټو" دراجمع کولو څه نیمگړے خوندے کوشش کړے دے - او هم په دے غرض چه صبا ته به بیا داپه لاس نهٔ راځی ، او دا قیمتی سرمایه به دمینځه اوځی ، خو هغه دچا خبره چه " هئی د نن-پخیله هغه پیتی " دیو سواره به څه دوړه وی - په کار ده چه غټے غټے ادارے دے څیزونو ته پام او کړی دا راجمع کړی او بیائے د حروف تهجی په ډول یو ښکلے "کیټلاګ" جوړ کړی چه په وخت د ضرورت په کار راشی -

خبره او ږدیږی صرف یو مثال ورکوم او هغه داچه دامریکے د سپریم کورټ جسټس ته چه د قیصه خوانئی په بازار کښے په یوه روپئی د "سکندر او دوبنانے" قیصه په لاس ورغلے وه - د هغه کتابگے څهٔ شو ؟ او ددے قیصے

د تاریخی عظمت، د پښتنو او یونانیانو د رشتې اوخپلوئ واقعات پخپله لوئے تاریخ دے ۔ او دا قیصه د ومره مشهوره وه چه مسز میری بریډلے دا د "زن" نوے جینئ نه پخپله اوریدلے وه ۔ چه تحریری ثبوت ئے لرو ۔ خو اصل څیز نهٔ مومو ۔

دغه شان د پښتنو په زمکه به څومره رسالے او اخبارونه وتی وی ۔ او اکثر داهاغه خوار ادیبان اوباسی چه که څهٔ هم مالی قدرت نهٔ لری او شمن نهٔ وی خو د زړهٔ غنیان وی ۔ د خپلے ژبے او ثقافت سره ئے مینه وی ۔ په څه نه څه شکل څه بنه بنه رساله یا اخبار د خپل وسی په مناسبت اوباسی ۔ بیا ئے ترے څوک اخلی نه ، او دغه شان د دوئ جذبه د مالی مجبوریئ د لاسه ختمه شی ولے ؟ ځکه چه پښتانهٔ د خپلے ژبے او ژبے څه په څل قدر هم لانهٔ دی پوهه ۔ بل طرف ته په ملک کښے په هر یوځیز د "اجاره داریئ" یو ناوړے څادر نور دے ۔ په صحافتی دنیا کښے هم دغه لاښه ده ، یوځو اخبارونو ټول ماریکټ په لاس کښے نیولے دے ، او بنکاره خبره ده چه د لوئے او ښے د لاسے وړوکے پوهے نهٔ زرغونیږی ۔ هر څوکه دغه رسالے او اخبارونه د بے وسئ د لاسه د مات کیدل ځائے شی ۔ خو بیا هم دغه راجمع کول په کار دی ، ځکه چه دا د کوے کوے علاقے نه وتلے دی ، هم دغے علاقے ترجمان ادب تاریخ او ثقافت ورکښے وی ۔ ماته یاد شی چه په ۱۹۶۵ء کښے زهٔ په پنجاب یونیورسټئ کښے وم ۔ په لابریرئ کښے راته یو رساله په لاس راغله غالباً "ژوب" یا "بدوب" نوم ئے وو ۔ ما راواغسته ۔ د پښتنو په اصل نسل ورکښے دیر ښهٔ مضمون وو ۔ او د دے نه علاوه ورکښے د بلوچستان په باب پاخهٔ او کوښتلی معلومات وو ۔ او هم دغے رسالے زهٔ د بلوچستان د عام حالاتو نه خبر کړم ۔

دغه شان د پښتنو ننګیالئ زمکے ته د اسلام راتلل دی په دے زمانه خیال پوره او مستند کار، نه دے کړے شوے۔ ځکه خو ځینے مورخین داوائی چه پښتانه د اسلام نه مخکښے هم مسلمانان وُو۔ ځوک وائی چه د اچړے هم "غیر مسلم" نه دی پاتے شوی۔

ځوک وائی چه دوئ د اسلام نه مخکښے نه هندوان وو، نه بدهیان وُو۔ اونه نورځه، صرف اوصرف مسلمانان وُو۔ خو ثبوت که ترے غواړے۔ نو "سُدم ته شین دے" دیو قام تاریخ لیکل څه دکوتے دَو نه دے۔ او نه د تاریخ ته د خوشامندو ضرورت وی۔ اونه د دالکه د مغلو دبار راتو" د خوشحالو لو دپاره لیکلے شی۔ آرکیالوجی نشته، انتروپالوجی نشته او بیا په تیره تیره فیلالوجی نشته او د پښتنو تاریخ لیکم۔ صیب د تاریخ نه لیکئ افسانه لیکئ۔ افسانے له د تاریخ نوم ولے ږدئ۔ او د غه شان په دے افسانو سره تاسو د پښتون تاریخ او ثقافت ته زیان رسوئ۔

بله داچه تاسو قبول نوره په دے خرڅ کوی چه آیا دوئ آریا دی، بنی اسرائیل دی اوکه څه نورځه؟ هرڅه چه وُو او هرڅه چه دی خو صرف یو څیز ترے قام جوړ کړے دے او هغه د پښتو ژبه۔ د دے نورو څیزونو په ځائے د دوئ په ژبه تحقیق په کار دے، ځکه چه کوم ځائے د تحقیق په لړ کښے هم آوازفیل شی نو دا صرف ژبه وی چه د غه ورکے کړئ پرے مونږ لے کیدے شی۔ خو څومره د افسوس خبره ده چه په تیرو کلونو کښے په پښتو دوه کانفرنسونه اوشول چه یو ورکښے په عالمی سطح وُو۔ او نړیوال کانفرنس وُو۔ خو په دواړو کښے په یو کښے هم په "پښتو ژبه" څه مقاله نه وه او د غه شان دا مونږ یو څیز بے څیرتے پاتے

شو - کیږي په ژور نظر صرف او صرف په ژبه تحقیق اوکړي شو نو پخپله به
دوایه ښکاره شي چه بنی اسرائیل او آریاګان نو پرونې خلق دے پښتو
خو ډیره لږے د آریاګانو نه په زرګونو کلنو مخکښے په "دراوړی" او "منډاړی"
ګروپو نو کښے جوته په نظر راځي او خبره به پاکه شي چه لکه څرنګ چه په
پښتنو کښے د نړۍ نور ډیر قامونه یوځای شوی دی او لکه د کنړو، ولو، خوړونو
او سیندونو د ے آباسین ته ګډ ارشوی دی - پښتو ژبه ئے څله کړے ده
او پښتانهٔ بلل شوی دی هم دغه شان ورکښے څه بنی اسرائیل او آریا هم
ورګډ شوی دی - او نن ورکښے دا تمیز نهٔ کیږي چه آریا ورکښے څوک دی او
بنی اسرائیل پکښے کوم یو دے، څوچه پښتو وائی، یا په دے وطن میشته
دی او ننګونه پے کوی - ددے د ترقئ او بقا خپمانه کوی - پښتانهٔ دی.
هغه که ډیری مزدوری دے اوکه د بنګلو او موټرو څښتن دے - ټول دلاس
یو شان ګوتے دی -

زهٔ د فضل ربی راصح منته کوم چه هغوئ پخپله منډه ترړه
دا کتاب د ګرانو لوستونکو مخے ته کړو - او ددے په سرخنړه او چاپ کولو
کښے ئے پوره کړاؤ او تکلیف ټیر کړو -

زهٔ د پښتو او اردو ژبے د پوهه، باشعوره او حساس لیکوال
بناغلی عبدالکافی ادیب ډیره زیاته منته کوم - چه په ډیر رونړتیا
او په ډیر لږ وخت کښے ئے په دے کتاب څله قیمتی رائے اولیکله او دے
دواړو کسانو نو زهٔ ددے جوګه کړم چه په ډیر احترام ئے ستاسو درامنهٔ

حضور ته وړاندے کړم -

زهٔ "شاعر امن" محترم پیر کوم هم دیره منته کوم چه هغوئ دخپلو احساساتو اظهار په نظم کښے کړے دے - ما ته څان معلوم دے چه څومره یم - خو دا د پیر صیب خپله لوئ ده او لوئے او رو له لوئ ورکوی - دغه وجه ده چه زهٔ دا نظم دیو مشر "شاباشی" په توګه د خپلے بنه بختئ د پاره چاپ کوم -

په درناوی

محمد پرویش شاهین

وائس کنټر

اکیډیمی آف سواتی کلچر

منګلور

(سوات)

۱۹۸۹-۲-۱

پښتو

پښتو یوازے د پښتنو ضابطهٔ حیات ، وطن ، ژبے او علاقے تہ نهٔ شی ویلے بلکه په سابق ریاست سوات کښے یو دوی اوښتہ دا سے هم تیره شوے ده چه هغے تہ "پښتو" ویلے شی چه هغے کښے هیڅ قسم قانون او اصول وغیره نهٔ وو - او دا ظاهره خبره ده چه کوم ځائے حکومت نهٔ وی ، نو هلته به څهٔ قانون وی - او چه قانون نهٔ وی نو دا سے علاقے تهٔ د انصاف عدل مساواتو او امن طمع کول عبث وی -

هم دا دوی د سوات په علاقه کښے د حکومت قائمیدو نه مخکښے دوی ووچه ورته د پښتو زمانه ویلے شی ، لکه څنګه چه د دنیا په تاریخ کښے یوه ښکته او زمانه د حضرت عیسیٰ علیه السلام د تاریخ پیدائش نه مخکښے په قبل مسیح یا په ق - م ویلے شی ، هم دغسے د سوات په تاریخ او اولس کښے د حکومت نه مخکښنۍ ښکته د پښتو په زمانه ویلے کیږی - لکه په جرو او جمانو تو کښے چه په یوه زړه خبره یا ټاټے مشران څهٔ بحث شروع کړی - نو مشران کښ اخو نه وائی داستاسو د یادو نهٔ ده - دا د "پښتو" د زمانے خبره ده یا لکه وائی سړیه هغه هسے نهٔ زړیږی ، کنه "پښتو" د ورځو یا زمانے سړے دے - یا که په یو ځائے کښے څهٔ خاص بے اصولو او بے قانونه کار اوشی چه د کښے د ظلم یا زمانے اوزور استعمال شی نو په دا سے موقعو وائی فلانکیه تهٔ به وائے چه هسے "پښتو" ده - دائے په زړهٔ کښے هډو راځی نه چه چرته حکومت هم په دے ملک کښے شته یا که یو دوه کسان په څهٔ معامله کښے

وران شی نو یو ورته وائی خامنه ! دا څهٔ "پښتو" نهٔ ده په منځ کښے حکومت شته عدالت شته - دا په زړهٔ کښے مهٔ راوله چه کوشے " پښتو " ده ، په زور به ئے اوخوړے -

دے دوی دا ختتام په بارهٔ کښے معلومات شته چه دا دوی کله ختم شو خو دا معلومول گران دی چه دا دوی شروع شوے کله نه وو - دا ختتام په بارهٔ کښے اگرچه مشران دیوبل سره څهٔ فرق لری - خو دغه فرق څهٔ خاص فرق نهٔ دے - او هغه دا چه څوک دا دوی په ۱۹۱۵ء څوک په ۱۹۱۷ء او څوک ئے په ۱۹۱۸ء ختموی -

هم دے تاریخونو نه مخکښے دوی د "پښتو" په دوی یادیږی - ولے ؟ چه هم په دے تاریخونو کښے په سوات کښے په اول ځل حکومت قائم شهٔ - او هغه هم دے ضرورت په وجه چه خلق د "پښتو" دے دورنه دیر تنگ را غلی وو - او دا ئے غوښته چه یو پائیدار او مضبوط حکومت په دے علاقه قائم شی - او خلق د خان خوانین د زور زیاتی او ظلم نه خلاص شی - ولے ؟ چه هم دے خانانو دا زمکه په خپلو سور تنوی کړے وه - دے وجے نه دے دورته د "خانانو دور" هم وئیلے شی - دے دوی په بارهٔ کښے یو کس دوه دا هم وائی چه دا دور په په سوات کښے د ۱۹۰۱ء نه شروع شوے وو - او څوک ئے د سید و بابا د وفات نه ابتدا کوی - خو زهٔ د لته د تاریخ په امداد د سوات په زمکه د حکومت لټون کول غواړم - چه هغه به په خپله په دے بارهٔ څهٔ نه څهٔ ذمه لار رنړه کړی -

د سوات په زمکه د پښتنو د آبادیدو نه مخکښے د بدهمت د منو نکو قبضه وه - د دوئی دا قبضه او حکومت سلطان محمود غزنوی ختم کهٔ او د سلطان د حملے په وجه او په فتح موهند و په دے علاقه د راجه گیرا واکدار

ختمه شوه - سلطان د لته د سواتی قبیلے پښتانهٔ آباد کړل - هم دے خاندان په دے علاقه د یوسفزو د راتلو او میشته کیدو پورے حکومت کولو - په دوټی کښے د یو سلطان نوم سلطان پکهل وو - چه دارالخلافه ئے د سوات منګلور کے وو هم دا هر کله چه یوسفزی د بابا ملک احمد په مشرئ کښے په سوات راتلل نو په دغه وخت کښے د سوات سیاسی حالت ځنډ بیل غوندے وو - لکه مرکزی سوات د سلطان اوو بیس سره وو - او باقی علاقه د ملک حسن په لاس کښے وه - هر کله چه یوسفزو په سوات حمله اوکړه نو په دے جنګ کښے د سلطانو اوبیس عزیزان، ټیلوان او د سرسري نکه شاه اوبیس، فرخ زاد او میر سنجو سواتی وغیره مړه شول -

د یوسفزو د لته د میشتهٔ کیدلو د ځنډ ورځے ورسټو په دے طرف بابر د فتح او جنګ په نیت راغے - په دے وخت کښے د سوات د مشرئ واګے د ملک احمد او شاه منصور په لاس کښے وے بابر د یوسفزو سره د جنګ په ځلئ صلحه او روغه ډیاته غوښ کړله - دے وجے د لویه او درنه قبیله په لاس کښے د نیوړ دپاره د شاه منصور یوسفزی سره د ویښے رشته کول ښه ښکاره کړل - او د هغهٔ لوړې ډ مبارکه وادهٔ کړه -

د مخه باچا اکبر په ورځو کښے په دے علاقه کښے ګجو خان، مصری خان او کالو خان یاد خانان وو او هر کله چه ورځے د باچا جهانګیر او شاهجهان راغلے نو د هغوئ په دور کښے مشری د شیر خان، باکو خان، لکے، حمید او د کاچو وه -

او چه د اورنګزیب عالمګیر دور شروع شو او بیا چه د نوشحال خان او اورنګزیب تعلقات خراب شول او نوشحال خان د اورنګزیب خلاف پښتانهٔ یو کول او د هغوئ امداد حاصلولے غوښتل نو چه هر کله سوات ته هم په دے نیت راغے نو په دغه وخت د لته ملک سنګر یا میان خان او ما نکے وُول - چه د سوات مشران خانان

او مثکان وو - لکه خوشحال خان وائی -

یو میان خان وو بل ما شکے وو بل ستګر وو
یو سنګر شه خو په یوهه کښے بهتر وو

خوشحال نیکهٔ د لته دکاچو د نسبی هم بحث کوی لکه وائی -

دکاچو نسبے نه خان دے شهٔ مشک دے
کا لکوچن دروغژن غښے د هدک دے

دے خانانو سره یو بل خان هم دیاد وړے دے - او هغه ملوخان یوسفزے دے د چالورچه د صدر خان څخه موړ وه - او خوشحال خان ته وادهٔ شوے وه - د خوشحال خان غوندے غټ سړی سره رشته هم د غټ سړی کیدے شوه - نو یقیناً به ملوخان هم شه درونډ او عزت مند سړے وو - دے وادهٔ په بارهٔ کښے خوشحال خان داسے وئیلی دی

ملوخان د وادهٔ کار د ما په زړهٔ کړهٔ
زهٔ په کور، د صدر موسے د وادهٔ کړه

خو دے طاقتو نو سره په دغه ور څوکښے په سوات کښے د مذهب په نوم هم یو غټ او درونډ طاقت موجود وو - چه هغه طاقت د شیخ میان نور وو - څوک چه د اخوند درویزه مرید وو - دیو سفزو پیر وو (د پیر بابا او اخون درویزه په سیاسی پوزیشن به جدا بحث کوم) او درحقیقت په سوات کښے خوشحال د هغهٔ دلا ناکامیا به شوے وو - ځکه چه خانانو هم د دهٔ نه بغیر هیڅ نه شو کولے - او کهٔ چرے خلاف ئے کولے - نو خانئ ئے ختمیدے - ځکه چه عوام تیول د مذهب په نوم د میان نور منکونکی وُو -

دے نه وروسته و چه دور ص کله د سکهانو راغے او بیا سید احمد شهید د دوئی د چټګولو د پاره د علاقے نه وراغے نو بیا دلته مختلفو خانانو مختلف ځایونه

او کلی یه قبضه کښے لرل - چه په دوئ کښے یا د سړے د پښتار مقرب خان وو -

نوچه هغه کله فیرنګی سکهان د منځه ورک کړل او په ۱۸۴۹ء کښے سرحد طرف ته د غلل نو سوات، بونیر او چملے ته ے هم ستړګے خړے شوے - په دے علاقه د سید صیب د جهاد عزم او همت لا پروت وو - خلقو فیرنګی ته هم په دومره ناکاره نظر او کتل څومره چه ے سکهو ته کتل - په دے وخت د سوات په زمکه یوبل لوے شخصیت آواز ه وه څوک چه د سید و د غوث یا صاحب سوات په درانه نامه پیژندلے شی - هم دوئ په دے وخت کښے خلق د فیرنګی د ارادو څخه خبر کړل - او دوئ ته ے دیوکید و د پاره اپیل او کړه چه هغه خلقو سنطوس کړه - او د دوئ په وینا خلقو په اول ځل په سوات کښے یو شرعی حکومت قائم کړه - چه د هغے امیر د ستهانے سید اکبر شاه مقرر کړے شو - په سید اکبر شاه کښے د یوښتہ امیر تیولے خوبئ موجودے وے - او یوښتہ تورپالے مجاهد وو - نو نفوس اچه د ے هم په هغه وخ حق اورسید په کومه وخ چه د هندوستان خلقو د فیرنګی د غلامئ جغ د خپلو څټونو نه کوزاوه کړه یو فیرنګے لیکوال سر بیرټ لیکی - " که څرے د سوات شرعی حکومت او د قبائیلی مجاهدینو سردار سید اکبر شاه څوتے وے نو د ۱۸۵۷ء د جنګ آزادئ نقشه به څه بل شان وه

د امیر صیب د وفات سره په سوات کښے د شرعی حکومت هم ختم شو - د بل امیر یا حکومت د پاره لاښه کوشش نه وو شروع کړے شوے - چه په دے کښے فیرنګی په حمله بونیر حمله اوکړه او په ۱۸۶۳ء د ا بیلے مشهور غزا شروع شوه - چه د ا د انګریزانو او پښتنو په مینځ کښے د تهولو نه لوے جنګ ګڼلے شی او زه ے جنګ آزادی ثانی ګڼم - (د تفصیل د پاره او ګورئ زما مقاله " د ا بیلے غزا د تاریخ په رڼا کښے "
میا شتیزه پښتو جولائی اګست ۱۹۷۰ء)

دا جنګ د سوات، بونیر، چملے، سټانے، دیر۔ باجوړ او مجاهدینو په شریکه کړے وو۔ دا یوه اسلامی غزا وه۔ ځکه پکښے ټول پښتانه د ډیره شوقه او مینه شامل شوی وو۔ آخر د پوښ او لوئے جنګ کولو ورو ستو دا جنګ د فریقینو په مینځ کښے په صلح خوږ شو۔ او فیرنګے واپس مردان ته لاړ شو۔

نوچه هجري کله په ۱۸۷۷ء کښے سید و بابا وفات شئ۔ نو دا میرئ د پاره د سید و بابا د زوئے میاں ګل عبدالخالق او د سید اکبر شاه صیب زوی سید مبارک شاه په مینځ کښے د اقتدار د پاره رسه کشی شروع شوه۔ لیکن یو ورکښے هم کامیاب نه شو۔ نو بیا هم په دے وخت کښے د سید و بابا د واړه زامن د مذهبی اقتدار خاوندان وو۔ او خلقو د دوئی ته په درنه ستر ګه کتل۔ نوچه هجري کله په ۱۸۹۲ء کښے عبدالخالق صیب وفات شئ۔ نو په سوات کښے د مذهبی شری هم ختم شوه۔

دے برے یک ځله د اندازه ګڼی چه په سوات کښے دیوسفزو د اتلانو واخله تر ۱۸۹۲ء پورے څوک دا سے یو حکومت هم نه دے قائم شوے چه هغے ته موږ په اصلی معنو کښے حکومت اووایو او دا لاځکه چه د سوات په زمکه د سکندر اعظم د حملے د وخت را سے د هغه و یو هم دا سے حکومت نه دے پاتے شوے۔ چه په هغے کښے سیاسی وحدت موجود وو۔ ګڼ چرے په سوات کښے سیاسی وحدت موجود وے، نو سکندر اعظم به په یوسوات کښے په درئو مختلفو مقاماتو د مختلفو راجګانو سره ولے جنګیدلے

د ۱۹۱۴ء پورے د زمکه هم د غسے بے باچا چلیده۔ چه آخر په دے وطن کښے یو دا سے لوئے شخصیت پیدا شئ، چا چه په زړه کښے دے او لس د بنیګړے او آرام ژوند د پاره پوښ خوږ لرل۔ د غه لوئے شخصیت تاریخ د سند اکئ مُلا په نوم پیژنی چه خپل نوم ئے احمد جان وو۔ ځوک چه یو جیّد عالم وو او د هندوستان د لوئے مدرسے دیوبند فارغ التحصیل وو۔ او د چا په زهن چه د حضرت شیخ الهند

مولانا محمود الحسن صیب د مجاهدانه خیالاتو ژوړ اثر وو ۔ هغوی دا نوښته چه د سوات دا ځان ځانی ختم کړے شی ۔ ولے هغهٔ ته یواځے دا کار کول ګران وو ۔ ولے؟ چه د خانانو په دے دور کښے د ملا احمد جان خیره چا مثلے شوه، دده وے ته مولوی صیب په خانانو کښے ځان له دمګړی پیدا کولو په فکر شهٔ ۔ او آخر دا ډیر ځان حبیب خان د هغهٔ د تجویز سره اتفاق اوکهٔ ۔ او آخر دروئ په کوشش خلق دده تجویز سره متفق شول ۔ ولے؟ چه خلق "پښتو" دده دور نه په چغو سر وو ۔ د مشرئ پیشکش مولوی صیب ته په خپله او شو خو هغوی دا قبول نه کهٔ ۔ بلکه د ځان په ځائے یه ۱۹۱۵ء کښے د ستهانے سید عبدالجبار شاه په دے وجه باچا تسلیم کهٔ چه یو خو ده هٔ په مشرانو کښے سید اکبر شاه مخکښے هم په دے علاقه امیر پاتے شوے وو او بله دا چه دے خاندان د سید احمد شهید صیب سره په غزا کانو کښے ډیره غټه برخه اخستے وه ۔ خو د سید عبدالجبار شاه صیب دا حکومت هم ټینګ نه شو ۔ او د مذهب دا اختلاف په وجه هغهٔ د سوات باچا هی پریښوده ۔ او آخر دا زمه واری د میاں ګل عبدالودود چه د سوات د بابا ؒ نسبے وو ۔ په لاس کښے په ۱۹۱۸ء یا ۱۹۱۷ء کښے ورکړے شوه ۔ او پس دده په سوات کښے د "پښتو" دور ختم شهٔ ۔ او حکومت قائم کړے شو ۔

د سوات زمکه ته ډیر سفزو د راتلو او په دے زمکه د هغوی ؒ قابض کید و په باره کښے صرف دا ډیوه فقره په لاس راځی چه ملک احمد بابا سردار یا مشر او مثلے شهٔ ۔ او شیخ ملی بابا د هغهٔ وزیر اعظم جوړ کړے شو ۔ شیخ ملی بابا کهٔ یو طرف ته دده خلقو و یش اوکهٔ ۔ نو بل طرف ته ئے په دے علاقه کښے څهٔ دا سے سزا کانے هم مقرر کړے وے ۔ چه هغه به مجرم مانو ته په مجرمه کښے ورکیدے شوے ۔ خو دا څهٔ باقاعدهٔ حکومت نه وو ۔ البته د پښتو ضابطه حیات د لاندے خلقو شهٔ ژوند تیرولو ۔ د هغے نه وروسته

(اکبر، جهانګیر، شاهجهان او اورنګزیب تر ورځو پورې هم خلقو پښتو (ضابطه حیات) کلکه نیولې وه - او هم دغه وجه وه چه ژوندۍ ټولنه نه ټوټه په آرام تیریده - خو هر کله چه دره نه وروستو خانانو د خانۍ خوئ پریښود و - او په غلطه پښتو په خپله سر شو - نو په ټولنه کښې د مخلوط پښتو رواج شروع شو - حکومت هم هغسې هم نه وو - صرف دغه ضابطه حیات دهغو پاره کوتلې قانون او اصول وو - خو چه دهغه نه ټولو پوه اوګړه - او دې علوی پښتو د سفلی پښتو رنګ واخست نو خلقو ژوند او کړان ګران شو -

د دې دور خرابۍ :-

ما مخکښې اووئیل چه کوم ځای قانون نه وی ، نو هلته به ټوټه امن ټوټه انصاف او ټوټه خوښی وی - خانانو د خانۍ خوئ پریښې وو - معاشره دهر قسمه بدو ډکه ټوټه وه - یو سړے د بل سړی سره او یوه قبیله د بلې قبیلې سره به هر وخت مشت ګریبان وه ، زوره وُر به دا ډے کولے - د کمزورو کورونه به تالاګیدل - او سوزول کیدل به - خانان په دولت جمع کولو کښې بوخت وول - د انسان دوینې هیڅ قدر و قیمت نه وو - ژوند او ټوټه به د هر ټوټه د فیصلو واحد حل وو - خان به د خپل وقار او پوزیشن د پاره د لږ سا مسئله - په جنګ جګړه کښې به خټیدل عام خلق ، او ګټه به ئے د خان وه ، چرګه به د جولا ټله او ملازه به د خان کیده - بیګار په خلقو لار وه - د ټیکے به په یو بل دا ډے کیدل - تیار فصلونه او میوے به تالاګیدے - د ژیاوی تعلیم ټوټه بندوبست نه وو - د زمکے ټوټه تقسیم نه وو - کومه ډله چه به زوره وره کیده - زمکه به د هغو په قبضه کښې راتله - د دے وجے نه هیڅ چا دے طرف ته توجه نه شوه کولے - په ورو ورو ستو ورځو کښې نو پښتو دے حد ته اورسیده چه د میلمه او کور به فرق ورکښې ورک شوے

وو - په زور به یوځینې حاصلول وو - دهر چا نه چه به حاصلیدے شئ - په دے دور کښے کله مړے وے ، نو صرف د خان خوا ښین وے - غریب سړے پکښے توے وو - لکه واقعی سه -

خانان به یا سره خانان وی

په مینځ کښے توے شی نوکران ے زیر کلونه

دے دور خوبئ :-

دا صحیح ده چه په دے دور کښے هم خو اظلم زیاتے وو خو دا دوی دومره ټوره دوی هم نه وو - چه کوندے په خلقو کښے د پښتون والی هیڅ یو صفت پاتے نه وو - ځینے داسے خو ښئ پکښے وے چه د هغے په وجه ځنے خلق د غه دور په د غه خیر و پسے ارمان کوی - او هغه دا چه میلمه دوستی عامه وه - د خلقو زړونه ارت وول - ژوند ساده وو - خوراک ساده وو - قول اوڑ به چه به اوکړے شی ، بیا به د هغے د پوره کولو د پاره پوره کوشش کیدے شئ - که دنیا وی تعلیم نه وو خو په دینی تعلیم به ډیره توجه ورکیدے شوه - جماتونه ودان وو - د ټولونه غټه خبره پکښے د ناموس وه - د زنا واقعات به ډیر کم وو او که څرے اوشوبه ، نو مجرمان به په هغه ساعت و یشتلے کیدل - خان ته به د دارو او جنګونو د پاره د سړو ضرورت وو - د دے وجے نه د نورسړی به پکښے ډیر عزت کیدے شئ - او خان به د دا سے خلقو ډیر قدر کاوو - د یتیمانو او کونډو او نورو به خاص خیال ساتلے شئ - لکه یوه میرمن واقعی - سه د موږ میکی نه کونده ښئ یم

ملکانان به زکوٰۃ تونه را کوینه

خان به د جرګے نه خلاف هیڅ خبره نه کوله - او چه جرګه به یوے خبرے ته ښئ اووئیل نو په هغے به عمل وو - او کومه خبره به چه جرګے رد کړه - خان به نه شوه کولے - خلق د وعدے ډیر پابند وو - په خان کښے به د دولت د حسول نه

نه علاوه هیڅ قسم بد ئی نه وے - د خلاق حالت به ئے اوچت وو - میلمه دوست
به وو - پناه ورکوُنکے به وو - په دے دوره کښے به دستانه دار وخلقو د عزت خاص
خیال ساتلے شئه - د جنګ جګړو او شړو تښتا په وخت کښے به زنانه ؤهم د دوئی کره پناه
اخستله - خلقو به خپل مانښونه د دوئی کره (پښتودل - ملایانو او امامانو ته به په درنه
ستر ګه کتلے شول - د دوئی په خبره به عمل کولے شئه - دوے یسے "پښتو" او د عربو دور
جاهلیت" تقریباً تقریباً یوشے وو - نو غټ فرق پکښے د اوو چه صفه شرکان وو -
او ورسره د لوړو وجودے نه تسلیم کاوه - د پښتو د دور خلق د کلک ایمان خاوندان
وو - او د لوړ وجودے مدنه کانړه -

نوټ :- که دا دور د سوات نه علاوه په نورو پښتو نخوا کښے وو نو ماته
ے هیڅ معلومات نشته - که چا ته په دے باره کښے څه معلومات وی نو یا د به "پښتو" کښے
څه مضمون ورکړی یا د ماته به دے پته څه او لیکی -

بله دا چه وائی چه ارسلا خان هم په دے علاقه څه مشری کړے ده - لکه وائی

چرګه چرګوړے د پاره شمار کړه

ارسلا خان د چرګو اخلی ملنګونه

که چا ته د ارسلا خان په باره کښے معلومات وی نو ماته د اولیکی - مننه به ئے کوم -

---

(چاپ "پښتو" اپریل ۱۹۷۴ء)

بُدھ مَت اُو پښتون خوا

د دُنیا په ځانګړو بین الاقوامی مذهبونو کښے یو بدھ مت مذهب هُم دے خو د بدھ مرغه په دے مذهب پسے هندو مذهب دومره لویه اُو نادیے پروپیګنډ کړے دے۔ چه د هغے د وجے نه د دے لوئے مذهب خدوخال په آسانه سره نه ښکاره کیږی۔ اُو دے لوئے اُو پاک مذهب ته د عظیم نقصان رسولو نه علاوه صرف اُو صرف د هندومت په غاړه دے۔ په بُدھ مت د ګندهارا د سیمے ډیر لوئے احسان دے۔ چه دا مذهب ئے د ورکولو نه پرته کړے دے۔ که په دے منځ کښے د دے سیمے خلق نه وے ور ځکښے شوے نو یقیناً چه بدھ مت به هندوانو د هیڅ د پاره ختم کړے وے۔ اُو نن به ئے چا هډو نوم نه پیژندو۔ د دے خبرے غټ ثبوت دا پخپله دے۔ چه د هندوستان د کوم ځاورے نه دا مذهب راپورته شوے وو۔ هلته ئے خو د ځائے ځیګی پورے اُو مکمله پته هُم نه ګڼل کیږی۔ که څه هُم د بُدھ مت مکمله خاکه اُو نقشه موندے شی۔ نو هغه هُم په موجوده پښتون خوا کښے موندے شی۔ دے زمکے یواځے دا مذهب د فناکید و نه نه دے پرته کړے۔ بلکه دا مذهب ئے نورے دُنیا ته رسولے هُم دے اُو هُم په دغه شکل اُو وجه دا مذهب انټرنیشنل مذهب ګرځیدلے دے۔

په بُدهمت د بحث کولو نه مخکښے چه دا مذهب کنډارا ته کله راُورسیدهٔ خرنګه راُورسیدهٔ؟ دلته ئے څهٔ ترقی رُوکړه؟ دلته ئے تهذیبی اوُ ثقافتی اثرات کوم کوم پر ینبودل؟ د دے څانګے نه بهرته څنګه خورکړے شو؟ اوُ کومو ملکونو ته چه خورکړے شو۔ د دغه ملکونو اوُ پښتون خوا ترمنځه څه ادبی، سیاسی اوُ ثقافتی رشتے قائم شوے۔ دا مناسب ګڼرم چه د دے مذهب د بانی مهاتما ګوتم بُدهٔ په ژوند څهٔ رنړا واچوم۔ چه دے څوک وو اوُ څهٔ مشن ئے لرهٔ۔ اوُ د دهٔ مشن د کومه حده پورے پاک اوُ صحیح مشن وو۔ اوُ دے د پیغمبرانو په شمار کښے راځی اوُ کنه؟

پیدائیش:۔ اګرچه مهاتما بُدهٔ د دُنیا یو عظیم ترین شخصیت دے۔ اوُ د هغهٔ مذهب د دُنیا په مذهبونو کښے دیر جوت مقام لری۔ خو سره د دے بیا هم د بدهمذهب سُورځان د مهاتما بدهٔ په صحیح تاریخ پیدائیش راویستو کښے کامیاب شوی نهٔ دی۔ د غه وجه ده چه هر یو مورخ دا نیټه د یلهٔ نیټے نه جُدا بیانی۔ په دے باره کښے شاغلے رشید اختر ندوی لیکی چه:

"زمونږ په منیز د روایاتو دا اختلاف صرف د دے سبب پیدا شوے دے چه د مهاتما بدهٔ په ورځو کښے د تاریخ نویسی رواج نهٔ وو۔ بله داچه د مهاتما بدهٔ سره هغه عظمتونه اوُ لوئی (انه وه پیوست شوے۔ کوے چه د دهٔ سره د اشوک اوُ چندرګپت په وجه مخصوص شوے"

فاضل اولیدن برګ عوندے لوئے عالم د مهاتما بدهٔ د پیدائیش د نیټے په باره کښے صرف دومره قدرے وائی:

"چه عزت مآب موعود په ساکیا خاندان کښے د حضرت عیسیٰؑ نه تقریباً پنځه سوه کاله مخکښے پیدا شوے دے۔" (مغربی پاکستان کی تاریخ صـ۴۳۳)

مستر الیمر ورڈ نے تقاسر دا نیتہ ۵۶۳ ق-م بنائی [1]

د هندوستان مشهور مؤرخ آئینگار (Aiyangar) لیکی چه :

" د سدهارتھ چه د بدھ مذهب بانی دے تقریباً د شپږمے صدئ ق-م په منځومانه کښے په څیل کلی کپل وستو کښے پیدا شوے [2]

یوبل مؤرخ مسټر سمتھ اس لیکی چه :

"بدھ په ۵۶۰ ق-م کښے پیدا شوے وو" (بُدھ اور اس کا مت ص)

پیام شاه جهان پوری لیکی چه :

"گوتم بُدھ په ۵۰۰ ق-م کښے پیدا شوے وو"

(تاریخ نظریو پاکستان ص)

رشید احمد لیکی چه :

"گوتم په ۵۶۰ ق-م کښے پیدا شوے وُو"

(تاریخ مذاهب ص)

وطن او کور کلے :- گوتم بدھ چه اصل نوم ئے سدهارتھ وو- او د پلار نوم ئے سدهودن وو- ځوک چه په ذات باندے ساکیه وو- او د نیپال ته نږدے د یو خود مختاره ریاست راجه وو- هُم د دے راجه په کور کښے سدهارتھ پیدا شوُ چه د مور نوم ئے مایا دیوی وو- (بحواله تاریخ هند از لاهور سنگھ) اکثر مؤرخان ئے د پیدائش ځائے کپل وستو بنائی - نو مسټر سمتھ اس چه "د بُدھ او اس کا مت" لیکونکے دے- وائی چه بُدھ دُنیا په یوه جُنګئ کښے چه په لمبنی یادیدهٔ چه د ساکیانو د پایه تخت کپل وستو خواته یو نږدے ځائے دو زیږیدلے وو- او رشید احمد

---

[1] مغربی پاکستان کی تاریخ ص ۲۲۳ [2] A History of India part I

صیب په خپل کتاب "تاریخ مذاهب" کښے لیکی چه گوتم بُدھ د ترائی په مقام پیدا شوے وو۔"

گوتم اوُ بدھ :- خپل نوم ئے سدھارتھ وو۔ چه معنیٰ ئے ده کامیاب اوُ کامران. خو د دے نه علاوه په گوتم چه د دغه صفاتی نوم وو اوُ دے پرے دیر مشهور شو. چه معنیٰ ئے منور، روشن ضمیر اوُ خُلید وئکے ده - څه دا نومونهٔ د خاندان په نسبت هُم دی۔ لکه سکیا مونی (د سکیا خاندان نجات دهنده) سکیا سنگھ (د سکیا ازمرے) وغیره - خوځینی مورخین لکه مسټر سټراس وائی چه گوتم د دغه خاندانی نوم وو۔ همدغسے به ور ته گوتم وئیلو - اوُ د دغه منونکو به دغه ته بُدھا وئیلو۔ نو هغه به پخپله خان ته "تتھاگت" وئیلو - چه معنیٰ ئے لغوی "شخص کامل" کیږی۔

شیو نرائن شمیم لیکی چه "لفظ بُدھا اسم معرفه نهٔ دے بلکه د لفظ سچا یا کرائیسټ چه د یسوع د پاره استعمالوے شی - دا لفظ یو لقب دے چه معنیٰ ئے د روشن ضمیره اوُ عارف دی۔"

مت :- مسټر سټراس په خپل کتاب *Buddh* کښے لیکی چه "بودهیان خپل مذهب ته د "دھما" وائی - چه په سنسکرت کښے د "هرما" وئیلے کیږی - د دے لفظ دیر ترجمے شوے دی۔ لکه مت، قانون، قاعده، مذهب، حقیقت اوُ نظام عالم۔

وائی چه د گوتم د پیدا کیدو نه مخکښے د دغهٔ مور مایا دیوی یو خوب اُولیدو چه د تشی نه ئے سپین اَتی وتے دے۔ هر کله چه د گوتم پلار دا خوب د دغه وخت نجومیانو تهٔ کاهنانو ته واو رولو۔ نو هغوئ دا پیښین گوئی اوُکړه چه د رانږی به یو هُوئے پیدا کیږی۔ که چرے دغه شهزاده په کور پاتے شئه نو یولوئے شهنشاه به ترے جوړ یږی۔ اوُ که چرے خُتکل ته اُووت

نو بیا په تړے لوئے بدھ جوړین ی[1]۔

یو بل مؤرخ د نور مشرق (Light of Asia) د عنوان لاندے دا خوب دا رنګه بیان کړے دے۔

"چه یوه شپه چه رانړئ د شهزاده په غیږ کښے اُوده وه۔ خوب ئے ولیده چه د ګلابی رنګ یو ستوری چه شپږ قسمه رنړا کاندے لری، د آسمان نه را راتاؤشو او دا پر قید و نکے ستوری د رانړئ په بنی تښی د هغے کیږے ته ور ننوتو۔ بیا د رانړئ ستړے کے اُوغږیدے او هغے په خپله سینه کښے د څهٔ عجیبه غوندے مسرت احساس لړهٔ۔ د خوب تعبیر کوونکی اُووئیل۔ چه دا یو ډیر ښهٔ خوب دے۔ د رانړئ په ځوئ پسد اشی۔ چه هغه به ډیر قابل اوٗ د احترام څښتن وی۔ ډیر زیرک به وی او د مخلوق مدد ګار به وی چه هغه به خلقو ته د جهالت نه نجات ورکړی۔ اوٗ که دا سے نهٔ وی نو پدُنیا به حکومت کوی۔ اوٗ لوئے بادشاه به وی۔"

د ایډورډ جے۔ تامس بیان دے چه هرکله مها تا بدھ د مور په تس وو نو نهٔ خو د هغه مور د روخ وے اوٗ نهٔ پکښے نوره څه یدی وه۔ نه خو هغے خوک آزاره ول۔ نهٔ ئے غلا کوله اوٗ نه ئے د تضع جامے اغوستل نه خوښول۔ هغه رشتونے، وفاشعاره اوٗ نیکوکاره ښځه وه۔ د پوره حمل په دوران کښے د بُدھ مور په هیڅ ظاهری بیماری کښے نهٔ وه مبتلا شوے۔ اوٗ نهٔ هغے ته څهٔ قسمه روحانی اوٗ جسمانی تکلیف ور رسیدلے وو۔ هغے داخپل بچے د عامو خورلنړو پیشان د بچو ری ډکیدو د تکلیف پیشان اُوزیږاوه۔ د راک ول د خیال مطابق په

---

[1] مغربی پاکستان کی تاریخ ص ۲۳۶

دغه وخت کښې دا په سمبني نوم باندې کښې وه - چې د زور باران وريدو او
سمايا په تکليف کښې د اسو کا وخې ته ډوبه وهلو[1] - د دغه مورچه نوم مې مايا
وو - د دغه د پيدايښت په اوومه ورځ مړه شوه - او د ګوتم بدھ پرورش د دغه
مېرنۍ مورچه د دغه ترور وه او دوئم مې پلار ګې وو[2]

تعليم و تربيت :- د هاغه وخت د شهزادګانو په شان د ګوتم بدھ
هم بنۍ تعليم او تربيت اوکړے شو - چې په هغې کښې فنون سپه ګرۍ هم
شامل وو - خو د دے نه علاوه هغه له څه داسې عجيبه غوندې انتظامات
اوشول - چې په هغې کهغه ناسته پاسته ، ليدل کتل او سيدل پټول د
سنګلو سنګلو او نازک بدن نه پيغلو سره وو - ځکه چې د هغه پلار د يوځل
رسيدلې سادھو اسيتا نه دا پيشګوئي اوکړيدلے وه - چې هرکله د دغه ځوئلوئ
شي - نو د نيا ته به شاکرې او ځنګلو نوته به اوځي - د دے وجې نه د ګوتم
پلار د هغه ځوانۍ ډيره رنګ دار ه جوړولو د پاره د هغه نه بسائسته پنځې چار
چاپيره کړے - د پاره د دے چې جنسي ترغيبات د هغه بل طرف ته اونه ګرځوي
پنځې ګډيدونکې او خوبونه خوبونه سندرغاړې به هروخت هغه سره
وې - چې هروخت به کله ګډاوه او کله به نغمه او سرود[3] وو - د دے خبرې
مکمل ثبوت د بدھ د خپلو وينا نه هم ثابتيږي - چې رشيد اختر ندوی
لے د کيښن په حواله نقل کوی او ليکی چې " زه (بدھ) ډير آرام اوعيش
خوښوونکے ووم - زما پلار ماله د هرقسمه د عيش سامان پيدا کړے وو - مابده د
بنارس د روغوشوو رينمو جامے اغوستے - زما پلار ماته درے محلونه جوړ

---

[1] مغربی پاکستان کی تاریخ صفحہ ۲۲۷ [2] بدھ اور اس کا مت [3] مغربی صفحہ ۲۲۷

کړي وو. چې په يو کښې به ما ډکړئ موسم، په يل کښې د يخنئ موسم او په دريم کښې د پشکال موسم تيره وو۔ او د دے محلونو انتظام د سنکلو جينکو په لاس کښې وُو۔

وادهٔ ۱۔ فاضل ۲ يو ورځ تهامس د پالی او سنسکرت د جاتکه داستانونو په رنړا کښې ليکی۔ چې هرکله بادشاه سدهودن د خپل څوئ مهاتما بُدھ د وادهٔ کولو ارادہ وُکړه۔ نو د ساکيا خاندان او خپلو نورو اميرانو ته ئے خبر وُليږه چې خپلے ټولے پينځلے لونړه شاهی محل ته راوليږئ۔ خو ساکيا اميرانو جواب ورکړهٔ چې "چونکه ستا څوئے په فنون سپاه ګرۍ کښې پوهه نهٔ لري۔ او د ښځے د ذمه واريُ وُچتولو قابل هُم نهٔ دے۔ د دے وجے نه مُوږه خپلے لونړے شاهی محل ته د ورليږو نو نه عاجزه يُو" هرکله چې بادشاه ته دا پيغام ورسيد نو هغه د مهاتما بُدھ خواته لاړشهٔ۔ او هغهٔ ته ئے ټوله خبره وُکړه۔ او ټپوس ئے ترے وکړو چې ته به څرنګه په فنون سپه ګرۍ کښې خپل کمال ښائے۔ بودھ په جواب کښې اُووئيل۔ چې زهٔ به هاغه کمان (غشے لينده) راکاږم کومه چې د زړو سړو نه په کهٔ نهٔ شی راښکلے کيدے۔ زهٔ به په هغے کښې غشے سور کړم۔ او هُم په دے به غشے کذار کړم۔

خو د وادهٔ په باره کښې ئے معتبر بيان د ورک هل دے او هغه دا چې مهاتما بُدھ صرف يوے جينئ سره وادهٔ کړے وُو۔ او دا وادهٔ ئے هُم د پلار په مرضئ شوے وو۔ پلار ئے د ساکيا خاندان ټولے پينځلے محل ته راجمع کړے وے۔ او مهاتما بُدھ له ئے اختيار ورکړے وُو چې په دوئ کښې يوه د ښځے په جوړ ځان له غوره کړی۔ او هغه هُم صرف يوه

جنیئ چه نوم ئے یشودهر وو غوره کړه[1]

دکور نه وتل :- دکوتم بدھ په باره کښې تر اکثرو کتابونو کښې دا خبره لیک ده چه دا شهزاده د ورځو کوالی راسې په سوچ نو کښې اخته وو۔ د هیڅ قسمه خیزعیش او عشرت خوشحالو او سوکالو د هغهٔ فکر د سوچونو نه دانهٔ پرانوو۔ او چه کله په هم هغهٔ نوے نوے څیز لیدهٔ، لاسنه یه ئے سوچ او فکر سیوا کیدهٔ۔ پلار ئے اګرچه دا ډے خبرے سنهٔ پخلے کړے وو چه د شهزاده د ځیڅ ناخوشکواره واقعات رانهٔ شی۔ خو بیا هم یو ده ورځ وا سے کارونه د شهزاده د نظر نه شول چه دا ډے ئے د سوچونو دریاب ته ارتاوکه۔ او هغه داچه یو ډیر بوډا سړے ئے وُلید وچه ملاے کوټې شوے ده او د لښتے په زور ګرځیدو۔ بل ئے یو ډیر ناجوړه سړے وُلید وچه ډیر کمزورے شوے وو۔ او بدن ئے ټول رپیدو۔ بیا ئے یو مړ سړے وُلید وچه ګونه ئے مړک تکه زیړ کړے وه او په آخر کښې ئے یو جوګی وُلید وچه ډیر په بے خیرئ سره روان وو۔ او خلقو ته ئے د نجات تلقین کولو۔ منم چه دے څیزونو به هم د شهزاده په ذهن اثر کړے وی۔ خو زما په نیز شهزاده ته که څهٔ هم سوچونه ترغارے شوی دی۔ نو دا به د هاغے وخت استحصالی معاشرے ورپیغاره کړی وو۔ او تر څو پورے چه مونږ د شهزاده د ورځو د معاشرے جاج وانه خلو نو خبره رنړ پیږ ی نهٔ۔

د دغه وخت معاشره :- په دغه وخت کښې په هندوستان کښې د هندومت راج وُو۔ او هندومت په مذهبی، سیاسی معاشرتی او

---

[1] تاریخ مغربی پاکستان ص۴۲۸

طبقاتی طور د انسان د لاسه د انسان استحصال کوی۔ او دے طبقاتی تقسیم انسان د انسانیت د پوری نه غورځوے وو۔ دے ته که د هندومت په ځای برهمن راج اووئیلے شی نو بالکل صحیح به وی۔ ځکه چه دوئ اوّل انسانیت په څلورو درجو کښے تقسیم کړ او د استحصال د پاره ئے په مذهبی طور لاړ آزاده کړه۔ ځکه خو رائے بهادر ماسټر پیارے لال اشوب په خپل تاریخ رسوم هند باب اوّل کښے لیکی چه:

"د هندوانو د ټولونه په پخوانی کتاب رګ وید کښے لیکلی دی چه برهمن د هر یاجی د خولے نه کهتری د هغو د لاسونو ویش د هغو دورتو نه او شودر د هغو د پښونه پیدا شوی دی[1]۔ برهمن د ټول مخلوق نه غوره دی۔ او په دنیا کښے چه څه هم پیدا کړے شوے دی۔ که چرے برهمن نه وے نو دا کائنات به هم موجود نه وو۔ که چرے برهمن او غواړی نو د خپلو منترونو په ذریعه راجه، د هغه فوج، هاتیان او اسونه تباه کولے شی۔ برهمنانو ته دا طاقت هم ورکړے شوے دے۔ چه د دے دنیا په شاے نورے دنیا ګانے، بادشاهان، دیوتاګان او انسانان پیدا کولے شی که چرے برهمن په نورو خلقو ظلم اوکړی نو هغوته صرف معمولی سزا ورکولے شی لیکن که د نورو ذاتونو خلق په برهمن ظلم اوکړی نو لس چنده سزا به موجوده۔"

داخو وو د برهمن مقام۔ خو اوس د شودر مقام۔ او هغه داچه:

"د شودر غټ کار د برهمن خدمت کول دی۔ شودر ته د وید لوستلو

---

[1] تاریخ نظریهٔ پاکستان صفحه ۲۰

اجازت نشته۔ بر همن له جائزه نۀ دکه چه شودر ته دینی مسائل اُو بنائی، نۀ هغه ته د کفار ے طریقه اُو بنائی، کنه هغه به اسم وریا نوے جهنم ته غورځولے شی۔ په دینی اُمورو کښے برهمن ته اجازت نشته چه هغه شودر ته نصیحت اُوکړی۔ شُودر له پکار دی چه هغه د برهمن جُوټه خوراک خوری۔ اُو د هغۀ اغوستے زړے جامے اغوندی۔ که چرے په شودر کښے د دولت جمع کولو صلاحیت موجود هُم وی۔ نو د دا سے کولو اجازت ورته نشته۔ ولے چه هغه مالداره شی نو هغه د برهمن د آزارولو سبب کیدے شی۔ که چرے شُودر د اُوچت ذات یو سړی ته کنځل اُوکړی۔ نو د هغۀ ژبه دِ پرے کړے شی۔ شودر ته اجازت نشته چه هغه دِ د برهمن سره په فرش کښینی۔ که چرے شُودر دا سے اُوکړل۔ نو د هغۀ د کوناتو غوسنه دِ پرے کړے شی۔ اُو که چرے د شودر غوږ ونو د دین د دهرم څخه خبرے واُوریدے نو د هغه په خوله اُو غوږ ونو دِ یشیدلی تیل واچولے شی۔[1]"

داوه د هغه وخت د انسان ژبون حالی اُو د ذات پات اُو مقامی اُو غیر مقامی هغه فرق چه د دغه وخت خلق ے په ژوندون په دوزخ کښے غورځولے وو۔

هرکله چه د دغه وخت معاشرے د بدئ حد ته ورسیدے۔ نو خدائے پاک یکښے یو مصلح د گوتم بُدھ په شکل پیدا کړۀ۔

"د دے دور کوم قوت چه د دے څائے په خلقو په طرز فکر اُو احساس باندے زور اثر اُو غورځُوو۔ هغه د بُدھ مت تحریک وُو۔ گوتم یو داسے حساس راج کمار وُو اُو د خلقو په درد د هغۀ زړه ډیر

---

[1] تاریخ نظریه پاکستان ص ۲۲، ص ۲۳

خوښ ږيدلۀ۔ هغه ته د راج محل ژوند ښۀ نۀ ګڼيدلۀ[1]۔
ګڼي څه وجه وه چه هغه کور پرېدی او لرې ځنګلو نو ته تختی۔ شهزاده دے،
راج کمار دے۔ د سلطنت بادشاه جوړيدونکے دے۔ عيش شته، عشرت شته، دولت
شته، حسن شته، ګډ انتخاشته، نغمه شته، سرود شته، نوکرشته چاکرشته
د هيڅ يوے خبرے جواب ورته په نا ګټے د ملاويدو نشته او په دے پاسه دے
هرڅه له لته ورکوی او ځان ځنګل لوبو تندو او کړا دو نو ته سپاری۔
د کورنه د وتلو روستۍ واقعه:- مخکښے ذکر اوکړے شو چه د ګوتم
بُدھ والد ګه د هغه د پلار په خوښه د يوے پيغلے يشو دهرا سره شوے وو۔
وائی چه:

"يوه ورځ چه هر کله هغه د سيل نه واپس راغے او د محل په پورو
کښے د ريځ نه کوزيدو۔ چه زيرے پرے اوکړے شو چه د هغۀ
کره روهيل نوے ځوے پيدا شوے دے۔ د ځوئ په پيدا کيدو
په محل کښے د خوشحالو سرو دونو او ګډ انتخا محفلونه ښۀ په
ګرمه روان وو۔ ليکن د ګوتم بُدھ زړۀ څه پر يشانه پريشانه
غوندے وُو۔ هغه د سلا ستو ګړے نه لاړ شو۔ نوکرپيدونکے
پيغلے هُم هغه شان ګډ يدے او سندرے ئے وئيلے۔ وے هر
کله چه ګوتم بُدھ د څپے راوښے شۀ، نو د هغه نظر په هغۀ
ګډ يدونکو جينکو پريوتو۔ چه په ګډ اکډ استړے شوے
وے او په زمکه اُودے پرتے وے۔ چه زلفے ئے پريشانه وے۔

---

[1] پاکستان میں تہذیب کا ارتقاء ص ۱۱۶

جامو ئے د وجود ملګرتیا پر لیښے وه - او په اودو وجودونو کښے
هغه لطافت او منزه نه وه پاتے کومه چه په ویښه کښے د هغو
د سنګلاه او د تناسب او توازن موجیه وه - هرکله چه ګوشم بډ
واپس یشانه وینښه او کاږه راکاږه وجودونه اولیدل - نو
هغه څه وارخطا غوندے شو - او هغه داسے محسوسوله
لکه چه د مړو بوټو په سنګر کښے بندی وی - هغه د دے
ماحول نه ګبراؤ شو - او بهرته اورت - چه په دے کښے وړته
خپل ځوے راپاد شو - د هغه د لیدو د پاره د هغه د موس
کمرے ته لاړشو - چه د موس لاس د یخی په سرپوت وو -
او اوده وه - د هغه خیال اوکړ - که چرے د موس لاس د یخی د هغه
لرے کړے شی او دے یخے سنګلوی - نو کیدے شی چه مورے
ویښه شی - هم د دے خیال سره هغه بغیر د یخی لیدو د
محل نه اودوتو - په خپل اس سور شه - او سئیس ئے د خات
سره کړه - هرکله چه خپل منزل مقصود ته اورسیده - نو اس
او سئیس او زیورات ئے واپس کړل - او یک یواځے په ځنګل کښے
پاتے شو"[1]

هرکله چه مها تما بدھ په ځنګل کښے میشته شو نو اول ئے د یودو مصلحینو
سره دیره اوینوه - او سنه ریاضت ئے شروع کړو - لیکن هرکله چه هغوی ته
داپته اولګیده چه د دے سادھوګانو مطلب څو سکرا، برهنا یا مارا جو پید

---

[1] مغربی پاکستان کی تاریخ صـ۴۴۳

دی۔ نوهغوئ ته داهسوسه شوه چه دا لار صحیح نه ده۔ دے وجه نه دے ئ
هغوئ نه ځُد اشئ۔ هغه بیا د آرته کلمه خواته لاړشئ۔ چه د هغوئ د تعلیم
او تربیت مقصد صرف داوو۔ چه سړے د په حواس قابو بیا مومی۔ مهاتما بُدهه
ته داخبره هُم سبئ معلومه نه شوه۔ او دے بیا د ادراکا راماشاګرد شئ۔ لیکن
د غلته ورته هم څه اطمینان حاصل نه شو۔ او د دغے ځایه بیا د ګیا غرته
لاړشئ۔ او د ریاضت یوه نوے طریقه ئے شروع کړله۔ شپه او ورځ به ئے
عبادت کولو۔ نه به ئے څه خوړل او نه به ئے څښل۔ لیکن هر کله چه دے
شدید ریاضت هُم دے مطمئن نه کړو۔ نو هغئ د لویدے لاس واخسته۔
او په خوراک ئے شروع اُوکړه۔ او ریاضتئے هم کم کړو۔ خو د هغه هاغه
پنځه ملګری چه د هغه سره په دے ریاضت کښے ملګری وو۔ پنځه واړه
د هغه نه سَرور شول۔ او بنارس ته لاړل۔ ګوتم بدهه داخپل لومړنے
یوکم پنځوس ورځے ورستو مات کړه۔ او د دریاب نرنجرا په غاړه ګپسپل یا ئ
اینځر د یوے اُونے لاندے مراقبه شئ۔ د دغه وخت حالت یو پښتون
شاعر ډاکټر امین الحق دارنګے ښو ولے دے۔

مهاتما بُدهه

د یو بر د ونے لاندے — په سوچونو کښے غرقاب دے
دا په ده کښے ژوند پتوکیږی — که له ژوندونه په عذاب دے
ستړے ستړے یو سړے دے — د یو بر د ونے لاندے

نه په بنګه ئے پروا شته — نه ئے خُوئے په زړه دیږی
نه ئے مینه د مور یا د ه — نه د دا ورته یادیږی

په څه ورکه پسے ورک دے ستړے ستړے دا نازک دے
نۀ پروائے په سنګلا شته نۀ ئے نازو ادا خو بنه
چه په څۀ باندے مین دے په څه ورکه پسے ورک دے
دے مین په څنګلو نو آیادئ نه لرے تښتی
دی خوشحاله په غمونو خوشحالئ نه لرے تښتی
تسلی د زړګی غواړی
په څنګل کښے یوسړے دے

دے ملنګ لوبډو وهلے خوله شکله شهزاده دے
دکړو وړونه معلومیږی د عیشونو اموخته دے
په څه غم دے غمیدلے چه ئے پښتو کور اوکلے[1]

فاضل اولډن برګ لیکی چه:

"دا مقام کوم ته چه مهاتما بدھ د ډیر سخت ریاضت نه ورسقو رسیدلے وو۔ د هغۀ د ژوند د پټو لونه لوئے سوړ وو۔ هغه اوس د زړا یوه منارہ جوړه شوے وه۔ او زړا د هغه نه خوریده او د ماحول تیرے لرے کیدے۔

هاغه شپه په کومه چه هغۀ ته نروان نصیب شوے وو۔ هغه د یوے وخے د لا ندے تیره کړے وه۔ د هغۀ عقیدتمندو د دغے اوخے نوم د علم او اګاهئ او د عرفان و نه کیښود۔ دا و نه د ترجرا د

---

[1] پښتو ژور نالیزم صه ۷۲

دریاب عظیم تر بنه او نهایته مقدسه وَ نه ګڼړلے شی۔ خلق دے ته بدهی ونه وائی۔ حالانکه دا د پیپل ونه وه۔"[1]

مسټر سټراس لیکی:

"هاغه مقام چرته چه بُدھ ته کشف شوے وو۔ هغے ته اُوس بودھ ګیا وئیلے شی۔ دلته اشوک یو مندر جوړ کړے وُو۔ دے مندر خواته د پیپل یوه اُونه ده۔ چه په علمی اصطلاح کښے ورته Ficus Rebgiosa وائی۔ وئیلے شی چه دا موجوده اُونه هُم هاغه اُو نه ده۔ د کوم د لاندے چه بدھ ته کشف شوے وو۔"[2]

هُم دغه شان پیام شاه جهان پوری لیکی چه:

"آخر یوه ورځ هغوئ ته د خدائے تعالےٰ عرفان حاصل شُو۔"[3]

د ځنګل نه آبادئ ته راتلل او تبلیغ شروع کول:۔ د حقیقت موندلو نه ورسته مها بُدھ دا فیصله اُوکړه چه آبادئ ته لاړشی او د خپل مذهب تبلیغ شروع کړی۔ لیکن دے خبرے د څه حده پورے پریشانه کړے غوندے وُو۔ چه د مذهب تعلیم اوّل چا ته ورکړی۔ او آخرهغه د کاشی بنارس بنار ته لاړشُو۔ چرته چه د هغه هاغه پنځه ملګری اُوسیدل چه د هغه نه مړوړ شوی وو۔ ملګرو چه هرکله هغه اُولیدُو نو د هغه استقبال ته پورته شول۔ اُوما بُدھ هغوئ د هاغ صداقت

---

[1] اولڈن برګ۔ بحواله۔ مغربی پاکستان کی تاریخ صـ۴۹

[2] بُدھ اور اس کا مت صـ۳۲ [3] تاریخ نظریه پاکستان صـ۲۵

نه آګاه کړل۔ په کوم چې هغه د ژوند په موندو روښانه شوے وو۔ دغسې
ملګرو فوراً په ده ایمان راوړو او مها تابده دوئ ته په اوّل ځل دا
ووئیل چې اختیارکئ۔ صحیح سوچ بچار، صحیح ارادې، صحیح ګفتار، صحیح
فعل، صحیح زندګی، صحیح جدوجهد، صحیح احساس او صحیح مطمح
نظر۔

دے نه ورسته مشهور یاسا خاندان په هغهٔ ایمان راوړو۔ او
هغه دغه قول خاندان بهکشوان جوړ کړل۔ دغلته بیا ګوتم بدھ شپیته
کسانو ته د تبلیغ کار حواله کړو۔ او پخپله اوری ویله نوے کلی ته لاړشهٔ
چې په راج ګرهٔ کښے مشهور مقام وو۔ دلته یو لوخاقو په هغهٔ ایمان
راوړو۔ راجه هم پخپله د هغهٔ په خدمت کښے حاضر شو۔ او هغه ته
ئے کالن تهکی نوے باغ ورکړ چې د خپل دین مرکز پکښے قایم کړی۔ د
بُدھ دا اوّلے مذهبی او تبلیغی مرکز وو۔ چې د هغهٔ په ژوندانهٔ تعمیر
شوے وو۔ دویم مرکز په کراواستی کښے جوړ شو۔ کوم چې سدانه
نوے یو امیر تاجر د مها تابُدھ په خاطر جوړ کړے وُو۔ چې پکښے شپیتهٔ
وړے او شپیتهٔ ځیرے کړے وے۔ مها تابُدھ دغلته په راجګړی کښے صرف
دوه میاشتے تیرے کړے وے۔ چې د هغهٔ پلار سدودهن یو زر سړی
د هغهٔ د راوستو د پاره دغلته ور اُولیږل۔ هرکله چې دغه خلق
ورغے او د هغه خبرے ئے واوریدے نو په هغه ئے ایمان راوړ او
د سړه تړے داخبره هیره شوه چې هغوئ دغلته څهٔ له راغلی وُو۔
هرکله چې ګوتم بُدھ خپل وطن طرف ته روان شو۔ نو د تلورفتا
ئے ډیر سست وو۔ ځکه چې ځائے په ځائے به ئے خلقو ته پیچار کوو۔ د

د یوورځو روستو کپل وستو ته اُورسید. و هلته د هغه ټول خاندان په هغه ایمان راوړو۔ اوُ د دے سره په هغهٔ د ایمان راوړونکو تعداد د دوه نکونه سیوا شو۔[1]

مهاتما گوتم بدھ په کلی په کلی اوُ بنار په بنار گرځیدو۔ اوُ خلق به ئے په خپل مذهب کښے شاملول۔ د هغهٔ مذهب د هغهٔ په ژوند انهٔ ښه پُوره خلقو قبول کړے وُو۔ اوُ لا قبلولوئے چه په دے د مهاتما بدھ وخت پُوره شو۔

وفات ۔ د گوتم بدھ مرگ د یوسازش په تحت واقع شوے وو اوُ هغه داچه د هغهٔ د مقبولیت حسد ځینے خلق دے ته جوړ کړے وُو۔ چه دے مړ کړی۔ خوچه هرکله د هغوئ د اظاهري گذار د هغه د مقبولیت په وجه خطا شو نو یو بیت سازش ئے اُوکړ اوُ هغه داچه د هغهٔ یو منونکی چه اهنگ وه اوُ نوم ئے چندا وو۔ د هغه میلمستیا اُو کړه چه په خوراک کښے ئے خرپرې هُم شامل وو۔ په دغه کښے زهر گډ وُو۔ گوتم بدھ د هغے په خوراک سره ناجوړه شو خو د هغے لپاسه هغه د خپل کور به د زړهٔ ساتلو د پاره اُووے۔ چه په دے کښے د هغه هیڅ قصور نشته۔ دا خو د هغهٔ نیکی وه چه په مائے آخری خوراک اُو خوړو۔ هُم دغه شان د اتیاؤ کالو په عمر په ۴۸۳ ق۔م کښے هغه وفات شهٔ۔ اوُ د گڼ آراء په مقام په شاهی عزت سره اُوسوزولے شو۔ د هغهٔ "پھول" په اتهٔ حصو کښے تقسیم کړے شو۔ اوُ د یادگار په طور په گنبدونو محفوظ کړے شول۔[2]

د خورشید احمد بیان څُه اغوندے دے۔ هغه لیکی چه "د گوتم بُدھ

---

[1] مغربی پاکستان کی تاریخ ص۴۵۵ [2] بُدھ اور اس کا مت ص۳۲

انتقال د اتیا کالو په عمر کښے د پیرو په مقام په ۴۸۰ ق م کښے شوے دے[1]

د بدھ مت تعلیمات:- (۱) عارضی ژوند یا اینکا ANNICA یعنی دُنیا فانی ده۔ هرشے بدلیدونکے را بدلیدونکے دے او یو شے هم پخپل حالت بر قرار نه پاتے کیږی۔

(۲) غیر حقیقی یا اناتھا ANATHA چه پتول شیزونه غیر حقیقی دی۔ ولے کچرے غیر حقیقی نه دے۔ نو بیا خو فانی کیدے نه شول۔

(۳) رنځ او غمونه چه انسان د سره هره ورځ ورترغاړه کیږی چه پکښے بیماری، بوډاوالے او مرګ شامل دی۔

خو مهاتما بدھ د ژوند څلور اعلی اصل اقتوته چه هغه ورته آریا سیته ویلے دی۔ هُم ښوولی دی۔ هغه دادی۔

(۱) ژوند یو درد دے۔ (۲) د دے درد یا خُوښ سبب خواهشات دی (۳) د خواهشاتو نه سپے ځان پاک کولے شی (۴) خو د دے د پاره نه د سخت ریاضت ضرورت دے او نه د عیش پرستی بلکه درمیانی لار ورته اختیارول پکار دی[2]

د خواهشاتو نه د پاک کیدو د پاره دے اتو اُصُول خبرو تاکید کړے دے۔

(۱) صحیح علم:- یعنی چه په خیالاتو کښے د هیڅ قسمه وهم او وسوسه نه وی۔ د ژوند مطابق د خیالاتو هرقسمه مسائل او فریب نه پاک وی۔

(۲) صحیح اراده:- د ښو ښو خیالاتو سره سره د ژوند صحیح مقصد هُم متعین وی۔

---

[1] تاریخ مذاهب ص ۲۳۲

[2] تاریخ مذاهب ص ۲۳۶

(۳) صحیح کلام :- په کلام کښے د صداقت وی او خبرے د په نرمۍ سره کوے شی۔
کول سول خبرے نه دی پکار۔

(۴) صحیح عمل :- په امن سره د ژوند تیرولے شی۔ او د امانت او دیانت
لمن د تینګه اوښیولے شی۔

(۵) صحیح سلوک :- هیڅ قسمه د ساه خاوند ته د تکلیف ورنه کړے شی۔

(۶) صحیح جد وجهد :- یعنی په ځان د قابو بیاموندے شی۔

(۷) صحیح یاداشت :- ټول تجربات د هر وخت په ذهن کښے ساتلے شی۔

(۸) صحیح غور و فکر :- یعنی د ژوند په رازونو غور کولے شی۔[1]

گوتم بُدھ اُووئیل :-

" لکه څنګه چه د سمندر یوه ډاګه ده - او هغه داچه تریو دے - دغه
شان زما د مت مذهب یوه ډاګه ده او هغه ده نجات۔

په یوه بله موقعے وئیلی وُو چه :

" زهٔ صرف یوه خبره بنایم او هغه داچه د تکلیف نه نجات۔"[2]

د کامیابید و وجوهات :- (۱) د بُدھ مت اُصول ډیر آسان او ساده وُو
عام خلق په دے په آسانه پوهیدل - چونکه دے مذهب د نجات د پاره
د ذات پات تمیز ورک کړے وو - د دے وجے نه شودران اُوکسبه په ډیر تعداد
کښے په دے مذهب کښے شامل شول۔

(۲) د بُدھ بکشوګان د ډیرو ښو اُوپاکو اخلاقو خاوندان وُو - او د دے
مذهب په خورولو کښے ډیر په سرګرمۍ سره کار کوُو۔

---

[1] تاریخ مذاهب عالم ص۳۳۸ [2] بُدھ اور اس کا مت ص۴۰

(۳) د مهاتما بُدھ تعلیمات په مقامی پالی ژبه کښے دو - چه په هغے ټول خلق پوهیدل - اُو د دے په وجه خلق چه د دے مذهب د حقیقت نه واقف شول نو په ډیر زرے دا مذهب قبول کړ -

(۴) بُدھ مذهب د رسمونو اُو رواجونو نه خلاف وو - چونکه خلق د برهمنی عقائدو چاری کړی شوی مذهبی رسمونو نه تنګ شوی وو - د دے وجے نه دوئ ته بدھ مت په ډیر زړه راښکونکے مذهب معلوم شهٔ - اُو په ډیر تعداد کښے په دے مذهب کښے شریک شول -

(۵) بُدھ مت ته د اشوک اُو کنشک غوندے پاچاهانو سرپرستی حاصله شوه - دے پاچاهانو د بدھ مت د خورولو د پاره لرے لرے ملکونو ته واعظان ولیږل - اُو د هغو د کوششونو نتیجه وه چه بُدھ مت دیوے فرقے نه یو عالمګیر مذهب جوړ شهٔ [1]

هرکله چه د اشوک په وخت کښے بدھ مت ته د مور یا سلطنت د سرکاری مذهب درجه ورکړے شوه - نو دا مذهب تر لرے لرے خورکړے شو - د اخوا هندوستان نه دا مذهب وادئ سند ه ته ، بیا افغانستان اُو وسطی ایشیاء ته ، بیا چین ته اُو د چین په لار بیا جاپان اُو کوریا ته اُورسید و - هُم دغه شان دا مذهب لنکا ، برما ، تبت ، سیام ، نیپال ، ملایا ، تهائی لینډ اُو ویتنام ته اُورسولے شو [2]

مذهبی کتابونه :- په اوله کښے د بُدھ مت تعلیمات صرف زبانی وُو - چه دیوے سینے نه په بل ته منتقل کیدل - خو د اشوک په وخت کښے د دے تحریری

---

[1] جدید تاریخ هندوستان ص۷ [2] پاکستان میں تهذیب کا ارتقاء ص۱۲۲

بندوبست اُوکړے شو۔ په اوّله کښے دوه کتابونه یعنی ونایا پټیکا او ستا پټیکا و لیکلے شو۔ وروسته پسے دریمه حصّه د ادبی دھرم پټیکا اضافه وُکړے شوه۔ بیا دا تولے حصّے یوکړے شوے اوُ ترې پټیکا TRIPITAKA نوم ورته کیښودے شو۔[1]

خو مستند سند اس لیکی چه "قدیمی بُدھ مت په اصلی حالت کښے دا وخت هیڅ یوځائے نشته۔ د خپل زاد بوم نه د برھمنی مخالفت اوُ د مسلمانانو د حملو په وجه ختم کړے شوے دے۔ په کومو ملکونو کښے چه دا مذهب ورداخل شوے دے د ھاغه ځائے د مقامی مذهب بعضے حصّے په دے کښے شامل شوی دی۔ د دے مذهب د اصلی کیفیت معلومولو د پاره د پټیکا مطالعه ضروری ده۔ دا مجموعه جمله علماء قابل اعتبار ګڼړی اوُ بلا شبه دے مجموعے په ذریعه موږ ته اصلی مذهب را رسیدلے دے۔ تردے پورے چه په بعضو عبارتونو کښے موږ ته دَ بُدھا خپل الفاظ ھم ملاویږی۔"

فرقے:- په اوّله کښے د دے مذهب په منلونکو کښے د یو بل سره څه اختلاف نه وو۔ خوچه هرکله په جنوبی ایشیاء نور بهرنی تهذیبونه راخواره شول نو دغه تهذیبونو لکه څنګ چه په نورو تهذیبونو اثر اوُکړه، دغه شان ئے په بُدھ مت ھم اوُکړه۔ اوُ دغے اثر دا مذهب په دوُو فرقو کښے تقسیم کړ۔ چه یوه را مهایان او دن هنایان

چه یو پکښے گوتم بُدھ روحانی طور منی او بلدے د بتانو په شکل عبادت کوی۔

د بُدھ مت حشر:- بدھ مت د خپلو نبو اخلاقو لرونکو یکتوکانو اوُ د کنشک

---

[1] مذاهب عالم ص ۳۴۳

او اشوک غوندے باچاهانو په سبب د جنوبي ایشیا نه ترډیر لرے پورے خور شو۔ خو چه هرکله هم په دے کښے فرقے پیدا شوے او نه ورته بیا د چا بادشاه مرسته حاصله وه نو په جنوبي ایشیا کښے د دے مذهب د ورکولو یو مکمل او منظم کوشش شروع شو۔

څه خو د دے مذهب د عدم تشدد د پالیسۍ دے د څه جوړه پیسے نه ښود۔ او څه ورپسے هندومت او خاص کر د هغے برهمنانو څه دلسے لارے چارے اختیار کړے چه دا مذهب ے دغلته بیخی ورک کړ۔ ولے؟ ځکه چه بُدهمت د ذات پات هغه بُت تس تس کړے وُو۔ او د بامبرانو اجاره داری ے ختم کړے وه۔ خو چه کله هم بامبرانو ته موقعه په لاس ورغله، د دے خلاف ے شروع کړل۔ او د دے مذهب په خلاف ولوکښے د شنکر اچاریه او د کمارله بهټه نومونه خاص د اهمیت وړدی۔

یو انګریز مؤرخ د بلیو وِنټ، و لکسن په خپل کتاب "د پلی لائف اینډ ورک اِن انډیا" کښے لیکی چه د بُدهه په منونکو د دومره زیات ظلم اُوکړے شو۔ چه یا خو هغه قتل کړے شول او یا د ملک نه اُو ویستلے شول۔ او یا مجبوره کړے شول چه خپل مذهب پریږدی او په هندومت کښے شامل شی۔ په تاریخ کښے شاید چه دا سے مثال مِلاؤ شی چه د یو تحریک د چقلو د پاره دومره مذهبی ظلم او جبر دومره کامیاب شوے وی۔ لکه څومره چه د بامبرانو تحریک بُدهه مذهب د هندوستان نه په ویستو کښے کامیاب شوے دے[1]

---

[1] تاریخ نظریۂ پاکستان ص ۲۹

یو بل مغربي مؤرخ بورناف لیکی چه "د بُدھ مت په خلقو باندے د وحشیانو غوندے ظلمونه شوی دی۔ د هغو عبادت خانے د ایرو په پرو کښے بدلے کړے شوے او د مکدھ نه واخله تر پنجابه پورے د بدھ د راهبانو قتل عام اُوشو۔ کوم راهب چه په دغو ورځو کښے نه بچ پاتے شُو هغوی کُهان بچ کولو د پاره د ملک نه اُووتل۔"[1]

بُدھ مت څنګه مذهب وو؟ په اکثرو کتابونو کښے او بیا خاص کرد سکولو کالجونو په نصابي کتابونو کښے داخبره خاص طور لیکل وی چه "گوتم بُدھ د خدائے پاک د ذات نه منکر وُو۔" او یا داچه "گوتم بدھ د خدائے د هستئ نه، نه انکار کړے دے او نه اقرار۔" خو زما په نزد خبره داسے نه ده۔ څه که دغه مورخانو پخپلو کتابونو کښے داسے لیکلی دی نو دوئ هم د هندومت ګ پرو پیګنډے بنکار شوی دی۔ خو د تحقیق لارے چا بندے کړے نه دی۔ د جدید دور تحقیق په دے باره کښے د تل نه څه نه څه حقیقت راوستے دے۔ او خاص کر دا کار د قرآن مجید مفسرینو کړے دے۔ دا تحقیق لاجاری دے۔ او کلک یقین لرم چه د دے انټرنیشنل مذهب رشتونے حیثیت منځته راشی۔

فی الحال د بحث لنډولو د پاره صرف د دوو کسانو حوالے رانقل کوم چه یو د تاریخ نظریه پاکستان لیکونکے پیام شاه جهان پوری دے او بل د سیرت پاک د "النبی الخاتم" لیکونکے مولانا سید مناظر احسن ګیلانی صیب دے۔

پیام صیب لیکی:

"چه آخر یوه ورځ هغه ته د خدائے پاک عرفان حاصل شُو۔ د

---

[1] تاریخ نظریۂ پاکستان ص ۳۰

بعضے مؤرخینو داخیال غلط دے چه گوتم بُدھ د خدائے پاک د هستئ قائله
نۀ وو - په اصل کښے ورستو د بُدھ مذهب تعلیم مسخ کړے شو - کنه په
اوّله کښے بدھ دهرم د خدائے او صرف د یو خدائے تعلیم درکولو[1]

" د بدھ د تصور الٰہی " د سرخط لاندے لیکی :

" هغه څیز د کوم نوم چه حقیقت دے - هغه د ټولو څیزونه زیات
څیزونه د آسمان نه وُچت، د ستوری نه لرے او د برهمنا نه مخکښے ازلی اوابدی
دے - دایو داسے طاقت دے چه په وُچت اوهمه کښے دے - چه د ازل نه
نیکئ غوره کوونکے دے - څکه چه هغه پخپله نیکی ده - څه چه دی د هغه
د ذات نه دی - او څه چه دی - هغه طرف نه به واپسی کُښے - دا هغه دے
چه د مور په سینو کښے پُتی پیدا کوی او د مار په خُله کښے زهر پیدا کوی -
کله بیابان نه ګلستان جوړوی او کله ګلستان په بیابان کښے بدلوی - د هغۀ
د څه صفتونو نه خو مونږ واقفه یُو لیکن د هغه لاتعداده صفتونه
داسے هُم دی چه د هغے مونږ نه مطلق علم نشته - هغه مونږ نه په
نظر نه راځی - لیکن د دے سره زمونږ په جلله کارونو کښے زمونږ مدد کوی -
که چرے تاسو پخپلو پښو پخپله قبر اُووهئ نو هغه هستی به تاسو
معاف نۀ کړی - هغه د چا طرف داری نۀ کوی - صرف داغواړی چه
مُونږ خپل فرض پُوره کړو - د هغه د عدل میزان زورند دے - هغه ته
اختیار دے کله چه اُوغواړی - زمونږ عملونه به تالی - په هغه وخت به
داحقیقت ښکاره شی - چه مونږ څۀ کول غلط وُو - هاغه وخت به هیڅوک

---

[1] نظریه تاریخ پاکستان ص ۲۵

ټولو ته مدد اوښه کړي. د هغه (خدای) انصاف برقراره دی. دا سې قوت نشته چې د هغه نه عظیم وي. محبت د هغه آغاز دی. او آشتي د هغه انجام دی. د هغه اطاعت په هرڅو واجب دی۔[1]

پروفیسر عبدالحئی حبیبي د ګوتم بدھ په باره کښې لیکي چې:

"ګوتم بدھ خدائے یو منلو. هغه په وې چې رښتیا وایئ او رښتونی خیالات لرئ. د خدائے د مخلوق خدمت کوئ. هغوئ ته تکلیف او ضرر مه رسوئ. د هندو مذهب نه خلاف په دې مذهب کښې د ذاتونو تمیز او د ویلو نه غوره والے نه وو. بلکه د پورې پورې مساوات تعلیم خلقو ته ورکړو. د هغه شان د ګوتم بدھ اصلی تعلیم هم خلقو ته بدل کړو۔[2]"

د مها تما ګوتم بدھ په باره کښې سید مناظر احسن ګیلاني صیب لیکي چې

" د اوهام د کوے مجموعے چې نن نوم بدھ مت دے۔ آیا د تحقیق په نظر کښې د هغے قیمت هم د اختراعی قیصونه زیات دے؟ نن د کوم سیو مورخ په ذخیره کښې دا سے تیل شته چې د هغه د ډیوے په رڼا کښې د کپلوستو، منی په هغه شان سره په نظر راشی لکه څنګه چې واقعی هغه وو۔ آیا ذوالکفل د بدھ لقب کیدلے شی؟ کپلوستو د هما لیے په لمن کښې د هاغه سنهرنوم وو۔ چرته چې بدھ پیدا شوے وو۔ او دا سنهرد هغه د پلار پایه تخت هم وو۔ په قرآن مجید د انبیاء صالحین په ذکر کښې یو نوم د ذوالکفل هم راغلے دے۔ د مفسرینو خیال دے۔ وفی تسمیة ذوالکفل اقوال مضطربة لا تصنع روح المعانی ص۶۷ ج ۱۷۔ یعنی

---

[1] نظریې تاریخ پاکستان ص۲۷ [2] میاشتینۍ "اباسین" اپریل ۱۹۷۰ء ص۴

ډوا لکهل په نوم کښې مختلف اقوال دی۔ او په دے کښې هیڅ خبره صحیح نۀ ده۔
ځکه چې په دے صورت کښې که چرے کهل د کپل مغرب وُ کهول شی۔ چې
کپل والا د ډوا لکهل معنی ده۔ لکه څنګه چې د بعض خیال دے۔ نو روایتاً
خو دے د رد کیدو څه وجه کیدے شی۔ د مذهبی دُنیا دُومره لوے انقلاب
وجود لکه څنګه چې ګډهدو۔ که په قرآن حکیم کښې د ده ذکروی نو څه
عجیبه خوندۀ ده۔ خصوصاً د اسلام سره چې د ده څۀ تعلق دے لکه
څنګه چې به مخکښې معلومه شی۔ د اخیره دیره قیاس ته نزدے ده۔[1]

مخکښې لیکی چې:

"واقعه دا ده چې د مسیحؑ نه څلور نیم سوه کاله مخکښې په هندوستان
کښې د ګوتم بدھ مت په نوم یو تحریک پیدا شُوے۔ چا چې په تدریج، متعدد
او متفرق مشرق (جاپان، چین، هندوستان، ترکستان، تاتار، منګولیا
وغیره) کښې په یوه مذهبی رشته کښې ګډ تړلی او یو مشرق ئے جوړ کړۀ۔
هم دغه شان د مسیحؑ په برکت متعدد مغربی ملکونه یو مغرب شوۀ۔
هرکله چې دا اوشول نو بیا هغوی راغلل چا چې د مشرق او مغرب قصه
خفه کړه۔ او دُنیائے په یوه دُنیا، یو مذهب، یو کتاب او یو قبلې والا
دُنیا جوړه کړه۔ دے وجې نه زۀ بدھ د آنحضرت صلی اللہ علیہ
وآلہ وسلم مشرقی نقیب او مسیحؑ مغربی نقیب ګڼم"۔[2]

مخکښې د مهاتما بدھ د وصیت په باره کښې لیکی چې "اګرچه (د ګوتم بدھ)
د پیر څیزونه وران شوی دی۔ لیکن د ورانیدو نه چې کوم څیزونه پیدا

---

[1] النبی الخاتم ص۹ [2] النبی الخاتم ص۲

پاتے شوی دی، په هغې کښے د مهاتما بُدھ د اورستئ فقره اُوس هُم ژوندئ ده۔ کومه چې د خدائے دے بنده د مړک نه مخکښے د خپل شاګرد بنده په غوږ کښے په هاغه وخت کښے ویلے وه۔ چه ورستئ سلګئ وے او د هغهٔ یو مخلصه خادم د هغهٔ په قدمونو اُوښکے تویولے او ویژړل وے۔

"آقا استاسو د تلو نه په ورستو دُنیا نه څوک تعلیم ورکوی؟"

بُدھ د دے په جواب کښے اُووے: "نندہ! زه اوس لئے بدھ نهٔ یم. چه دُنیا نه راغلے یم او نه زه آخری بُدھ یم۔ په خپل وخت به دُنیا نه یو بل بُدھ راځی۔

مقدس۔ منور القلب، په عمل کښے د اناقی پاک، مُبارک عالم کائنات د انسانانو عدیم النظیر سردار، کوم قانونی حقائق چه زه ظاهره ووم هغه به هُم دغه ظاهره وی۔ هغه به یو مکمل او خالص مذهبی نظام زندګی نماپه شان تبلیغ کوی۔

نندہ پوښتنه اُوکړه: "مونږ به هغه څنګه پیژنو؟"

آقا اُو فرمائیل: "د هغه نوم به "تیریا" وی۔"

د ۱۶ر اکتوبر ۱۹۳۰ء په اشاعت کښے د الٰہ آباد یو مشهور هندو د انګریزئ په اخبار "لیډر" کښے د یو بدهسټ دا مضمون په اُوومه صفحه په دریم کالم کښے شائع شوے دُو۔ چه په هغې کښے د دغے "تیریا" لفظ ترجمه لیکونکی کړے ده: "هاغه د چا نوم چه رحمت دے۔"[1]

(۱؎ النبی الخاتم ص ۲۱)

(چاپ "پښتو" اګست ۱۹۷۸ء)

ایلم د تاریخ په رنړا کښے

هسے خو د پښتو نخوا هره کتنه بوتے اهمیت لری، ولے چه دده ډیر کلے، غر
درے او علاقه د ډیرو لوے تاریخ حامله ده - لیکن څنے دا سے ځیرونه دی چه هغه یے
په عامه سطحه د نظر مخے ته لاړ وی راغلی او اولس د دوئی د هغو خویو اولوبو
نه ځنے دی خبر - د کومو چه دوئی امانتداری - دا علاقه د ایشیا د تهذیبونو ځائ گو
ده - ځکه چه دے ډیر تهذیبونه او د ډیرو تهذیبونو سره ډیره مذهبونه
لیدلی او بدلی کړی دی - په پښتو نخوا کښے د لویو لویو غرونو کے نشته - چه
واوړیے نه خوکے ے د آسمان هومره ډنگے دی - لیکن نن یه موټر د یو دا سے غر
بحث او کړو - څوک چه د چیل زور والی، غټ والی، پاکوالی او لویئ د کیله د
ډیرے اوږد ے زمانے راسے د عامو خلقو په نظر کښے عموماً او د هندوانو په
نظر کښے خصوصاً ډیر شهوره او لوړ مقام لری -

دا غر په سابق ریاست سوات کښے د بونیر او سوات په منځ پروت دے -
او ایلم ورته وئیلے شی - دده غر د ۹۲۵۰ فټه دے - دا غر په دنگ والی
د سوات د نورو د دوو غرونو مانکیال او دوه سری نه کم دے، ولے چه په هغوئ

کښے د اولنی دنګ والے ۱۸۷۵۰ فټه اود وروستی ۱۰۰۰۰ فټه دے - اولاد اتۀ چه هم دده زور ریاست یوبل غر چه د ګنانګار (ګنهګار) په نوم یادیږی - هم دده غرنه په دنګ والی دنګ دے د چا دنګ والے چه ۱۵۰۰۰ فټه دے - لیکن کوم صفت، بنائست ځانګړ او مذهبی تقدس او پاکی چه په دے غر ایلم کښے ده، دا نور ټول دده منډ محرومه دی -

دا نۀ ده معلومه چه دۀ ایلم ولے والی اود کوم ورځے نه ددۀ دا نوم شوے دے ولے چه ددۀ زور والی او پیدائښ تاریخ زمونږ په لاس نۀ دے را غلے - دومره به اووایو چه څومره د سوات د زمکه زړه ده، هم دومره دے زور او بوډا دے، لیکن دده دومره یوډا والی او زور والی باوجود د ځوانئ امنګونه او جوش وخروش لری - هوں! په مذهبی عزت کښے ئے پوښ فرق راغلے دے، او فرق څۀ چه تقریباً تقریباً ختم شوے دے -

ایلم :- غرته والی - او د دنیا د یو دیر لوئے او زور تهذیب او تمدن نوم هم ایلم دے - په دے (سوات) زمکه په مختلفو وختونو کښے مختلف تهذیبونه پاتے شوی او تیر شوی دی، چه په هغوئ کښے دیو ځلنده او مکمل تهذیب نوم ایلم وو او کیدے شی چه ددے تهذیب مرکز دا غر اوږدے خواؤشا وه - او بیا وروسته صرف دا غر د ایلم په نوم پاتے شوے وی - بله دا چه د سائرس په ورځو کښے د اغر د ایلم په نوم یاد شوے وی د بادشاه شین (ایران) (Shem) په زامنو کښے هم دیو نوم (Elam) وو او کیدے شی چه هم د شهزاده دے ځلئ وا لکن پاتے شوے وی - او دهغه په وجه د علاقه د (Elamite) یا د ایلم په نوم یاده پاتے شوی وی -

د سوات په زمکه ډیر مذهبونه، تهذیبونه او قومونه تلی اوراغلی

دی۔ لیکن دا افسوس خبره ده چه دوے ترمکے تاریخ ورک دے، اودده ورک والی په وجه نن موږ په آسانه په څه وجه نتیجه نشو رسیدے چه په دے زمکه کښے د اسلام تهذیب د کله نه شروع شوے دے۔ اودده تهذیب نخښے نښانے په دے زمکه کښے څه وے۔ لیکن دده باوجود موږ دا په یقین سره وئیلے شو، چه دے موجوده مذهب اسلام نه مخکښے د لسته (په سوات) بُدهه مذهب په ترقئ وو۔ اودده مذهب په وخت کښے دے زمکے د خپلے مذهبی تقدس سره سره لویه زرخیزی یکلا اوښاسته نرلو۔ لیکن بُدهه مذهب د راتلو په وخت کښے دهندو مت کوم وران کړے د لسته راغلے وو۔ کوم چه د لسته جهانګیری کوله۔ هم دا وجه ده، چه دهندو نو په مقدسو کتابونو کښے دے زمکے اوعلاقے بحث څائے په څائے راغلے۔ بله دا چه دا هم یو صحیح حقیقت دے چه په زړه زمانه کښے به د لسته دے څائے خلقو چه هغه سورج پرست وو د رب النوع آفتاب عبادت کولو۔ او هر کله چه بُدهه مت تعلیمات تو د اخلق د خپلے عقیدے ته راوړه ول، نو بیا هم چه په دے څائے کښے په اولو ورځو کښے دمهاتما بُدهه چه ځوړه مجسمے جوړے شوی دی، او بیا سوندے شوی دی، په هغے کښے د څښت په برابر تیا یو غوندے ګلوپے د نوے په شکل دے۔ چه هغه دده خلقو په دغه سورج پرستئ یا نوے پرستئ دلالت کوی۔ څکه خو د پښتو ټولوټی مګر مرحوم شاعر نصرالله خان نصر وئیلی دی ؎

یه د سوات زمکے ځومره تهٔ عجیبه شان لرے
تهٔ د تاریخونو تهذیبونو لوئے داستان لرے
ستا بنکلے لمن کښے تهذیبونه تپوکیدلی دی
تهٔ خپل قدرتی هر یو صفت د ګلستان لرے
تا کښے دراوړ، منګول خو شحاله لوبیدلی دی
تهٔ د آریاؤ څانته د را بنکلو هر سامان لرے

ستاهڅه دره د هندو علم لوبیه پسې ګډه ده

ته نیونی شوی ځیل بناسټاته یوبانیان لرے

ستا بناسټ یادکړے هیرو دوتس اوویدونوڅه

ته صفت کوونکی هیوتک سانګ او تاهیان لرے

دے غړۍ په سر یو نسبتاً مضبوط جوړ ځای دے، چې ورته رام تخت وئیلے شی۔ او هندوان خلق دا یو ډیر مقدس ځای ګڼری۔ او د تقسیم (هندو پاک) نه په مخکښې د بیساکئی په میاشت کښې د لټه په ډیر تعداد کښې هندوان راټول اوددے ځای زیارت ته ځی کولو۔ د هغوئی د راتلو وجه دا وه چې په دے ځای باندے رام چندر جی میشته په هغه وخت او عمر کښې کړے ده۔ په کوم وخت کښې چې د هغۀ مور کیکئی د هغۀ پلار ته د رام چندر جی د څوارلس کالو د پاره بن باس ته د لیږلو صلاح ورکړه۔ رام چندر جی د پلار حکم او منه او د څوارلسو کالو د پاره د کوه نه باندې ځنګل ته لاړ شۀ۔ هغۀ هم د څوارلس کاله یا ټول د لټه تیر کړی دی، یا ئے د څوارلسو کالو په دے اوږد عرصه کښې څۀ شپے او ورځے د لټه تیرے کړی دی۔ اودے ځای ته لوئے عزت او لوئی ورکړے ده۔ د رام چندر جی د راتلو (۵۰۰۰ ق م) نه مخکښې هم دا ځای د لوئے مذهبی تقدس حامل وو۔ چې هغے د (۶۰۰ ق م) د کلدانی عهدۀ سره تعلق لرلو۔ اوکیدے شی چې رام چندر جی هم دے مذهبی پاکئی ځان ته راښکلے وی۔

کوم وخت چې رام چندر جی د میرے موړ غضب تر مګنئی او حسد څپیرے اووا هلۀ، کومه چې رام چندر جی دیو سعادت مند زوے په شان د پر په صبر او تامول (تحمل) او زغملے کړچې دے برداشت په دغه وخت کښې د او سپنو نیتے چپچپے وو۔ لیکن رام چندر جی ته د پلار د وینا زمکے ته غوږ ډول هم ګران وو۔ ولے چې دا نۀ صرف د هغۀ د پاره د امتحان وخت وو، بلکه د هغۀ پلار لوئے راجه هم د

ازمائش او وعدے په قلعه کښے حصار وو ـ ـ ا شپیږه ترخه وه ، لیکن میوه ے خوږه وه کله یو خوا ے د رام چندرجی په پاکټ کښے لوګی راوستله نویل خوا ے ایلم هم لوے مرتبے ته اورسوؤ کوم وخت چه رام چندرجی دبن باس ، بارہ ووت، نو دهغهٔ بنځه سیتاجی هم ورسره وه ـ نو دے ځاے د قیام په زمانه کښے دهغهٔ د لټه درے زامن (۱) پشور ے (۲) لهور ے (۳) اوکسر ے پیدا شوی وو ـ او بیا ورسټو دے درے واړو په نومونو دے تاریخی مقامات اوښهرونه یعنی د پشور ے په نوم پشور ، پشاور د لهور ے په نوم لاهور اودکسر ے په نوم قصور پنجاب آباد شوی دی ـ (سوانح د تاریخ په رڼا کښې صـ ۷۶)

یو روایت دا هم دے چه د رام تخت هغه ریام وو یا (رام معبد) چه د لټه د ټمی اوسیږه مئی عبادت کیدهٔ ـ ولے چه ریام په اصل کښے د لفظ (رام) نه مشتق دے ـ چه معنی ے شفقت او مهربانی ده ـ په دے اعتبار سره د (معبد ریام ، رام) مراد دے د شفقت او مهربانئ د دیوتا عبادت خاندـ (ارض القرآن جلد دوم) ـ

د هندو دهرم رخنیدونه ورسټو چه هرکله په دے یکه د بدهه مذهب د ترقئ مثال بلکل ړے شو ـ نو هم دے بل مثال د پیر زرد او طن روښانه کهٔ ـ د دے ځاے مذهبی خانقاهونو زدرخیزئ او تبکلا دا زمکه دومره ښائسته او مشهوره کړه چه د چین پیرزائرین دے د طن د لیدو او مقدسو مقاماتو د زیارت دپاره د لټه دا غلهٔ چه په هغوئ کښے فاهیان ، هیون سانګ ، سانګ یون او چانګ پیر مشهور دی د دوئ د منکلو د مقدسو مقاماتو د زیارت نه ورسټو ایلم ټه هم ټلی وو ـ چه د هغے ذکر هغوئ په خپلو سفرنامو کښے کړے دے ـ دے ځاے مشهور چینه هغوئ لیدلے او اوبهٔ ے ترے څښلے وے ـ

لیکن د چا د سفرنامو چه موبر ټه د ایلم په باره کښے لږ په تفصیل سره څهٔ

بحث ملاویږی ، هغه د تبت دوه زائرین اوسیا خان دی چه دیونوم Orgyanpa او دبل (STaqTsam) دے، ځوک چه د ۱۲۵۰ء په نږدو شاکښے سوات ته راغلی وو. ولے چه د تبت خلق نن ورځے هم د سوات ژمکه ډیره مقدسه ګڼری اوچه د هغوئ په مخکښے د سوات نوم راځتے شی نو ډیر په ادب سره ډیر رحمتونه وائی اود عا ګانے غواړی - هر کله چه په دوئ کښے STaqTsam د لتّه راځے نو د غه وخت کښے د لتّه بدهه مت لا ډیر زوال موندے نه وو اولاځه نه ځه ژوند ورکښے وو هر کله چه Orgyanpa د لتّه راځے نو د بدهه مت د ترقئ او بخت ستورے د لتّه پریوتے اود اسلام نمر راختلے وو چه دا وطن روښانه کړے وو۔

دوارو سیا هانو د سیدو، منګلورِ، او ډی ګرام اوایلم دوره کړے وه - او ایلم او ډیګرام او منګلورِ تړے د Orgyam (سوات) زړهٔ ویلے وو۔

په دغه ورځو کښے به د تبت خلقو سوات ته Urgyon ویلو چه د هغے معنیٰ په سنسکرت کښے Uddiyana وه چه د هغے معنیٰ park باغ ده - هغوئ دا وطن مقدس ګڼلو، اوګڼری ئے ، ولے چه د هغوئ عقیده ده چه پاک padmasambhave د لتّه پیدا شوے دے - دوئ (دا سیا هان) لیکی چه هر کله مونږ د (Rayikar) سیدو نه مخکښے لاړو، نو د لتّه یوه دریاب (ځور) ډهیږی چه ورته (Kodom lahar) وئیلے شی چه د هغے نوم خاتهٔ ته و ilo (ایلم) هغه چینه ده کومه چه چینی زائرین یتو لیدلے وه " دوئ دا هم لیکلی دی چه د لتّه په ایلم کښے ډیرے ښوے، ګلونه اوباغونه دی، هر قسمه رنګارنګ مرغئ ورکښے ډیرے دی۔ د لتّه د هر قسمه خطرناک ځناوړ او اژدها ګانے هم دی د لتّه ډیر دوائی بوټی هم دی چه یو ورکښے ډیر شهوړ دے چه نرم Jatr دے - د غرهٔ په منځ کښے د چندنرو ګڼ او لوئے ځنګلونه دی - د غرهٔ په سر د زعفرانو پټی دی - د دے غر

په منځ کښے یو تالاب دے چه بادشاه Indrabhutio پکښے لاهی، چه دهغے چارچاپیره غارے ته د چندنرو لرګے ګولے شوے دے - ددے غرهٔ دننګه سوکه (چوټی) دهمالۍ نه دننګه ده - ددے وادئ شاته مله وادی ده چه دباتې شوی کنول دګلاپه شانے ده " دوئ بیا ددے ځائے نه کوهاکپ ته لاړهٔ او بیا سیدو ته اورسیدل دوئ د سید و په باره کښے یوکی چه بیا موټر سید و (Rajikasi) ته اورسیدو چه د (Indrabota) پاچا دګدئ ځائے دے - دا ګلے په دؤو حصو کښے تقسیم دے چه په یو کښے ۷۰ کوټه او په بل کښے ۴۰ کوټه دی - ددے ځائے خلق او غاصکر ښځے ډیرے لوئے جادوګرے دی - چه په هغوئ کښے څلور چه نومونه ئے دادی - Motemqi Jasasi Gasvri Soini

ډیرے مشهورے دی -

دا وه دایلم د غرهٔ د زور تاریخ نه یوه پاڼه - اوس به موټر لږ شان څه نور بحث اوکړو چه هغه د موجوده وخت سره تعلق لری - موټر مخکښے هم دا لیکلی دی چه دا غرد سوات او بونیر په منځ کښے د حد فاصل کار ورکوی چه دننګ والے ۵۰۹۲ فټه دے - د سوات په ټولو غرو نو کښے دا غرد یات پلن اوزرخیزه دے - په دے غرکښے سارا نئ ګډے، بیزے زمری او نور خطرناک څناور هم شته - قسما قسم مرغئ هم ورکښے ډیرے دی چه د رکے او لیتمان (مرغ زرین) ئے ډیر مشهور دی - د مرغ زرین صفت ئے لوئے شاعر سمندر صیب داسے کوی -

چه ئے اوګیدو د سوات مرغ زرین
د څټک تنذری چغه شوه "فقیر یم"

د مارا تو اژدها کا نو ورکښے او س هم څهٔ کمے نشته - څنګلی میرے ډکه تاسګوان، مانړو، کروړے بګنړے او کوتلان پکښے اوس هم ډیرے دی. په څنے ځایونو کښے

ے کیږي پرې هم شته - د قسما قسم څنګلي ګلونه خو دا غر وک دے او په پسرلی کښے خو
ټه په واے چه دا تپے ے هم دهٔ پورے کړے دے -

چه تورو غرو نوخدا ے مین دے
په سرے واوړے وروی په ویخ ګلونه

واوړه پرے ډیره کیږي او تر ډیره ناوخته پرته وی - نن صبا خو سپین مالوچ بنکاري -
په دے غر کښے ډیر قیمتی اودے فائدے جړی بوټي دی - هم دا وجه ده چه دا غر
د سنیاسانو نه نهٔ خالی کیږي - دګرمئ په موسم کښے ورته ګوجر خلق ځي، چه
دے ځائے په پریمانه وښو دهغو څاروو ګذاره جوړه وی - دغرهٔ په ویخ کښے
ډیر ښکلی ښکلی موسمی فصلونه کیږي -

واقعی چه دیو سړي نه چا تپوس اوکړ چه ستا په خیال د تپولونه لوے څیز
څهٔ دے - هغه اوویل ایلم - دغه سړي ترے بیا تپوس اوکړ چه ډیر بابا نه
هم لوے دے - هغه سړے حق دلق شو - وے نهٔ شم وئیلے - وے ولے - وے
څکه چه کهٔ وایئم چه ایلم لوے دے نو کافر کیږم اوکهٔ وایئم چه ډیر بابا لوے
دے نو پښتونے کچه کیږي - دا خبره کهٔ یوخوا د سترو پښتنو په ژبه دلالت کوی
چه د هغوئ سره دخپلے وینا اوخبرے څومره لوے قدر وی نو بل خوا د ایلم
په عظمت هم ګواهی کوی -

دے غر د لویئ یوبل عام ثبوت دا هم دے چه دے علاقے میانے هر کله
خپل ناز بینو بچوته دُعا کوی نو د نورے دُعا سره پیکښے دا هم اووائی - بچو په
دا ایلم غرشے - لوے شے - ماندارشے - یا بچو په دا ایلم دغرهٔ په شان اووه څه
ډِشه - او دُښے وړو نومونه خو هډو ایلم خان کیښودی شوی دی -

دے غر په ویخ کښے د ډیر بابا مزار دے چه په خاص و عام کښے ډیر مشهور

دے او په سوو نو خلقو ئے په مزار دُعا کا نو غو بنستو د یارہ حاضریږی - د بنتونخوا
لوئے شاعر ښاغلے سمندر خان سمندر هم یو پیړه په دے مزار حاضری ورکوله،
چه نظرئے دا ایلم په سُوکه پریوت - د هغهٔ عقابی نظر او اوچت تخیل دا سے
ووچه دے غرکهٔ گټه وه که لوټه وه - گُل وو که بُلبُل وو - موسم وو که هوا
وه - بلندی وه که پستی وه - د دے هر څهٔ ئے دا سے بنکلی ترجمانی او کړه او یوه
دا سے نقشهٔ ئے د هغے را بنکاره چه هغه د بل چا نهٔ کیدل مشکل وو څومره کشش
وو دا ایلم په څان کښے چه سمندر غوندے خودداره انسان ئے په دے ویلو مجبوره کهٔ

چه ؎ دا ایلم په سوکه ناست یم ژهٔ له ټول جهان نه پورته

د افغانی وطنی جذباتو څومره بنکلے ترجمانی کوی ؎

چرته اړخ اوچرته سُوکه چرته غونډه چرته نُوکه
څنه غږونه دی د خاور سے څنه کانړی نیغ له دوکه

اوچه سمندر صیب دے او نو بوټو ته او کتل نو هر یو څیز ورته لکه د آئین صاف
بنکاریدو - لکه وائی :-

پانړه څانگه کهٔ اغزے دے کهٔ وانښهٔ دی کهٔ دانه ده
پاک اوصاف دی یوله بله هر یو څیز بس آئینه ده

دا ایلم په هوا کښے څومره مستی ده، څومره نزاکت او لطافت دے - څومره کیف او
سُرور دے - لکه وائی ؎

گُل د گُل په تماشه دے صورت بنکاری په صورت کښے
د هوا په شان نشه ده هوا په لطافت کښے

دا ایلم په سوکه ناست یم
ژهٔ له ټول جهان نه پورته

پدے غرکښے د مختلفو مرغو د فراوانئ اود هغوئ د خوږو نغمو نقشه دے راکاږی ـ

دے خوا بوتو کښے شرسرو شی سیسٹی وا لوزی بر بنکه
د پستی په لوړی خلاص شی تپوس نه لرله کړنکه
د تندرو آوازو شه څنه لرے څه تر څنګه

د ایلم په سوکه ناست یم
زهٔ له تبول جهان نه پورته

د جنت د مرغزر (Butter Flies) نوے دومره بنکلے بحث کړے دے چه هم د بنتیا پرے د سړی د جنت د مرغو یقین کیږی لکه واړئ ـ

سپین اوزیر او سرهٔ بیوزی د چا برګ په کښے وزر دی
حیرانے د ورته یو سے څوبے مثله بنکلی غوږ دی
یو ترمله بنا سته بنکاری شل کهٔ سل دی او کهٔ زرد دی
کل ته او کورم کهٔ دوئ ته خدائے کو دوا ره جادو کړدی

د ایلم په سوکه ناست یم
زهٔ له تبول جهان نه پورته

دے غرکوے بلندئ چه د تبت سیاح (Orgyampe) په دے ویلو مجبوره کړے وو چه د دکوه همالیه د چوتهئ نه هم د نګه ده ـ سمندر صیب دے بلندئ ته په داسے دول د لفاظو جامه اغوندی ـ

لوئے لوئے کلی راته بنکاری لکه وی څوشو کوروته
او غنچه غنچه بنکاریږی د پستئ لوئے لوئے باغونه
آبادی په ستر کو لګی لکه وی صحرا زبونه

کله شی په ستر ګو تښته ۔ کله ښه ښکاری څیزونه

دا ویلم په سوکه ناست یم

زهٔ له ټول جهانه پورته

بائیزے که یو سفزے دے ۔ راته ښکاری تر خټکه

او صحرا خوندے ښکاریږی ۔ د خیبر نه تر اټکه

دا ویلم په سوکه ناست یم

زهٔ له ټول جهانه پورته

یا لکه مخکښے واؤ ۔

خلق لاندے دی په زمکه ۔ له هر چا نه زهٔ اوچت یم

له ملکه له د ښیسته ۔ له لوے خانه زهٔ اوچت یم

زوره ور دی را نه لاندے ۔ له بادشاه نه زهٔ اوچت یم

بادشاه څهٔ که شهنشاه وی ۔ له دنیا نه زهٔ اوچت یم

دا ویلم په سوکه ناست یم

زهٔ له ټول جهانه پورته

داوو ویلم د لوے شاعر نباغلی سمندر خان سمندر صیب په نظر کښے ۔ سړے په دے ویښلو مجبوریږی چه فردوسی، محمود پیدا کړے وو که محمود فردوسی ۔

دا ویلم سوکه په زمکه

ماته شوه له عرشه پورته

(۱) پنجاب پبلک لائبریری لاهور

(۲) سنټرل ټریننګ کالج لائبریری لاهور (۳) آرکیالوجیکل لائبریری لاهور

۴۔ دیال سنګه کالج لائبریری لاهور ۵۔ جهانزیب کالج لائبریری سوات

(چاپ "پښتو" مئی ۱۹۷۰ء)

"جُونوسر"

دتهذیبونو اوتاریخونو دکے زمکے سوات دومرہ دیر صفتونہ اوښکلا کانے دی دومرہ علمی، مذہبی اوثقافتی رنګونہ ئے دی، چہ سرے حق دق شی، چہ کوم کوم صفت، ښکلا او لوئی اوشمارم اوپہ کوم یوئے څہ اویکم - دے زمکے کہ دشتونہ دی، کہ ځنګلونہ دی، کہ سیندونہ دی کہ غرونہ دی، اوکہ واورینے څوکے ئے دی- خو داپوہ خبرہ بوتہ دہ چہ ہر څہ ئے ګل ورین دی - اوھرے علاقے اوناوے ئے پہ تاریخ اوتهذیب کښے لوئی کردار ادا کړے دے او دائمی دوام او افتخار ئے موندے دے۔

دسوات لوئے لوئے اودنګ دنګ غرونہ لکہ مالاکنډ، مُورا، شاہ کوټ، مابنې ګاروا، ایلم، دوہ سری، شانګلہ - اُرنړا، ګنګاں جبہ، پیښ سر- سورکار، چتہا، ګیرا بارامہ، جاپر، شلنو سر، پالاسر اوجُونو سر یواځے غرونہ نہ دی- دپښتنو دتاریخی اوثقافتی عظمت یادونہ دی چا چہ ځان تہ دیر دمذہبونو اوتهذیبونو دیر لوئے تقدس اولوئی ګټے دہ اوپہ عالمی ادب کښے دستائنے اواحترام وړ یادونہ لری -

پہ دے لویو اوتاریخی غرونو کښے دیو غر نوم "جُونو سر" دے کوم چہ دسوات دمدین پہ تاریخی علاقہ "تیرات" واقع دے -کہ یو طرف تہ ورکښے ګنډ، ګسو نو ځنګل دے- نو بل طرف تہ ورکښے دیر دکاں دداسی و دُنیا ملو دیرے ښکلی بوټی دی -کہ یو طرف تہ پکښے دپښتنو څہ داسے ورے ورے خو دیرے قدیمے اوزړے قبیلے موندے

شی، چه سړے ترے د پخوانی سوات د قبیلو د تاریخ په باب ډیرے ورکے کړی یو ځائے کولے شی، نو بل طرف ته پکښے د اسے آثار او روایات تر لاسه کیږی چه ترے د زرتشت مذهب بدهه مذهب او د آریانت خو نور معلومات په لاس ورتللے شی۔

د دے غږ رنګ والے په مختلفو ځایونو کښے د ښکلی زړه ښه ترنځلس زړه ټوټه پورے دے۔ چه ډیر ودان، سمسوره او شین غږ دے۔ او د سیلانیانو د پاره د مزے او خوند رنګ ډکه بنکلا لری۔

پکار دا ده چه د دے غږ په ساتنے تاریخی عظمت څه بحث اوکړے شی۔ د کوے د پاره چه دا ډیر مشهور دے۔ او د رګ وین نه واخله تر نن ورځے پورے د پښتنو په تهپو کښے چه کوم شهرت او د خوند رنګ بیان لری، د اسناب کښے م چه د دے غږ او علاقے څه نور د اسے عظمتونه را برخیږی کوم۔ کوم چه تر دے وخته پورے د دوستونکو د نظر نه پټ پاتے وی۔

د دے تاریخی غږ په ویښ کښے چه کومه علاقه د سوات د تاریخی بهاندسین پښے ښئی غاړه پرته ده۔ د غے ته د علاقے په مناسبت سره تیرات ویلے شی۔ چه د غه علاقه کښے بلها ډیر کلی دی لکه تیرات، راګستون، راګس، جاے کوټ، شنګل، ملاموئی مورپنډئی، شنګئی، کافرباڼه، ډنډه سر، شاهی سر، قندیل، رنډاسر، بکروسر، آریانه دامانه، قندیل او چورلکه۔ لکه څنګه چه د ورانے ذکر اوشو چه د اټوله علاقه د تیرات په نوم مشهوره ده۔ د غه وجه ده چه اول په لفظ "تیرات" ډیر شان بحث کول غواړو۔

د تیرات په بارا کښے لوئے محقق خدائے بخښلی قاضی اتر دیکی چه۔

" د دغه تاریخی ځائے د نوم لفظ (تیرات) د معنی په حقله د بعض عالمانو دا رائے ده چه لفظ "تیرات" په حقیقت کښے صفه لفظ دے

چه دهند ټی ډ بے رسم الخط مطابق تیراتھ او تیرتھ یکلے شی. لکه د پینبور شهر مشهور مقام (پنج تیرتھ) شه - چه مراد ترینه د هندوانو د عبادت ځائے دے او چونکه هرهغه زمکه چه هلته عبادت کولے شی هغه مبارکه ګڼلے شی . په دے وجه د تیراتھ (تیر اتھ) معنی شوه هغه زمکه (اَت) چه د (تیر = تار) یعنے اُور عبادت کیدلو اوهغه د آتش پرستی معبد وو[1]"

بیا غلے شرحے پرکاش دیوجی د تیرتھ په باب کښے لیکی -

چه د تیرتھ څلور مقامات بیان کړے شوے دی - (۱) دګوتم بدھ د زیکید نے ځائے (۲) هغه ځائے چرته چه گوتم بدھ ګیان حاصل کړے وو - (۳) هغه مقام چرته چه گوتم بدھ چکر چلولے وو یعنے په اولنئ ورځو کښے دښل تعلیم هدایت ورکړے وو - (۴) هغه مقام چرته چه بدھ په حق رسیدلے وو - تیرتھ درشن هم د عبادت پلولوئے جُز ګڼلے شی - د دے ټولو مقاماتو د درشن په خیال هلکشوان ، هلکشنے (پاسک (عبادت کونکی) او اپاسکا (عبادت کونکے) د تیرتھ یاتر[2] د پاره ځی[3]

د اُور د عبادت په باره کښے لوئے مورخ عجیب لیکی چه -

" په زړه زمانه کښے به دوی (اریا کانو) د اجرام سماوی او د قوائے فطرتی پرستش کولو ، په دوئ کښے نهٔ د تعمیر څهٔ فن وُو او نهٔ د بت تراشئ - د دوئ په کتابونو کښے د دے خبرے چرته هم ذکر نهٔ موندلے کیږی چه دوئ چرته د ګڼو څهٔ مندر یا قصر ساز کړے دے -

---

[1] سوانح د تاریخ په رنړا کښے ص۲۱

[2] سوانح عمری مهاراجه اشوک ص۴۸

پہ ورشوکانو کښے بہ پہ خیمو کښے اوسیدل ۔ د اکثی (اُور) عبادت بہ ئے
دد ے رس نوستلو اوپہ چلی بجنونو کښے بہ ئے ھم دد ے ثلونو خیزونو
منفتونہ کول[1]۔

داوی دعبادت ذکر دآریا کانو مقدسو کتابونو ھم ځائے پہ ځائے کړے
دے ۔ لکہ ۔

(۱) اے دیوتا ! دد ے بشکلی اُور دشغلی او دسوم رسن دیا کو قطرونہ
نوشحالہ شہ او زمونږ د اسونو او څارویو نہ مرضونہ لرے کړہ او زمونږ
دشمنان داسو لہ ماتے ورکړہ او ھغہ ورک کړہ ۔

(۲) اے سوم رس څښونکیہ اگنی دیوتا ! تہ دیا تو دھانونو اولاد
دلتہ پہ زور راوله او ھغوی ھلاک کړہ ۔ او دد ے اقراری کنھکا رانو
دوارہ ستر کے اوباسہ[2]۔

یوہ خبرہ داھم پہ نظر کښے لرل پکار دی چہ "سوما" دآریا کانو دریافت
نہ وو ۔ دا دوی دد ے زمکے دزرو خلقو نہ پہ میراث کښے پاتے شوے وہ ۔ دوئی دلتہ
مخکښے لکہ څنګہ چہ معلومہ دہ دلتہ دراور اوسیدل ۔ پوھان وائی چہ دراورو د
موھنجو داړو بنارونو آباد کړے وو ۔ لکہ چہ دراور یا تامل خلق دغلتہ لکہ اوسیدل
چہ ھم دد غہ ځائے دنورو ملکونو سرہ تجارت پہ اسانہ کیدے شو پہ دغہ ملکونو
کښے ایران ، عراق ، مصر او مشرق وسطیٰ خاص طور مشہور وو ۔ دنور تجارت نہ
علاوہ پہ دے کښے دسوما دبوټی خاص طور ذکر دے ۔ چہ داطبی بوټے پہ دد ے

---

[1] تمدن ھند ص۱۲

[2] اتھروید ۲۹ ۱ ص

ملکه د سند هیا آباسین په بندر بهرنو ملکونو ته لیږلے شو او په بین الاقوامی تجارت کښے ئے لوئے شهرت لرلو[1]۔

بله داچه دابوتے تر ډیرے اوږدے زمانے پورے د تقدس او احترام ګڼ بوتے پاتے شوے دے۔ ځکه چه کوډیونو نه علاوه دا د زرتشت او ګوتم بدھ دواړو په وخت کښے په ډیر خوند رنګ ذکر شوے دے او هغوئ ته د والئ په توګه وړاندے کړے شوے دے۔ داسے مجسمے د هغوئ شته چه دابوتې ورته په ډیر عقیدت وړاندے کړے شوی دی۔ او هغوئ په لاسونو کښے نیولی دی۔ د آتش پرستئ نه علاوه دسوات په زمکه د نمر او سپوږمئ د عبادت او عبادت خانو دوړ هم تیر شوے دے۔ لکه قاضی عبدالحلیم اثر یوبل ځائے کښے لیکی چه۔

" د ریام په ځمکل کښے د سپوږمئ او نمر بتان موجود وُو۔ روستو اسلامی مورخانو همدانی، ابن اسحاق او یاقوت حموی د لفظ (ریام) ذکر کړے دے او د علم لغت د ټولو محققینو عالمانو دا رائے ده چه لفظ (ریام) په اصل کښے د لفظ (لام) نه مشتق دے، نو د دغے په بناء داویلے شو چه (رام تخت) هغه (ریام) وُو یا (رام معبد) چه دلته د (نمر او سپوږمئ) عبادت کیدو[2]۔

دسوما بوتے:- دے باره کښے پروفیسر این۔ اے قزلباش لیکی۔

" د ټولو نه اول که د دارا د بوتو څه ذکر شوے دے نو هغه په "رګوید" کښے دے۔ کوم چه د هغه آریاؤ وړومبے، مقدس منظوم

---

[1] قند گنږه

[2] سوات د تاریخ په رڼا کښے منځ

کنډې د دریاۍ سندھ په غاړه آباد وو - دګویند "سوما" بوټی او د سوما رس (د سومه بوټی عرق) د صفتونو او د تعریفونو نه ډک دے - "سوما رس" د دیوتاګانو یو پاک او اسمانی څښاک ګڼلے کیدۀ - د سوما بوټی په صحیح نه تاتو تشخیص او پیژندګلوۍ کښے د همیشه راسے اختلاف راغلے دے - یکونکی د دے بوټی مماثلت بر رے (EPHEDRA) او د دے قسم نورو بوټو سره کړے دے کوم چه د کوه هندوکش او کوه سلیمان په سرو کښے پیدا کیږی - په پښتو کښے د هندوستان کښے د پیښورو وادی د علم په حقله یو اهم مقام ګڼلے کیدۀ ، او دا د ویدمذهب او تهذیب یو لوئے مرکز وو[1]

دا بوټے په لرے هندوستان کښے نۀ پیدا کیدلو او صرف د پښتنو په علاقه کښے ټوکیدلو - لکه رشید اختر ندوی لیکی -

" سوما د هندوستان پیداوار نۀ وو - دا د هماغے د اوختو څوکو د خواؤشا د علاقو یو مخصوص څیز وُو او په هندوستان کښے به په لټولو هم نۀ مونږ لے کیدو - د دے وجے نه د دے د اکم والے د د ے د تقدس سوب او ګرځیدو او یا میږانو د د مذهبی تهوارونو او قربانو د پاره مخصوص کړۀ - او د "سوما" څیز ات به یو د یر لوئے خیرات ګڼلے شو[2]

په پښتو نخوا کښے د دے د ټوکیدو او مونږ د په باب پروفیسر محمد نجیب لیکی :

---

[1] د دے میاشتیزه پښتو-۱۹۶۰ء ص ۶۹ [2] مغربی پاکستان کی تاریخ ص ۳۵۱

" گندھارا یعنے د پیښور وادئ د اویدونکو ویدونو د تعریفونه کړی دی چه دوئ "روحانیت" دی ، حُکه چه د سوما (هوما - هوم المجوس) د بوټی ساتندونکی او محافظ دی[1] "

د ے باره کښے د یو د سُودومان لیکی :

" داویدی په سرو دونو کښے ذکر شوے دے دکوے نه چه په ښهٔ شان سره واضحه شوے ده چه دا یو تل عمری شین بوټے دے او په اوچتو غروتو کښے پیدا کیږی - په څینو سرو دونو کښے سُوما داسے ذکر شوے دے - چه د دے رنګ د زړو د رنګ په شان دے - دا په کښین بوټی یاد شوے دے - د یو د شعرونه پرے لیکلے شوی دی - دا د جنسی طاقت د زیاتولو د پاره د یو ستایلے شوے دے[2] "

ترڅو چه آریایان اخوا اولړے هندوستان ته نهٔ وو تلی - نو هغوئ د بوټی ته د سوما نوم نهٔ وو ورکړے او دا بوټے به ئے په "هُوما" یاد ولو - دا خبره اوس یقین ته رسیدلے ده چه آریایانو د رگ وید څه اشلوکونه د سوات د سین په غاړه وئیلی وو - د ے باره کښے افضل پرویز لیکی :

" د گندھارا پاچا به پخپله د بهارت مذهبی عالمانو ته د ویدونو تعلیم ورکولو - دا پښتو لوئے فلسفی اُدا یک لیکلی دی چه د گندھارا نه محروم سړے داسے دے لکه د چا په ستر گو چه پټئ تړلے شوے وی - اوهغه رنړا ته گوری - په دے ادب کښے

---

[1] تمدن هند ص

[2] د رگ ص ۱۸

ددے ځائے د خلقو ژبے تہ ډیرہ پاکہ اوشُستہ ژبہ وئیلے شوی دی۔
آریا گانو دسوات دسین پہ غارہ ددینا د ټولو نہ زور کتاب "رگ وید"
رقم کړو۔ هغوئی دے سین تہ "سوشوما" او "سوس هوما" وئیلے دی۔
د رگ وید پہ زمانہ کښے یہ امیرانو اوراجگانو بہ د "سوم" رسم
دجشنِ بهار پہ طور دکال پہ ورومبی سر کښے د سپوږمئ پہ
اولہ یا پہ څوارلسمہ کولو۔ چہ پکښے عوامو تہ د تماش ښیو پہ
حیثیت عام اجازت وو۔ پہ دے جشن کښے بہ پہ رقص وسرود سرہ
زړہ خوشحالولے شوے۔[1]

څُکہ تو پہ پنجم وید منتر ۸۲ کښے ئے داسے لیکلی دی:

"اے بنیادمہ لکہ څرنگہ چہ یوہ طاقتورہ غوا نباتات خوری
او بنیادمولہ پرې اوپئ ورکوی، دغہ شان تہ ھم د میوو اوګلونو
رس پہ کارہ وہ اودخپل وجود او طاقت روح حاصل کړہ۔"[2]

ددے بوټی د نوم پہ بارہ کښے چہ ددے او لنے نوم څہ ووہ پوهان
دیوبل سرہ اختلاف لری لکہ ډاکټر مهدی حسن لیکی چہ:

"ددے بوټی دانوم دچینئ ژبے نہ اخستے شوے دے۔ چہ دا
پہ چینئ کښے HEMP وو۔ دابیا پہ اوستا کښے هوما HO-MA شو
اود H پہ S کښے د بدلون پہ وجہ پہ سنسکرت کښے SOMA شو۔
او دا پہ سنسکرت کښے دسوما پہ نوم پہ ۱۰۰۰ ق م کښے داخل

---

[1] نواهائے راز ص۵

[2] مذاهب عالم کی آسمانی کتابیں ص۱۴

شوے دے چه د Soma مانا ده تکول او د سوما مانا ده د تکولو په وجه
د اوتلے رس[1]"

سوما او سپوږمۍ :- په اجرامی دیوتالوژۍ کښے د نمرنه وروسته چندرمان یا سپوږمۍ مرتبه ده - دے ته سوم دیوتا هم ویلے شی - د دوشمیے ورځ دے سره منسوبه ده - په سنسکرت کښے سپوږمۍ ته سوم وائی او سوم یو بوټے هم دے - دکوے عرق چه دیر متبرک ګڼلے شی - دا به آریا ګانو دیر په شوق سره څښلو په ایران کښے دے بوټی نوم هوم یا هوما وو - او هلته هم دا د بامیرانو په شان د ایران په زرتشتیانو کښے د عبادت اجزاؤ په طور استعمالولے شو - دا ایرانیانو عقیده وه چه د سپوږمۍ یخے پلوشے د اپسدا کوی - دا اوس هم هندوان په دیر شوق په تهوارونو کښے استعمالوی - دلته دے ته علی بوټی یا حشیش ویلے شی او دیر زیات نشه ایز دے - دا د شمالی علاقو په اوچتو سرونو کښے پیدا کیږی[2] -

د سوما په باب لوئے عالم اروا بناد عبدالحئی حبیبی لیکی :

" دا دیو بوټی نوم دی چې په ویدی ژبه ئی (سوما) بولی امالکه په اوستا کې چې د ویدی ژبې (س) په (ه) اوړی نو په اوستا کې هوما را غلې دی دا بوټی هغه وخت آریایانو مقدس ګانه چې دوی لا په بخدی کې سره یو ځای وو اوبیا هندی او ایرانی ثمانګو نه وه ویشل شوې - دوئی به پخپلو مذهبی مراسمو کی دې بوټی شیره چښله او یوران مشروب به یې څنی تیار اوه چه نشه

---

[1] سوما آف رګ ویدا

[2] ارمغان ویدص

یې درلوده او ډیر مقوی اوتودوو۔

دا مشروب دوی په ډیر شوق څښله او ژوند ته یې تونکی او جاودانی عمر ښښونکی یې ګاڼه ، دریګویدې شاعرانو یې ډیر صفت کوی مثلاً په ریګویدا کی راځی - مونږ سوما اوښښل ځکه مړه کیږو نه پاتې کیږو ، دښمن په مونږ ځکه کولای سی د فانی انسان رخه به په مونږ ځکه اوکړی - د سوما مشروب دوی د آسمانی سوما (سپوږمۍ) یو ځانګړی یا شبنم ګاڼه چې د تل ژوند انه (امرت) حاصل وی - او ټول قوت او طاقت هم پکی پروت دی[1]

د "سوم" سره ترلی واقعات :- سوما او سورا دوا په نشه آور بوټی دی۔ په سوم یا سوما نوم بحث کیږی - خو "سورا" نن هم د سوات په ضلع کښې ډیر لوټے کلے دے -

(۲) نورون د کال لومړۍ ورځ د دغه (پسا) یادګار دے - دا (پسا) په مسلمانانو کښې هیڅ نه دے - د پسا یا چاد پلار نوم په ویدی سرود کی "ویواسوات" یعنی راختلی نمر او په اوستا کی "ویوانګاز" راغلی دی - مشره لور ئې "زریا" اوکشره لور ئې "یامی" نومیدله[2]

د پښتو صیب ددے په بیان نه سره تر دې حده دا اخذ کولے شی چه هسے نه چه د سوات نوم د سوما د بوټی په وجه د سوما + ات نه د "ما" په غورځولو سوات شوے وی۔

---

[1] د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک ص۱۰

[2] د افغانستان تاریخی پیښې ص۵

(۳) یوبل بوتے چه هغے ته به ئے مُو او مُولو وے ، دهغے دس به هم د
نشے او تبرک دپاره ټغنے شو اودهغے نوم یو کلے "مُو مولئ" په نوم ټن
هم تیرات کښے شته

(۴) سوم نات ، ناتھ - دګجرات مشهور بت خانه اومندر -
دے باره کښے تاریخ فرشته لیکی -

" وائی چه د نمر سپوږمئ د ټندر په وخت کښے به درې لکه
خلق دلته جمع کیدل او د لرے لرے نه به شکرانے دلته راتلے -
تقریباً دوه زره کلی د سومنات په نوم راجګانو وقف کړی وُو - دوُو زره
پامبرانو به دلته پوجا کوله - ګنګا د سومنات نه شپږ زره میله
لرے وُو - ولے روزانه د ګنګا په تازه اوبو به سومنات لښتلو -
دوه منه د سرو زرو یو زنځیر چه دیر ګرېالونه پکښے وُو - دلته
ټوړند وو - اودا به یو خاص وخت ټنګیدل - پنځه سوه ګډوونکے
او سندرغوے چنګئ د رے سوه سازګر په دے بت خانه کښے نوکران
وو - دوئ به بهجنونه ویُل - درے سوه پکښے منجوران وُو - چه
د بهر خلق ته به ئے د پوجا پاڼه طریقے بتوولے - درے سوه نایان
د هغو وانو د پاره چه بریت خړیُلو دپاره مقرر وو - دیرو راجګانو
خوبه خپله لونړه د سومنات د خدمت دپاره وقف کولے "

(۵) سوم - سپوږمئ - سوم وار د سپوږمئ ورځ -
پښتنو کښے دے ته ډکل ورځ ویُلے شی - آیا دا د سوما ډکل کیدو په

لہ تاریخ فرشته ص۶۷

مناسبت نو دا نوم نهٔ دے اینبودے شوے۔

(۶) چکدرے سره نژدے دیوے نو ئے خانقاه نوم سوماؤوددے ذکس ډین فیرنګی پخپل کتاب " نوټس ان ادیا نا " کښے په ۲۵ کړے دے۔

(۷) سومانګر :- دا د اباسین کوهستان دهوډ کلی زور نوم دے۔ چه پروفیسر دافی ئے په خپل کتاب "چیلاس" کښے Heroic city of moon په نوم کړے دے۔

(۸) د جونو سره علاوه د جونو غر ر کافرکوټ) علاقه خټک کښے شته۔

(۹) جونو ډیرئ د پورټ چکیسر په علاقه کښے شتے۔ ددے سره په ذهن کښے ددغے علاقے پورن ، رانیال ، اوپل ، بشام کلی سائل په کار دی۔

(۱۰) سوئی کرام د وګو بونیس سره اوس هم دکلی نوم دے۔

(۱۱) سومرناله ، سوم کلی ، سوی دره ، سومادره ، سوماسر د اکلی هم په اباسین کوهستان کښے شته دے۔

دتیراتو په ذکر کښے د آتش پرستئ بحث تاسو اولوستو۔ اوس دغه علاقه د بدهمذهب په باب دا سے وائی ۔ رشید اختر ندوی صیب لیکی چه۔

" دسیورتهی یو باچا دارابهائے د ساکیا قوم ر دګوتم بدھ قبیله) دومره زیات قتل کړے وُو۔ چه د پیو۔ پچی ئے هم ژوندی نهٔ وو پریښی۔ په دے قتل عام کښے څه خلق د دے ځایه اوتښتیدل۔ او د شمال مغربی د هندکړے کړے علاقو ته لاړل۔ په دوئ کښے یو سړی بیا ورستو په اودیانه (سوات) کښے د یو بدهم سلطنت بنیاد کیښو دلو۔ د چا زوئے اتراسینا چه په پنځمه صدئ قبل مسیح کښے یو لوئے باچا جورشو۔ او د مهاتما بدهم د ایرے او بترکاتو نه ورته باقاعده

حصّه ملاؤ شوله - چا چه بیا د منګلی په مقام په دغے یولوئے یا دکار
بوں کړو[1] -

خوددے نه یوبل زیات چاق بیان د اثار قدیمه او اثاریات د
بین الاقوامی ماهر ډاکټر ولی الله خان دے - صغوئی لیکی چه -

" سنګ یون وائی چه دے په ۵۲۰ ر په کندهارا کښے داخل شو
دے نه به ئے مخکښے پی - یو - لو ویلے - غالباً چه دانوم به د ناګا
اپالالا (NAGA APALALA) په مناسبت دی - چا چه به هر کال
د سوات په سین کښے طوفان راوستلو او ولس او خلقو ته به ئے
لوئے نقصان رسولو - او ځوک چه مهاتما بدھ په سمه لار راوستله -
او هغے بدھ مذهب قبول کړلو - او ورسره د اخبره خلاصه کړے شوه -
چه سیلاب به هر دولس کاله ورسټو راوستلے شی چه فصل هم
پیدا کیدلے شی او خلق د هر کالے سیلاب نه هم په امن وی -
ردد ے ځائے باچا د بدھ دهرم خلاف وُو)[2]

په سوات کښے څهٔ خلقو بدھ دهرم قبول کړے وو - وائی چه دغه
خلق په مهاتما ګوتم پسے لاړل او صغوئی ئے راوستل اودغے اپالالا ناګا نه ئے
خلاص کړل - او دا اپالالا ناګا به د سوات د سین په منبع کښے اوسیدله - ځوک
دغه منبع مهوډنډ د مټلتان علاقه بنائی - خو زیات عالمان دا د دراں اوسیدګئی
ډنډ بنائی - هم دغے ډنډ نه د سوات د بحرین سین را اوځی - او دغه ډنډ

---

[1] مغربی پاکستان کی تاریخ ص۲۶۱

[2] کندهارا ص۵۷

دجونو سر شاته په یو ډیر ښکلی ځای کښے یو ډیر لوئے دنه دے - چرته چه ډیره زیاته ښکلا ده - او چرته چه بے شمیره رنګا رنګ ګلونه ټوکیږی هم ددے جونو سر په لمن کښے دتیراټ په علاقه کښے د مُلا مولئ په مقام د مهاتما ګوتم بدھ د پښو عکس نه دی ، چرته چه هغه ګټان هم دی په کوے چه مهاتما ګوتم بدھ څلے لمدے جاے د اوچولو دپاره خورے کړے وے۔

دتیراټ علاقه څهٔ معمولی علاقه نهٔ ده - ډیر لوئے مذهبی حیثیت او تقدس لری - خو لوئے لټون غواړی ، چه د زړو مذهبونو او زړو تهذیبونو د شاندارو علاقے څخه دا وستے شی -

پښتو ټیه ، سوما او جونو سر :- دسوما بوټي ذکر مختلفو پښتنو پوهانو کړے وُو - خو دا په شفاهی ادب کښے مونږ اودسوات د جونو سر سره برابر کول د پروفیسر محمد نواز طاؔئر او د ډیر نامور مشهور یکوال بنا غلی جونز انډلوپسن کارنامه وه چه دوئ ددے بوټي سره د جونو او جونو سر د تعلق ځای ځای ښے او ښودلو - خو لکه څرنګ چه مخکښے بحث او شو چه دا بوټے په لرے هندوستان کښے ډیر کم پیدا کیدلو - نو مطلب دا شو چه ددے بوټي کور د پښتنو علاقے وے - او آریاګانو دا دسوات د میشتے په وخت کښے دلته د کابل نه د راتلو نه وړستو یو ځل بیا په ډیر مقدار کښے مونږے وو - بله دا چه د غه د کوهستان ، څخکو او نورو علاقو کښے هم ددے بوټي په نوم د علاقو او غرونو نومونه موجود دی -

پروفیسر محمد نواز طاؔئر د جونو سر په باب لیکی -

" زمونږ د ناستے د ځای نه هر اړخ ته ښکلی غروته ، شنهٔ اغزی او آبادے ، درے او لرے نمرخاتهٔ ته د کندیا او کالام سپینے واورینے سرد ے

نیمے نیمے پہ توره و وریځو کښے پټه بنکاریدے ، قبلے ته موجونو سر
او کاپرس وو اولاندے څوزره فټه بلکته ډیر په ژوره کښے ملکه
دتاش د پټو خوارهٔ وارهٔ وارهٔ کوږونه وو - دجونوس په حقله دا
ویلے شی چه دسره کافرو په زمانه کښے به دے سرته پیغلے جینکئ
ختلے اودلته یه ئے اتنږونه اوګرځانے کولے - دجونوس دګډا
دے خبرے ماته دآریائی قوم یو ډیر پخوانے دستور رایاد کړو - ممکنه
ده چه ددغه دستور ابتدا په زړو آریاؤ کښے هم په دے زمکه
چرته شوے وی - دستور داوو چه پخوانی آریا آتش پرست وو او د
اور په پراسراره قوت ددوئ کلکه عقیده وه - اوداورته د خدائے
د نور یو بنکاره او روښانه مظهر معلومیدو - داددوئ په نزد دیو
پُراسراره روحانی قوت حال وو چه دنفس او روح د ترکئے او پاکوالی
امکانات ئے لرل (لکه څهٔ رنګ چه اوس د چترال د کافرستان د سرکافرو
اهمه مذهبی فریضه ده) د ټولو مذهبی رسمونو په موقع ضروری
ګڼلے شو - ددے آریاؤ د ټولو نه زوړ مذهبی کتاب رګ وید
ګڼلے شی - چه دسوما نوے یوبوټی ذکر او ستائنه پکښے شوے
ده - او دابوټے ډیر لوئے مادی قدر و قیمت یو اقتصادی پیداوار
بیان کړے شوے دے - او په آخری بابونو کښے ددیوتاګانو د رسیدے
ته رسولے شوے دے - په رګ وید کښے دے بوټی ته د قربانئ
روح او د دیوتاګانو او انسانانو خوشحالی ویلے شوے ده - د
رګ وید له مخه دابوټے کمزورو ته قوت ورکوی په هغے زمانه
کښے دابوټے د روحانی قوت یو لوئے محرک وو - چه خلقو ته

ئے ژوند ، فارغ البالی ، صحت او خوشحالی بخښلے۔ ددے بوټی نه یه یو قسم شراب ویستلے کیدل چه "سوم رس" یه ورته وایۍ شو۔ د اصل سوم رس دیتارولو دپاره دا اهتمام کیدو چه د سپوږمئ په رڼا کښے یه دینۍ سیرت پیغلو دا بوټے راټول کړو ۔ او د قربانئ ځائے ته یه ئے پیره گډانو راوړو ۔ بیا یه ئے په روانو اوبو کښے اوونځلو او په سوچه پیو کښے یه ئے غوپه کړو ۔ ددینه پس یه کوټره کړے شو او چه رس یا اوبۍ یه ټرینه اوویستلے شوے نو شات یه ئے ورسره گډ کړل ۔ او بامبرانو یه دیو خاص رسم په ذریعه دے ته تبرک اوبخښلو او بیا یه دیوتاګانو ته داور په وساطت د نذر په دود پیښ کړے شو ۔ په دے سبب د جونوسر د پیغلو گډا ملکه ده چه د رگ ویدا د زمانے راسے ددے ځائے دستور وو او دغه لور سر له هم ددے کیله د "جونوسر" نوم ورکړے شوے وو۔

یه سپوږمئ ! سروهه راخیژه
یارے دگلو لوکوی گوتے ریښه
داتپه ددے پخوانی دوی یادگار معلومیږی[1] "

د ډنمارک بناغلی جونز انولډ سن خو د خپل شفاهی کتاب نوم هم په دے تپه ایښے دے ۔ د دے کتاب ترجمه په پښتو کښے میرمن یاسمین شیرجهاد خان کړے ده لیکی چه :

" دا خبره هم یاد ساتل پکار ده چه پخوا په زمانه کښے

---

[1] نالیدلے سوات ص۱۱۵

به د آریاؤ پیغلے د غرۂ سرته د شپے د سپوږمئ په رڼا کښے خټے چه کل شوے سوما را اوشوکوی ۔ دا دستور اوس په پښتونخوا کښے یوځی ورک دے خو د ویدونو د دور یوه اهمه مذهبی دستور ګڼ چه د سوما بوټے چه شراب ترے ویستے کیدل ، د دے د رودلو په خاص موسم کښے به پیغلے جینکئ د شپے مالے غرونو ته تلے چرته چه به دا بوټے راختو۔ هلته به ئے ګډا ګانے او رقصونه کول ، سندرے به ئے ویلے او دغه متبرک بوټے به ئے ریبلو ۔ په برسوات کښے یو غږ دے "جونوس" ورته وائ ۔ دا سے ویلے شی چه په دے غږ لاوس هم "سوما" "توکیږی"[1]

د پښتو ژبے او ادب لوئے محقق بنا غلی حبیب الله رفیع هم په دے باب تحقیقی بیک کړے دے ۔ خو د دغه مرغه سیوا د هیښ خلیل د یک د حوالے نه نور څه زما په لاس را نغلل ۔ لوئے محقق هیښ خلیل د شفاهی ادب د ټپے په باب لیکلی چه ۔

" ټپه کښے د انسانی ژوند د ټولو موضوعاتو د موجودګئ او هم د پښتو ټپے په اندازه ورک وید د ګا تو نو د حقیقت ترڅنګ هم تر ډیره حده د پښتو ټپے د قدامت اندازه په آسانه لګیدے شی ۔ یو مشهوره ټپه ده ۔ ؎

سپوږمئ کرنګ وهه راخیژه
یارے دلته نو کوی ګوتے ریبنه

د ډنمارک د بنا غلی جونز انولډ سن په خیال دا ټپه د آریاؤ د هغه رسم

---

[1] پښتو کالین نمبر ۱۹۸۸ء صفحه ۱۶۶

په کوته کوی چه دسپوږمئ په رڼا کښے به ئے "سوما" (هوما - اوما) بوټی پیسل اوبیا به ئے له دغو بوټو د سوما ست شراب جوړول د ے یکی -

چه سیوا له "سوما" نه بل هیڅ رنګ دا سے ګلونه نشته چه د شپے په وخت د اوږیدلے شی ، ځکه چه دا ګلونه دورځے په رڼا کښے نه ګیږی -

دبناغلی رانولډسن د عندئے په هم دغه مرسته او "سوما" یا "اومان" دحقیقت په ثابتولو کښے بناغلی حبیب الله رفیع د اشعر هم راوړے د ے -

دغزنۍ په سر اومان

ترے راووتل شین ستر کی طابان [1]

خلاصه :- پورته په ارت متې د سوما په بوټی ، د دغه مذهبی حیثیت د پاک لمنو پیغلو دا رودل ، بیا مشروب جوړول او د مذهبی تقریبونو په وخت د ے څښل اوبیا دا چه دا په اخوا هند وستان کښے نه پیدا کیدل او د ګندهارا علاقه د ے وپاره مخصوصه علاقه اوبیا په پښتو ټولنه کښے د ے په ذکر بحث اوشو-

تر تیرو شلو کالو راسے دا بوټے زما په نظر کښے وُو - جُونو سر ته ورپسے پخپله لاړم ، نور یو خُایونه مے ورپسے اولټول - خو چا دا بوټے په دغه نوم نه پیژندلو یوه ورځ زما زړۀ کښے یوه خبره راغله او ما د د غے د پاره "د هم درد فاونډیشن" مشر محترم داکټر محمد سعید صیب ته اوښکلو - ز ۀ د هغوئ منته کوم چه هغوئ په د ے څۀ موا د اودنګه ار تصویرونه راواولیږل - د تصویرونو سره خبره ډیر آسانه شوله - ځکه چه کوم بوټے مونږ دومره نایاب ګڼلو - هغه زما د کورکی خواؤ شا

---

[1] "پښتو" جولائی ۱۹۸۶ء ص۷

ښه پریمانه موجود وُو - یا زهٔ د اسلام آباد "نیچرل سائنس میوزیم" ته لاړم -
هلته معلومه شوه چه هغوئ پرے دیر کراوُ او تحقیق کړے دے - خو په سوات کښے
ئے نهٔ دے مونډلے - او د شمالی علاقو په لړے سر استور کښے ئے مونډلے دے - ما
دد ے ادارے د مشر ے میرمن ډاکټر صدیقه سره په تفصیل بحث اوکړو - چه
دد ے بوټی نه خو سوات وُک دے - هغوئ په آسانه زما خبره نهٔ منله - زهٔ ئے
لیږلړ ئ ته اولیږلم - هلته دنورو پوهانو نه علاوه یو دوه پوهان پښتانهٔ
هم وُو - چه یو دکوهاټ اوبل دکوئټے وُو - هغوئ خپلے جمع کړے نمونے ماسته
اوښودلے - د اولنئ نمونے ئے لیدو سره ورته ما عرض اوکړو چه هم دا بوټے زما د
کورکی سره د شلو کزو په فاصله موجود دے - هغوئ خوشحاله شول - دهر قسمه
تعاون یقین ئے دا کړو - او وے مونږ به پسے درځو خو که تاسو هم څهٔ نمونه مونږ
له راوړئ - نو ښهٔ به وی - ما ورله پوره غیږ ډاجمع کړے ده -

دد ے نه ورسټو ما د "هندرد فاونډیشن کراچئ" د هندوستان د "هندرد فنګر
پټه" را اولیږله - وئیل چه د دوئ سره رابطه اوساته - ما هغوئ ته خط اوپسکاړو
د هغوئ هم دیر ښهٔ جواب راغلے دے -

ما چه دا بوټے اوپیژندلو او یا ے مونډلو ، نو یوے خبرے زما پښه اوښوله
چه په بوټی کښے ګل نهٔ وو - ما خیال اوکړو چه انتظار ورته په کار دے - کیدے شی
چه ګل ورکښے لګی - خلقو هم وئیل چه په ډیره سرکښے وروکے شان ګل کوی - او
آخر دسمبر او اکتوبر په میاشت کښے ورکښے دغه ګل او لګیدو - خو ګل ئے دیر وروکے
او بابت نهٔ وُو - خو ما یوه غلطی اوکړه - چه دا بوټے د څښے مالے اونهٔ ساتلو
ذرهٔ کښے د ا خیال دے چه هسے نه چه دا بوټے د سپوږمئ په وجه د څښے مالے
بابت کیږی - او ګله د سورج ګرهن (کاپر ګل) دا هم د سپوږمئ سره د بابت کیدو

ترون لری ۔

یوځل بیا ماته "همدرد" نه خط راغے ۔ لیکلی ئے وو چه په دے پته د اکټر مهدی حسن سره رابطه اوساته ، هغوئ په دے بوټي د پی ۔ ایچ ۔ ډی دپاره کار کوی ما د اکټر صیب ته خط اویکلو ۔ د هغوئ جواب راغے "همدرد" او د اکټر صیب دوا رو د لیکلی وو ۔ او نیچرل میوزیم هم ، چه تاپرے څه کلی وال علاج ، استعمال او په ادب کښے څه ډیا مونډل ۔ مونږ ته به ترے نقل راکړے ۔ او ورسره ئے هغه مواد هم را اولیږل ، کوم چه د هغه دیانو ، یورو پیانو او خاص د چینیانو پوهانو د تحقیق نتیجه وه ۔ دا مواد دومره ډیر او وافره دی ، چه ما په دغے یو کتاب یا کتابچے د "سوما کلوته" اویکلو چه په وخت په ستاسو درانه حضور ته وړاندے کړے شی ۔

زهٔ د جونو سر او سوما بوټي دپاره چه کوم وخت د تیرات درے ته لازم دی هغه ته ټوس اوکړو چه دے ځائے ته جونو سر وے وائی ۔ قول خلق ټوخه وو ۔ چه پخوا زمانه کښے دلته دکافرو پاچا ګی وه ۔ د اغږ دلته ډیر دے ۔ د پاچا لونږے او د هغے سنګرے به په دے کښے دننه د شپے مالے تللے او د غږهٔ په غوکه به ئے ګډ اکاڼے کولے او سندرے به ئے ویلے ۔ ځکه ورته جونو سر وائی ۔

ګلونه او پښتانه :- ګلونه د ټولے نړئ د ښاد مو خوښ دی ۔ پالنه او حفاظت ئے کوی ۔ رنګ رنګ نمونے ورکښے پیدا کوی ۔ او د ښائست ورته حد نشته ۔ خو که پښتو ټبے او پښتنو ته اوګورو ، نو معلومه به شی چه د اقوام یعنی ښکلا خوښوونکے قام دے ۔ ځکه چه د دوئی نومونه لکه نورګل ، ثاقی ګل ۔ انغرګل ، ګل خان ، ګلاب خان ، ریږی خان ، ګلالے ، ګل بوستان ، ګل رویں ، ګل صدبرګ او دغسے ګلالئی ، پوښه ، ګل بی بی ، ګلاب بی بی ، پاپړه

ګل بدن ، ګل پری ، ګلونئ ، ګل څانګه ، ګل اندامه او داسے نور دیر۔

یا ددوئ دګلونمونه ګل کده ، ګلی بت ، ګل بیله ، ګلی ګرام ، ګلی باغ ، مکان باغ ، چار باغ ، ګل رخ ، ګل دیری ، ګل بدن او داسے نور په سوونو ګلونو نومونه دی چه ددے قام دګل خوښئ اندازه ترے په اسانه سره لګیده لے شي۔

پیغله :- پیغله هم په هر قام کښے د عزت احترام او درناوی علامت دے نو پښتانهٔ په دے کښے هم دنورو قامونو نه دیر مخکښے دی ۔ او پخپله پښتنه پیغله ځان ته هم څه داسے دپت او غیرت ډک مقام لری چه دنړئ د نورو پیغلو نه پخپله خپل لور مقام جدا کوی ۔ ځکه چه د پښتون قام د وطن دوستئ په هر ډګر پیغلو خپل ښځګری مات کړی او تورے ئے تر لاسه کړی دی ، او آخر خلق ئے په دے وینا مجبوره کړے دے ۔ ؎

که د زلمو نه پوره نهٔ شوه
ګرانه وطنه جینکئ به د ګټینه

پیغله د پښتنو د تاریخ د یا او د عزت یو خوند ور باب دے ۔ ددے د یا او پاک ملنئ په وجه ددے اندازه ددے ورځی مثال نه په آسانه کیږی چه کله هم په سوات کښے د چا په لاس کښے برېښ واوړی ، نو د یوے پیغلے نه د یچوکی تار غوښتلے شی د غه تار په لاس ترے شی او د غه شان د غه در ورکیږی ۔ کله چه د ملئ وریدل شروع شی او پاک ملنه پیغله منه انزو په غولی کښے اودروی ، نو د ملئ او دیږی چه باران ډیرشی ، خلق تنګ شی او چرته هم په وریځ کښے د نور سیره بسکاره شی او د غه د نور سیره د غه پیغله په اوبو کښے د نغری په سوی او د اغی نو باران اودیږی ۔

په پښتو ټپو کښے پیغله ، سپوږمئ او ګلونو او نمر نن هم په ډیر مقدار

کښے شته دے چه ددغے زوړ دور د "سوما" دغه واقعه په رنګ رنګ بیانوی:

سپوږمۍ تلوار کوه راخیژه
یارے دګلو لو له ځۍ ناوخته شوینه

سپوږمۍ ته یا رانیغه مه شے
د سپینو شپو د شوګیرو د اوخوړ مه

سپوږمۍ خو پریوته تیاره شوه
پیزوانه مخکښے شه چه ستا په رڼا ځمه

سپوږمۍ دیرے مینځ له راغله
جینۍ رانغله شوګیرے ورته کومه

سپوږمۍ د ځان سره پریږده
چه ددے سپینو پغلو اوکړمه سیلونه

سپوږمیه تا اوکړه سیلونه
درته پرته دی پسنے خلے تور اور بلونه

دغره لمنه راته نیسه
زهٔ جینکو سره غانې تولو پسے ځمه

دلیلیٰ دوه ځایه د ښا ستے
یا د سیند غاړه یا د لوړو غرو سروته

کوه کښے د پښو دکشمالو دے
ځکه د بوئیږ د پرتو غابنو دغوټئ ځینه

دغرهٔ په سر دګلو ویښ دے
یارے درویښ دے مینځنے ګل به راوړینه

دغره په سر د پښتنو جنګ دے

د ملک لور په پیکړو ویشتل کوینه

پاس په کمر ولاړه ګله

تیپ د چا ئے اوبه زهٔ درخیژ و مه

یارے په باغ کښے ورکه بڑی

ګلان شرمیږی مخ په پاڼو پټوینه

دیدن دکپتے په سر کښې دہ

زهٔ د در ال سیدګئی له ځم درواپه ئے خلمه

د جینئ خال د عقرب ستور ے

په لور و غرونو کښتے ئے مراوی کړل ګلونه

اوبهٔ د برګودی خوږ ے دی

د یونئ د خولے کنګال پکښے را ځینه

دغره په سر د بنامار نوشی کړه

چه دلے دلے یار وګان درخیژ و مه

دګودی هر پوښتے دارو دے

پرے لګیدلی دی د پښتنو پلو ونه

پښتانهٔ خو د رخصت په وخت هم وائی چه په مخه د شین سپرلے او زیړ ګلونه - دیو میلمه د ونه استقبال په ګل پاشئ سره کولے شی - په کافرستان کښے د "بو دالک" تقریب او د مخه استقبال په زیړ و ګلونو سره پیښلے نن هم کوی -

ژوندی خو ژوندی، د حق رسیدلو په قبرونو هم د ګلانو ګیدئ اینبودلے

شی - ددنیا د ټولو نه خوښ اوخښتی دالئ ګیښن هم دګلونو درس نه جوړیږی
اودپښتونو قیصو خو دالازمی جزو ګڼلے دباچا لوریه ئے دګلونو سره تللے -
دامشهور اوتاریخی بوټے چه د "سوما" او "هوما" په نوم مشهور دے - ښورته
هم دچترال خلق "سوما" وائی - په پښتنو کښے دا بوټے ښ په اسمانیه، اومان
بنده کے اوبره ړه مشهور دے -

هرکله چه دخلقو نه تپوس اوکړے شو - چه دا بوټے دڅه عـــلاج،
دارو دګ ملو په طور په استعمال کښے راځی اوکنه، هغوی اوویل چه -

(۱) دچا وارۀ ټول سوځی، یا ډیر اوپه تکلیف کیږی نو هغے دپاره ئے څښی -

(۲) کوم سړے چه "نامرد" وی یا شی - نو ددے بوټی په څښلو سره
بنۀ کیږی -

اوس تاسو په آخر کښے دتیرات اوجونوس په لمن کښے ددے
کلو لکه راګشون، راګس، شامی س، کافرباتوه، دنډوه س، قندیل، دنډاس، لکروس
آریا، دامانه اوچوړلکه - اودسوات دشانګلا پار دغورښتو ددے کلو نو مونو نه
ډیر پام اوکړئ - شنګ، تاکوټ، مارتونګ، بن شام، پورن، کم ریشی، رانړیال، بوټمال
اوپل، چکسر، پیرس اوجونو میدان او بیا ددے په رنړا کښے "سوما" ددور دغـــه
ګډا، نخا، اتنړ، پیغله، سپوږمئی، مذهبی تقدس او زور تاریخ نه فکر اوکړی نـــو
دیر دیر څه به ترے څرګند شی -

په سوات کښے زما کورنی نه مخامخ ددرمانے په غړۀ کښے دتخت په شان یو ځلئے جوړ
چه پالنګئ ګټه ورته وائی چه دنامعلوم وخت نه ورته پیغلے سره دوادۀ دجینئی کوربن والی له
ځی - هم ددے غړۀ په لمن کښے د سوما بوټی ډیر زیات دی - آیا داڅه زور رسم
خونۀ دے پاتے ؟ (ناچاپه)

د

سوات روښانه جمات

سوات چه یوه ډیره قدیمه خاوره ده او د مذهبونو او تهذیبونو خاوره ده خدائ خبر چه په دے خاوره څومره مذهبونه او څومره تهذیبونه تپوکیدلی او د خپلو اوسیدونکو ژوند ډوډۍ ئے څومره ښکلے کړے او معنیٰ کړے دے، او دے خاورے نور د ډیرو لږو ځایونو خلق په مذهب، فلسفه، شعور، علم و فن او امن مامور کړے او شتمن کړے دے۔

یو وخت دے هم وو چه دلته اصنام پرستی په زور کښے وه۔ د سوات د سین په غاړه درگ وید سرودونه و ټیلے کیدل۔ بیا د اور پرستئ، رڼا پرستئ او نور پرستئ یو دور شروع شو۔ نو بیا هندومت دغه هر څه په ځان کښے را او نغښتل او دلته د هندومت یو لوے دور دوره شروع شوله نو د یرزد په دے زمکه جین مت او بیا خاص کر بده مت راغلل د چا د امن، آشتئ، رورولئ او نیکئ فلسفے د هندومت هر څه د ښکه ډیوړل۔ او سوات د بدهیانو یو مقدس وطن او گرځیدلو۔ نو چه هر کله بیا د بده مت د سرنه د شاهی سرپرستئ سوے او چت شولو، نو هندو شاهی ټول وطن په خپل قدرت کښے واخستلو۔

د هندو شاهئ د جلال او جمال رنګ اسلام په خپلو رشتنو او ایدی اصولو سره ختم کړلو خو دا نه ده معلومه چې د هندو شاهئ خاندان مذهب څه وو۔ آیا دوئ د بدھ مت منونکی وو او کنه د هندو مت۔

لکه څرنګ چې سوات ته د دراورو، تاتار، آریاؤ، کشانو، ایرانیانو، یونانیانو، مغلو او انګریزانو راتلل اود هغوئ سره د دے خلقو مبارزے صرف د خلقو په سینو کښے دی او څه دا سے لیکلے تاریخ نشته چې سرے ترے په پوره ډول په څه مکمله او مستنده نتیجه اورسی۔

هم دغه شان سوات ته د محمود غزنوی د راتلو دا خبره زیاتی هرچا ته یاده ده۔ او د سوات د دغه وخت د راجه گیرا د لور شهزادګئ منجادیوی، د محمود غزنوی د سالار پیرخوشحال غازی د رشتونے عشق او مینے قیصے هرچا ته یادے دی، د دغه د لوئ جنګ د راجه گیرا شکست او تیښته او د محمود غزنوی کامیابیدل دا هر څه په هجرو او محفلونو کښے په خوند رنګ اوریدلے کیږی۔

د محمود غزنوی د دغے په وخت کښے د راجه گیرا د ګدئ ځائے او د پیګرام وو۔ دغه مضبوطه قلعه چې د دے کلی سره جوخت ګډیدلی غر په سر یوه مضبوطه او لویه قلعه وه۔ د کوے آثار چې نن هم ښه روښ رمټ دی۔ او د دغه غرهٔ نن هم د راجه په نوم په گیرا مشهور دے۔ او د کوم غر په وینځ کښے چې نن هم د سالار پیرخوشحال غازی قبر موجود دے۔

او د پیګرام لکه د سوات ۴۴ یو زوړ کلے دے۔ خو په څینو خاصیتونو کښے دا کلے د سوات د نورو کلو نه زیات د اهمیت او تاریخی قدر او قیمت ورکړے دے۔ یوه د اچه هم د دے کلی روږی اورا په وجه د سوات ژمکے ته او د یا نه وړلی شوی دی۔ بله د اچه دا کلے د ۳۲۶ ق۔م نه دمخه قبل تاریخ د دورو پورے یو واضح

تاریخ لری په دے دھرہ نمونه غټو او فاتحو بادشاهو کښه یوناتی، پارتھی ساسانی او سینوهُنو دور تیر شوے دے۔ دا په ټول سوات کښے یوغټ تجارتی مرکز وُو۔ پراخه او غټ بازار و نه ورکښے وو۔ دد ے ځائے خلق پوهه او باشعوره او تعلیم یافته خلق وو۔ د صحت د اُصولونه خلق خبر وو۔ مذهبی طور دے کلی ښه مشری حاصله وه۔ ډیرے عبادت خانے ورکښے وے۔ چه دلرے لرے نه به ورله خلق راتلل لاړے کوشے ځے پخوے۔ د کنده اوبو د ایستلو انتظامات ځے مکمل وو۔ د سوات د سیند نه ځے اوخوړے اوبه د پائپونوپه ذریعه راوستے وے۔ د دوئ د لرگی جوړ آبادی او قلعه کانے دد ے خبرے گواهی کوی۔ چه د خلق پیر مخکښے خلق وو۔ د لسته په لوئے شمیر مونډے شوے پیسے او سکے دد ے خبرے غټ ثبوت دے چه د لسته یو لوئی ټکسال وو۔ او دا خلق د "سکه سازئ" په فن کښے ډیر پوهه وو۔

د محمود غزنوی د حملے او په اول ځل سوات ته د اسلام د پیغام د راوړلو دوئے زبانی روایتونو په رنړا کښے ما ډیر پخوا دے باره کښے یو مکمل لیک چاپ کړو[1]۔ کوے کښے چه د محمود غزنوی راتلل، د ښیرخو شحال غازی شهادت، د راجه گیرا مرگ او د گیرا د لور شهزادګئ منجا دیوی دیو مسلمان افسر سره واده ذکر کړے وو۔ خوچه دا هر څه زبانی وو۔ او هیڅ قسم څه تحریری شهادت په منځ کښے نه وو نو دے پورے چه محمود غزنوی په هندوستان چه هر څومره زیاتے او ډیرے حملے کړے دی په دغه ټولو حملو کښے د سوات دد ے حملے ذکر نه وو۔ حالانکه دا د محمود په هند اولنئ حمله وه۔ اوهم دد ے ځایه

---

[1] د دے پاره اوګورئ زما کتاب "د سوات ګلونه"۔

محمود د ځان سره د سوات خلق د کومک او امداد د پاره بُوولی وو - او د هند په کفرستان کښے ئے د وحدت چغه پورته کړے وه - د کران وطن اتلی پوهان چه د تیرو دیرشو کالو راسے د سوات په زمکه په ځنځ د ارکیالوجستانو کار کوی - هغوی هم دا خبره په دے دول نه منله - اګرچه دوی ته د درنے قلعه د ځمائے نه څه د تسپو دانے د جاناز څه ټوټه او څه نور د اسے وارۀ څیزونه تر لاسه شوی وو چه هغوی د ګواهی کولو - چه دا د مسلمانانو د موجودګئ علامت دے -

د سوات د زمکے څه عجیبه غوندے خاصه ده چه تر دیر وخته پورے دیر د ازدونه په خپله مینه کښے پټو ساتی خو آخر یو ځلے ئے بهرته راګذار کړی - او د غه شان وخته په وخت د دے ډوړ ک تاریخ څه یوه ټینه مضبوطه کړۍ په لاس ورشی -

هم د دے باره کښے د غه چل په د غه اتفاقی دول اوشو - او هغه دا چه د میوزیم د اړکټ د اکټ نذیرا حمد خان پخپله عاصمه د معمول په دوره د راجه ګیرا د قلعه د کنټو د پاره تلے وو - د دیرو کرځیدونه ورسته چه ستړے شو - نو د دے د پاره د یو خټ خواه ته کښیناستو - هغوی ویلی چه تاسو په زمانظر په یوه تاسچه او لګیدو اګرچه د ځمائے ما د پیرے پیرے لیدلے وو - خو څه خیال مے ورته نه ووکړے - د دے ځل زۀ څه شکمن غوندے شوم - او زۀ کښے مے د اغله چه د اسے هرڅۀ چه د دے - خو د اثار قدیمه په باب څۀ خاص شے کیدے شی - او د دیر قدیم وړه او خیژی - ما ، زر ، زر هغه پریوتے ګټے لرے کړے - چه لاندے ترے د دیر زارۀ اثار د نبکاره شول او څۀ ګورم چه زۀ د دجات په یو محراب کښے ولاړیم " بیا زۀ ښکته د او د پیګرام کلی ته د اکوز شوم د یو د وست سره د چا یو د پاره ایسار شوم - د لته ما ته معلومه شوه چه یوځو ورځے

اکاهو یو سری د لته یوچینوزیک (کتبه) موندلے دی چه د عربی غوندے خط دے پرے[1]

د غه کتبه بیا د غه سری نه تر لاسه کړے شوه - او دا تیلی دریو پوهانو ارکیالوجستانو پروفیسر شیرا تو، پروفیسر گی وانا او پروفیسر مورینزو تیسوی ددغے لوستلو اوتاریخی زمانه یقینی کړه -

کتبه :- دا کتبه د سپینو مرمرو په چوپړه اوترا شلے کتبه په عربی کښے لیکلے ده - چه په اپوتهه مخ د شاهی خاندان (هندو شاهی کابل شاهی) د دور نقش و نگار جوړ دی دا کتبه ۳۷×۳۷ سینتی میتره ده - او پیرنروالے د شپږ ونه تر شپږ نیمو سینتی میترو پورے د غاړو اود مینځ پیرنروالے د تر پنځلس سینتی میتره پورے دے ټولے کرښے د شپږ دی - دا په نسخ کښے لیکلے ده - چه اعرابونه ورکښے استعمال شوی دی -

لیکلے په دے ډول دے -

(۱) بسم الله الرحمن الرحیم (۲) امر الامیر الحاجب ابو منصور (۳) نوشکین الخیری ادام الله توفیقه (۴) بنا هذا المسجد و الباوب (۵) سنه اربعین و اربع مائة تقبل الله (۶) منه و شکر سعیه -

ترجمه :- (۱) د بخښونکی او رحم کونکی خدائے په نوم

(۲) حکم ورکړے دے شهزاده (الامیر) الحاجب ابو منصور ته

(۳) نوشتکین

(۴) چوپړ ول ددے جامات او دروازه په میاشتو د

---

[1] East and west V-33-NO1-3 P 154 ITALI

(۵) کال ۴۴۹ھ (۱۰۴۹-۱۰۴۸) قبول ډګری خدائے

(۷) دھغهٔ له طرفه او اوږدستائلے شی کار دھغه قبول ډګرے شی۔

دا تلی پوهان وائی چه اګرچه دده کتبے یئ ریات نښلے نه دے۔ اونه دومره ریات صحیح دے خو وجے دا ده چه د دلته په دغه ورځو کښے دومره ریات او ښهٔ خوشتو پس نه مونږ ے کیدهٔ۔

دویمه دا چه دا کتبه چه په کومه کتبه جوړه ده۔ دغه د سپینو مرمرو ده۔ اولاندے توے د لوتهس (Lotous) جوړ دے۔ چه دا ے معلومیږی۔ چه د هندو شاهی دوخت په دے کتبه څخکښے څهٔ نور څهٔ یئ وو۔ دغه یئ لرے ګرے شوے دے او دا د عربی یئ پرے ګرے شوے دے۔

د کتبے نیټه :- لکه چه څخکښے عرض اوکړے شو چه په کتبه ۴۴۹ سنه یئ وه۔ چه د نذیر احمد خان د تحقیق مطابق په عیسوی سنه کښے د ۱۰۴۹-۱۰۴۸ر برابرده۔ نو دلته دا خبره په اسانه جوتیږی۔ چه یوخو دا جات د سلطان محمود غزنوی د حملے اود فتحے په وخت نه دے جوړ کړے شوے۔ بلکه دا چه دده جات د جوړو او حکم سلطان محمود غزنوی نه دے کړے بلکه د هغوئ د حق رسیدو نه دیر ورسته یوا میر نوشتګین دا جوړ کړے دے۔ نو آیا په دے دنرا کښے دا وئیلے شو۔ چه محمود غزنوی په سوات دسره حمله نه ده کړے۔ او په سوات حمله د هغوئ د اولاد په دور حکومت کښے کړے شوے ده۔

اصل خبره دا ده چه محمود غزنوی خپله ورومبئ حمله چه غازی پیر نوشحال ورکښے شهید شوے وو۔ او شهزاد ګئ متبادیوی دیو مسلمان افسر سره واده کړے وه۔ د غه حمله محمود غزنوی پخپله کړے وه۔ ځکه چه دلته روایات دومره دیر او دومره چاق دی۔ چه د سلطان محمود غزنوی د زامنو شهادت او د هغوئ د قبرونو

په یارا کښے خلق په یقین سره خبرے کوی۔ د محمود غزنوی حملے دیرے په تادیٔ کښے وے۔ هغوئ ددے ځایه بیا د هندوستان په لوری خپلے تګے او درنے حملے جاری ساتلے وی۔ د لښکر دا وړه غوندے علاقه ددے دپاره فتح کول وو۔ چه هغے نه چه محمود د پنجاب لویو میدانونو نه اوځی او د شا د طرف ے دا خلق ګیر کړی۔ او د هغوئ ددے ځایے د فتحے سره د غه ځای شه ختم شوے وه۔

بله دا چه دا ناشونے خبره ده۔ چه محمود غزنوی به د فتح په صورت کښے په سوات کښے څه ځمانتونه، ټاوی جوړ کړی۔ خو دا ضروری نه ده۔ چه کښے ے ورته ګولے وی۔ او که ګولے ے هم وی۔ نو کیدے شی چه لکه څرنګ چه د اجمات را بشکاره شوے۔ د غه شان یو بل جمات را بشکاره شی۔ او هغه د محمود د خپل حکم جوړ جمات او خیژی۔

نوشتګین:۔ د نوشتګین وخت د غزنوی خاندان د زوال وخت دے۔ ځکه چه د محمود غزنوی نه ورسته غزنویان په کوم کښے په جګړو بوخت شوی وو۔ او په دیر لږ وخت کښے درے څلور پاچاهان لکه مودود، مسعود، علی او عبدالرشید، زر، زر ے واګه کړی شوی وو هم دا نوشتګین چه د دے جمات جوړولو حکم ے ورکړے وو۔ دا هغه حاجب، امیر یا ګورنر دے څوک چه سلطان عبدالرشید د یاسین د غاړے د علاقو ګورنر مقرر کړے وو۔ په کتبه کښے د ده دوه نومونه ذکر دی چه یو "الامیر" دے او بل "الحاجب" دے۔ چه یو خطاب دے او دا بله عهده ده۔ لکه کمانډر، جرنیل یا ګورنر۔

نوشتګین یا د نوشتګین د تر کو په قوم کښے د غلامانو دپاره عام وو۔ دا د ترکئ او فارسئ شریک لفظ دے چه "تګین" ترکی ده۔ او "نشن" فارسی ده۔ چه مانائے ده پیدا ئشی شهزاده"

جمات:۔ دا جمات چه په اتفاق راول بیا موندلے شو۔ دا د اودیګرام

دکلی په نوم د راجه گیرا د غرۂ په لمن کښے په پوښ اوچت ځائے واقع دے چه گیر چاپیر ترے د آثار قدیمه پریمانه آثار دی - لپاسه پرے د گیرا لویه قلعه ده - چه په دیر ښه حالت کښے تر هم موجوده ده - لاندے ترے د غازی پیر حوشحال مزار دے - اوځۂ د نورو د هغه وخت د مسلمانانو قبرونه دی - اوس ورسره یوه اوسنئی مقبره هم ده - د اجمات د محمود غزنوی د غزنی د جمات په نمونه جوړ دے -

کنسټل :- هر کله چه نذیر احمد خان د غه محراب او د غه کتبه بیا موندله - نو بیا د اټلی پوهانو دلته کنسټل شروع کړل - او په دیره زیرک تیا او پوهه په دیر ښه حالت کښے د غه جمات دابرخیره کړلو - چه لوئے لوئے دیوالونه دے چه پوښ پرلن والے لری د جمات محراب په دیوال کښے د ننه دے - چه په دغه نمونه بل محراب د سوات په جاتو نو کښے نیشته چه د زور فن تعمیر اندازه ترے کیدے شی - د جمات په منځ کښے د اوبو حوض دے چه د اودسونو د پاره جمع کولے شو - خواته ئے غسل خانه او اودس خانه ده د جمات نه د باران د اوبو او د اودسونو د استعمال شوؤ اوبو د ایستلو بندوبست کړے شوے دے - قطب طرف ته د غټ دیوال سره ځۂ نورځ آبادی غوندے ده - چه د اسے ښکاری لکه چه د طالبانو د اوسیدو ځایونه دی ښۂ لوئے او ارت برت غولئے دے - معلومیږی د اچه هم د غه شنګین د راجه گیرا په دغه فتح کړی قلعه کښے اوسیدلو او هم د اد هغوئ "شاهی مسجد" وو - ځکه چه په دغه غرښه علاقه کښے ځۂ د نورو د اسے غټ کلی آثار نشته چه د عامو کلی د خلقو د پاره د اجمات جوړ شوے وی - عام جماتونه به لاندے د او دیګرام په کلی کښے جوړ کړے شوی وی - ځکه چه د غه یو لوئے ښار وو -

د دے جمات اهمیت :- د اجمات د یو لوئ تاریخی اهمیت ور جمات دے - ځکه چه یو خو دے کښے لګیدلے دغے کتبے هر ځۂ په واګه کړه - چه د جمات د بنا تاریخ

اودجورونکی تاریخ حاکم پته ترے په اسانه اویگیدی۔ اودگمان خبرے دمینځه لاړے چه دا به کله او چاجوړ کړے وی۔

دویمه داچه دے کتبے اودے جمات په سوات د غزنیانو د وړومبو اسلامی حملو تاریخ او خبره صفاکړه۔ او سوات ته د اسلام د راتلو د تاریخ زمانه متعین کړے شوه بله داچه د شمال د طرف نه د هندپه ضاوره دا اولنے اود سمندر د طرف نه د منصورے او د بهنبهورہ جماتونو څخه ورسته د پاک وهندپه ضاوره دا اولنے جمات دے۔

(نا چاپه)

زه دے مضمون د پاره د نذیر احمد خان، چاچه ماته دے کتبے فوټو او د موندلو معلومات راکړل. او د اټلی د ارکیالوجسټ ملکری فریټر فرانچسکو مننه کوم چاچه د غزنیانو د تاریخ او د جمات د کتبے سره مطابق معلومات راکړل۔

ملاکنډ

هسې نو ټوله دنیا د غرونو نه ډکه ده خو چې کوم اهمیت اولوڼ د پښتنو خواغرونه لري - د دنیا د غه ټول غرونه دې اهمیت اولوڼ نه محرومه دي. لکه د کوهاټ غاښې، د خیبر درې، د بولان دره، د کې غر، د ایلم سوکه، د ایبټ کنډ و اود ملاکنډ سر- ولې؟ چه د غرونه، غرونه نه دي - د پښتون د ځلانده تاریخ یا بوند دي، دې غرونو نومونه چه سړے واوري نو صرف په ذهن کښے دې غرونو پښې ازي شته دي، رنګ والے او یخ اوبه نه کرځي - بلکه دې په اوږدو سره د پښتون قام هغه یادونه تازه کیږي کوم چه هغوئ د سکندر، مغل، سکهو او فیرنګي خلاف یادیلے کړي دي اود خپل وطن آزادي ے په خپلو وینو او متو آزاده ساتلے ده - په دې لړیو غرونو کښے یو مشهور غر د "ملاکنډ" غر دے -

د په یقین سره ویل ګران دي چه دے غرۀ ته ملاکنډ ولے وائی اود کوم ورځے نه په دے خوا دے ته ملاکنډ ویلے شي خو په قول د پروفیسر احمد حسن دانی صیب وائی چه دے ځائے ته نزدے د ملیزئ خلق اوسیږي -

د ملاکنډ په لفظونو کښے "ما" یا "ملی" او یا "ملایا" د ملیزے نه کند یا کندها یعنی برخه چه معنئ ے شوے د ملایا غر برخه چه د آریاوو پخوانی ادب کښے زیات

شهرت لری" یا به دا سے اووایو چه لکه څنګه چه د روهیله خلقو په وجه روهیل کنډ مشهور شوے دے - هم دغه شان دد ے په وجه ملاکنډ مشهور شوے دے۔

ملاکنډ یوه دروازه :- لکه څنګه چه دره خیبر ډ اعظمګی ته د راتلو یوه واحده لاروه - نو هم دغه شان د ملاکنډ دره، سوات دیر، چترال او بلتستان ته د رانتو یوه عامه چلند لاروه چه دے ملاقو د پاره د دروازے حیثیت لری۔

تاریخی حیثیت :- لکه څنګه چه د پښتون وګړی زور تاریخ اکثر پټ دئ۔ هم دغه شان حال د ملاکنډ دے - صرف دومره معلومات شته چه سکندر هم په دے دره تلے او را تلے دے - او په سوات کښے په منګلور، اوډیګرام، بریکوټ او ما بنډ جنګیدلے دے - بل طرف ته کټ او کوټ او نور د ملاکنډ دمورے غرهم په تاریخ کښے څه خاص اهمیت لری - اول داچه د مشهور راجه چندر ګپت موریا، موریه ګ موریه ګغروه او دغه وجه نه دے خاندان ته موریا خاندان وئیلے شوی دی او دا خبره د ډیره حده قیاس ته ځکه پریوځی چه د خاندان نه یواځے د بدهمت منونکے وو بلکه هم دے خاندان دے مذهب روزنه کړے وه - نو کوم ورسټو بیا پښتنو بدهمت له پناه نه وے ورکړے - نو با مېړانو پښتنو د زمکے د ډنډ ورک کړے وو۔

مبله داچه هر کله یوسفزی د کابل نه شروع منګی شول - او دوابے ته د غلل او بیا د لنډه ډډ لاندے کوه جنجال نه اوزګار شول - نو د سوات د فتحے په تکل شو او د مورے سره ډیره شول خو د مورے غرد هغانانو نه ښه مضبوط کړے وو - او د یوسفزو هر اقدام بهرے نا کام کولو - په دے چل کښے دوه میاشتے وا سے تیرے شوے - آخر یوسفزو مشرانو په سواتیانو یوچل اوکړو - سواتیانو د مورے دره هم مضبوطه کړے وه او یوسفزی هم د دوئ ستاسے ته پرانه وو - د ملاکنډ دره هم د سلطان اویس په ما تحتئ کښے سواتیانو نیولے وه - ولے دوئ د

حملے نہ بے غمہ وو۔ یوسفزی چہ دے نہ ہیر شول نو شپہ پہ شپہ ئے خپل لښکر ملاکنډ
پہ لور اُولیګلو پہ دغہ شپہ د یوسفزو زنانو ؤ ھم لوی کار
اوکړو او ھغہ د اچہ دوئ د خپلو نارینہ ؤ پہ صلاح ټولہ شپہ سندری اوویدلے
وئیلے ۔ او پہ خپلو سند روکښے بہ ئے دا وئیل ۔ چہ سوات یانو ځان تیار کړئ ۔ صبا لہ یہ
زمونږ شاہ زملی ورځی ۔ بیا ؤ ځانونہ سنبال کړئ ۔ ھسے نہ چہ څہ ارمان مو پہ زړہ کښے
پاتے شی ۔ دے خبرو سوات یان یو ړل ھغوئ خپل طاقت ھم د لے جمع کړو ۔ بل لور
تہ یوسفزو شومہ دم پہ ملاکنډ حملہ اوکړہ او د سوات یانو لښکرئے پہ اوږو را لاندے
کړو ۔ سوات یان دے حملے تہ تیار نہ شول ۔ او یوسفزی پہ ملاکنډ ور واؤ ړیدل ھم
دغہ وجہ دہ چہ دا ځائے د یوسفزو پہ نظر کښے ډیر اوچت او یادگاری حیثیت لری ۔

مغل او ملاکنډ ۔ ھر کلہ چہ یوسفزو سوات ، دیر ، مردان ، سمہ ، بونیر ۔
چملہ او باجوړ اونیول ۔ نو ھم د دغہ ور څو خبرہ دہ چہ بابر چہ ھندوستان ئے
فتح کول غوښتل ۔ او چہ ھر کلہ سوات تہ راغے نو د ملاکنډ د غرسرہ اشنا شئ ۔ او
ھر کلہ چہ دوی دا کبر راغے او د یوسفزو او اکبر پہ منځ کښے شخړہ پیدا شوہ او
او پدہ شوہ نو اکبر خپل لوئی لښکر د بیر بل پہ مشرئ کښے سوات تہ را و لیږلہ ۔
دغہ لوئی لښکر د ملاکنډ د غر پہ خوا کښے د چکدرے پہ کوډس سوات تہ را پورے
وتے وو ۔ او چہ کلہ بیا وخت د اورنګزیب مغل راغے ۔ او د پښتنو د روایتی بے
اتفاقئ پہ وجہ ئے پہ دوئ کښے لار اوکړہ ۔ نو خو شحال خان خټک مجبور شو
چہ خوارہ وارہ پښتانہ ؤ د متابلے دپارہ را جمع کړی ۔ او ھم پہ دے سلسلہ کښے چہ
سوات تہ د ملاکنډ پہ دروازہ را ننوت نو دا ئے اووئیل ۔ ؎

پہ دا لار د شھسوار انو ختل گران دئ
کوہ دہ شو بہ باندے خیژے ملاکنډ دے

فیرنګے او ملاکنډ - هر کله چې باچا هی د مغلد کاله نه اووته او سوداګر فیرنګے ددے ډګے واکدار شو - نو هغه کهٔ په ټول هند کښے د چا نه خطره او ویره وه نو هغه صرف پښتون قام وو - فیرنګی کهٔ هر څومره زور استعمالوُ خو بیکاره وو - نو چې د کله نه ئے سیاست شروع کهٔ - او چُپنے نامردان ئے په لاس کښے وا خستل - نو څهٔ دومره پښے ئے په اوبو کښے شوے - چې د غرو نو په سرو نوئے چاوُ نړۍ جوړ کړے - نو د څهٔ غم غرض ئے نهٔ لوهٔ - نو په دغه ورځو کښے د جندول عمرا خان څوک چې د ځپلے مرانے په وجه په فیرنګیانو کښے په افغان نپولین مشهور دے - هغه د دیر قوت او لوئے علاقے څښتن وو فیرنګی کهٔ هر څومره هغه ته د صلح پیشکشونه کول - هغه نهٔ منل او آخر فیرنګی د هغه دوی کوُلو دپاره لام اوتاړهٔ - د اتپه ډګے لام صحیح تصویر دے -

چرته انګریز چرته چترال ـــ
بے ننګی زور شوه انګریزان چترال ته ځینه

آخر د پردو زور اود خپلو بے ننګئ عمرا خان اووا هه - نو جوړه ئے اونهٔ کړه - په دے جنګ کښے چرچل چې ورسټو د برطانیے وزیر اعظم وُو - په خپله د کپتان په حیثیت موجود وو - د هغه لیکلے کتاب " ملاکنډ فیلډ فورس " د پښتنو د نروالی د قیصو رک دے -

په ملاکنډ دیرے غټ ګانے شوی دی - هر یوهٔ ځان ته بیل بیل داستان لری - نو ټولے په جمع د ملاکنډ په غټا یادیږی -

ملاکنډ ایجنسی - د فیرنګیانو په زمانه کښے د ملاکنډ، سوات، دیر او چترال د سیاست سمبالښت دپاره په ۱۸۹۵ء کښے دا ایجنسی قایمهٔ کړے شوه - چې د دے لوئے افسر به د پولیټیکل ایجنټ په نوم یادیده چې میجر اچ - اے دیرنیے

اولنے پولیٹیکل ایجنټ مقرر کړے شوے وو۔

ملاکنډ ډویژن ۔ دکوے ورځې نه چه حکومتِ پاکستان، سوات، دیر او چترال په پاکستان کښے مدغم کړل ۔ نو دے دوارو سابق ریاستونو له ئے د ملاکنډ ډویژن نوم ورکه ئے۔

سړک ۔ لکه څنګه چه خیبر، بولان، تهوچی او ګومل وغیره ډنګ راډنګ لارے وے ۔ نو هم دغه شان به پخوا هم دا لار دتګ دپاره استعمالیده چه هر وخت بهئے د ټانګو د خپو د اوازونو او د مسافرو د ټپو مصرعو آوازونه اورپدے شول ۔ فیرنګی چه د "فارورډ پالیسئ" پامته وار وو ۔ دے طرف ته سړک ووینسته چه هسے نه د کابل امیران پے د شاله طرفه حمله اوکړی او دا دریاستونه اونیسی۔

بجلئ ۔ د سوات دونړ او تیږ سین چه ملاکنډ ته نزدے شی ۔ نو تلدئ هم کم شی او ورسره خوږ هم شی ۔ هم دغه ځائے نه سروے اوکړے شوه چه هیډورکس ئے په امان دره کښے دے ۔ او دا په صوبه سرحد کښے وړومبئے بجلی گهر وو ۔ خو په ۱۹۳۹ء کښے د جبن ملاکنډ په مقام جوړ کړے شوے دے ۔ چه ۱۹۶۰ کلو واټه بجلئ پیدا کوی د غسے په درګئ ملاکنډ کښے پوبل بجلی گهر جوړ کړے شو ۔ چه ټلور مشینونه دی پکښے ۔ د ټول پاکستان د بجلئ چور لټه دریمه برخه بجلئ هم د ملاکنډ ورکوی۔

نو لکه څنګه چه فیرنګی د سړک دپاره ډیر غټ کراؤ کړے وو ۔ غړئے کښلے وو ۔ او په څه ځائے کښے ئے اوس هم د یوورډ کی سورنګ لاندی لارئ څئ ۔ هم دغه شان ئے د سوات د سین دا رویه په غرکښے په میلونو اوږد سورنګ کښے بوټولی دی چه د انجنیئرنګ یو ښه کمال دئ ۔

د ملاکنډ دومره خوښئ دی چه کتاب نه کتابونه پے لیکلئ شی ۔ یواځے دے ځائے قامی غزا کانے چه د هر څه نه ډیر زیات روښانه منظر ونه لری ۔ خو دلته به پے ډیر

نه ځم - صرف یوه واقعه به نقل کړم - چه واقعه هم ده، تپه ده او پښتو هم.

په کال ۱۸۷۷ء کښے په ملاکنډ غزا وه په یوه کوس کښے دوه وروره وو - د دوارو د دوه شوی وو - یو وروړ شیرخان ئے غزاله والړ او هلته شهید شه - اویل ورور چه نوم ئے کیدړے وو د بزدلئی په وجه د غزا نه پاتے شه - کورته چه راغے نو د ده مور زلیخے ورته ووئی نه ورکوله، خبرے ئے نه ورسره کولے، او ښځه نحوئے دپلاس کړه تلے وه - پرده باندے تیول لعنت وایه - زلیخا یوه نره مور وه - وائی " زه د ے خبرے ته تیاره یم چه دیوے پښتو د پاره پرے د امن قربان کړم څکه چه پښتو ایمان دے او ایمان د سر او مال نه دیر خوښ دے وکیدړ د رور د شهادت خبر راځی - او آخر کیدړے پخپله بزدلئی ستومانه کیږی - لږم نوے غرته خیږی - او د تپه کوی چه

د ملاکنډ د سرطوی و ے

په اور ستی وے نحو تهمتی نه وے مئینه

او بیائے سر د لاندے را او د ا نګل او پوتې پوتې شو -

" پښتو ادب او ملاکنډ "

په کاښات کښے چه کوم یوشخیز څه نه څه کارنامه ښکاره لے د ه پښتو ادب هغه ځیلے ملنډ کښے ځمائے کړے د ه - نو بیا د ا نمونه غربه ترے څنګه پاتے شی -

په ۱۸۱۱ء کښے به یوشوشخیز ونه وراندے کړم -

(۱) په د الار د شهسوار انو نحتل کړان د ی

کوه د څو به باندے خیږے ملاکنډ د ے (نحوشحال)

(۲) په ملاکنډ تورځ تیاره شوه

د ها رون تورځ ځلاوه چه د نړا شینه -

د هارون خان سلارزئ هم د ملاکنډ د غزا یو ډله شهید دے ۔ د فیرنګیانو یو توپ چه ګوله باری ئے کوله ۔ هارون خان په فیرنګی ورانځے ۔ چه هغه ورته توپ سماوه ۔ دۀ یا په ټوپ دوه کړے وو ۔ او چه هر کله ئے پرے توره اوچته نو دا ئے اووے ۔

په ملاکنډ ټوپ تیاره شوه
هارون ټوپ هلاوه چه رنړا شینه

۳۔ د ملاکنډ بازاره ورانه شے
د کښے څرخیبن ی د رام داد د کور شالونه

د د تاریخ مالاکنډ د خانانو یوۀ ځوانړی واقعه ده چه د قبایلی جنګ جګړو خاصه ده ۔ په دے کښے نواب توري زن رام داد خان وژلے شوے وو ۔ او د ښمنانو ئے کور تالا کړے وو ۔

۴۔ په لیلا باندے زیړے وکړئ
ما نن د ښمن په ملاکنډی وشتلے دینه

په هغه ورځ کښے چه لاخلکو انګریزی وسلے ترلے او د ځیلے جوړے کړے وسلے د به ئے کار نه خست ۔ نو چه کله ئے د فیرنګی د ملاکنډ چاونړی لوټ کړے نو په دغے کښے چه کوم توپک ، خلکو په لاس ورغلئ وو ۔ نو دا انګریزی توپک خلکو په ملکنډی مشهور کړل ۔ د ټپے د ښائی ۔ چه کۀ یو طرف ته می انګریز د انګریز په توپک وشتے دے نو بل خوا د ښائی ۔ چه په ملکنډی ے وشتے دے ۔ ځکه چه خبرۀ په دا مشهوره وه ۔ چه د ملکنډی وشتے نۀ جوړیږی ۔

(۵) د ملاکنډ په سرے بنځ کښے
لاس ے بشکاره کئ چه جرګے رخصتوۀ

۶۔ روپئی خو پہ ملاکنڈ کښے ھم لاړے کئی۔

۷۔ ھسے د ملاکنڈ یو لټیکل دے

۸۔ د ملاکنڈ یہ ځمکہ ایجنسی وی

۹۔ د سوات سینے پہ ملاکنڈ کښے نازوری او باسے

۱۰۔ د ملاکنڈ ھوا وھلے دے جوړنہ دے۔

دے نہ علاوہ میاں آمان الملک صیب "ملاکنڈ" تہ دا سے وائی۔

د شہ زما روزہ شہ خبر د مالاکنڈ
لویہ یو قلا دہ عین پہ سر د مالاکنڈ
پوسے پہ درہ کښے د جین یو بجلی کھڑے
پوس تہ د فترونہ دی پہ غر د مالاکنڈ
څرمی کښے پہ ھص ځائے نمر خو بہ پہ بندہ لگی
بل شانے خو بہ لگی د غہ نمر د ملاکنڈ
خلق د در کئی دی اسودہ پہ تما تمرو
دوئی تہ دے رحمت باد صرصر د مالاکنڈ
د درہ عظمت کښے د خیبر نہ کمہ نہ دہ
تیر دے سکندر پہ د ھگدر د ملاکنڈ
ځائے پہ ځائے قبرونہ د غزا د شہیدانو
شنے جنڈے ولاړے پہ تخت د مالاکنڈ

د غہ شان یو بل شاعر محمد اسلام صیب ارمانی "ملاکنڈ" تہ دا سے گوری۔

د بریښنا یو لوئے طاقت ئے
د ایشیا د یو قوت ئے

تا کښے ویرے خزانے دی

تا کښے ویرے خزانے دی

تہٗ بارعبہ باشر یے

ملاکنڈہ بختور یے

دپښتون د زړہٗ آواز یے ھم نغمہٗ او ھم ساز یے

پہ چونگ ځاورہ بہ دښمن کړو ستا غیم سرہ بہ جنگ کړو

تہٗ زمونږ د زړګی سر یے

ملاکنڈہ بختور یے

ورشوکا نے ستا زر ینے شنے سرے ټولے دی دنګینے

تہٗ پہ صفت کښے دخیبر یے

ملاکنڈہ بختور یے

با جوړ دے کہٗ چترال دے ھر وکړے خوشحال دے

دیر او سوات ستانہ زاریږی پہ خفګان د خفہ کیږی

تہٗ کاروان یے ھم رھبر یے

ملاکنڈہ بختور یے

(چاپ "اولس" اګست ۱۹۷۷ء)

دامیلے غږا

د امیلے کیدو څارنه شول

خوراک ئے څه دے دکورووُلرمونځو

د فیرنګی په یکونو او خبرو پسے به په پټو ستر ګو نه ځو، ځکه چه هغه نمر په ګوته پټوی او هغه زمونږ کوم کار، کارنامے او کوم عادت تر ښه ویلی او کتلی دی؟ او بیا خاص کر د غزا کانو او جنګونو په باب کښے څومونږ دهغو په نظر کښے غداران، باغیان او سرکشه یُو - هغه زمونږ آزادی په غدر بولی، زمونږ وطن دو ستئ ته د جهل په نظر ګوری او زمونږ اسلام دو ستئ ته د تعصّب نوم ورکوی - ځکه چه زمونږ د غلامئ هغه جغ کوم چه زمونږ سے اتفاقئ، سستئ او غفلت مونږ ته راپه غاړه کړے وو دکوے مطابق چه اقبال وائی -

یورپ کی غلامی پہ رضامند ہوا تو
مجھ کو تو گلہ تم سے ہے یورپ سے نہیں ہے

څنګه نه دکوزیدو کوشش اوکړو او هندوستان مو محاذ، محاذ کړو - لیکن چه ځکه زمونږ سے اتفاقئ دبد قسمتئ د شکست اومات شکل اختیار کړو او مونږ د فیرنګی کوډ ایستو کښے پرے بیا نه موندو نو فیرنګی له ئے هم مزه ورکړه او زمونږ دے لوئے کوشش او مبارزے ته ئے د غدر، سپاهی ریوولټ او سپاهی وار نوم ورکړو - ولے دامونږ غداران وو؟ مونږ غداری کړے وه - که زمونږ دا غدر شو نو دا مریکے هغے ته ولے جنګ آزادی وائی -

ولے دا یو هم نه کوو چه زمونږ په قام کښے د څه ټوپ نه وی او هیڅ یو هیڅه د مونږ په خپل قام پسے د صفتونو نه وی او ټرو، هر کله چه د یو قام یکوالو دا سے کړے وی نو تاریخ دا سے قوم مګر تیا هیڅ کله نه وی کړے - دا سے کول نو خپل قام په خپله شرمول دی - او قام په تیارۍ کښے ساتل دی - قام ته یو ډهغوړ غفلتونه او بے پښتو کارونه په ګوته کول وی چه بیا بیا تندکونه اونه خوری -

تاریخ ګواه دے چه مسلمانانو آزادی په جنګ نه د پردے په سیاست یا ټیلے وه - یو بے اتفاقئ ے یا ټیلے وه - یو پیسه ے یا ټیلے وه - د مشرانو یو خرڅون او بیعه کیدلوے یا ټیلے وه - د فیرنګی یه مکر، فریب او چال ے یا ټیلے وه چه ډهغ غټ ثبوت دا سیلے د جنګ واقعات دی، د فیرنګی او د هغه وخت د نورو د یکوالو یکونه چه سړے او ګودی نو یو هغے کښے یو فریق دا سے نیشته چه سړے د الزام نه خالی وی - دے خلقو د قبائیلی رقابت په وجه یو بل ته ګولے دے او یا د فیرنګی پرو پیګنډے د اخلاق دا سے کولو ته جوړ کړی او تیار کړی دی -

زمونږ څرونډ ے تاریخ دا ګیر چاپیر غرونه دی کاش دا سے غرونو خبرے کولے شوے چه نن ے خپله سینه پرانستے وے او په دے قام او په دے غرونو چه څه تیر شوی دی هغے را برځیره کړے وے - ځکه چه په دے غرونو د پښتنو اسلام دوستو او وطن پالونکو زړهٔ وینے پرتے دی - نن که د پنځلسے صدئ ځوان بریت ټاوئ او شمله جګوی - نو دا هم دننے وینے ګرمی او حرارت دے - چه دهٔ تے د فخر او افتخار مقام ورکړے او پګړئ ے ورتے په سر کړے وه -

دا سیلے کنډوُ هم په دغه افتخاری غرونو کښے یو اوچت غږ دے - اګر که ظاهری اوچت والے ے د نورو غرونو نه کم دے خو د روحانی افتخار او شجاعت د ګلونو والے ے ډیر رنګ او لوړوالے - ځکه چه د ۱۸۵۷ء د آزادئ د جنګ د رستو چه د فیرنګی او پښتنو تر منځ هر څومره جنګونه شوی دی - د غه ټول د دے جنګ په مخکښے هیڅ کم دی - دا سیلے د

یوسف مندنړ په علاقه چمله کښے یو ښکلے او شهور ځائے اوکلے دے چه درستم مردان په سرک پروت دے - هم دغے چمله کښے نمر په خاتۂ کښے شل میله لرے د ملکا تاریخی کلے دے۔

د ۱ مبیلے جنگ وجه ۱۔

د جنگ د سابق ریاست سوات د چملے د ۱ مبیلے نوے کلی کښے په نحواؤ شا کښے په ۱۸۶۳ء کښے د پښتنو او فیرنگیانو ترمینځه شوے وو - ځکه ورته د ۱ مبیلے غزا وائی چمله او بنیر یو یادیږی - ددے وجے نه ځنے خلق ورته د بنیر غزا هم وائی او د سرکاوئی په جنگ هم شهرۂ دے - ددے جنگ سرد مجاهدینو نه ۱ نښتے وو او هغه د ۱ سے چه هر کله مجاهدین (بریلیا) په پنجتار او منګل تانړه کښے فیرنګیانو تنګ کړل - نو بیا هغوئی ستانړے ته لاړل - ځکه چه د ستانړے د سادا تو کورنئی د هغوئی کلک مرستیال وو او د هغوئی په وجه ئے لویه تباهی او بربادی موندلے وه - نو په ستانړه کښے هم فیرنګی دوئی پرے نه ښودل - د میجر جنرل سیډنی د مشرئی لاندے فیرنګیانو په ستانړه حمله اوکړه - ستانړه ئے په توپونو والوځوله، هاتیان ئے پرے اوګرځول، اونے او فصلونه ئے توتے توتے کړل د سادا تو کورنئی سره د مجاهدینو د دغه ځایه خپل یو بل کلی ملکا ته راغلل ملکا کلے د چملے په درہ کښے دے چه د دغه درہ د ملکا نه ترمردان برابر پرته ده - او هر کله چه فیرنګیان دے نه خبر شول چه مجاهدینو په ملکا کښے ټکاؤ اونیوؤ نو هغوئی د بنیر خلق عموماً او د چملے ۱ مازی خلق خصوصاً BLOCKADE کړل او بل طرف ته ئے د ملکا د غرهٔ شاته د ۱ مب نوایاته حفاظت او ساتنے د پاره د میشا یوه پلټن وا ستوله ځکه چه د مجاهدینو او د ۱ مب د نوابانو هم په خپلو کښے سخت کشمکش وو۔

مولوی عبدالله څوک چه دغه وخت د مجاهدینو مشر وو - چه د ۱ او لیدل نو د جهاد نعرهٔ ئے پورته کړه عامو خلقو ته ئے په دے غزا کښے د شرکت او مرستے اپیل اوکړو۔

د امبیلے په جنګ کښے د سید و بابا شرکت :-

سید و بابا څوک چه د غه وخت کښے د روحانیت له مخه د سوات د هر ے بنے بنے مالک وو - مولوی عبدالله د هغوئ خواتم سید و شریف تم لاړو او ورته ے عرض اوکړو چه فیرنګیان بنیر په زور اخلی که تاسو په دے وخت کښے زما امداد اونه کړئ نو هر څه به ختم شی او فیرنګے به دے وطن ته راشنه وځی نو معلومیږی د اچه د اخون صیب سوات او مجاهدینو تر مینځه د عقائدو اختلاف وو - او دغے وجے نه سید و بابا ملګرتیا نه پرے ایښودله - نو چه هر کله مولوی عبدالله سید و ته راغے نو سید و بابا ورته ښه اوکړل او امبیلے ته لاړ شو - هر کله چه دوئ امبیلے ته اورسیدل نو هلته ورسره شهزاده مبارک شاه او مولوی عبدالله ملاقات اوکړو -

مولوی عبدالحق فرمائی چه مولانا عبدالله د اخوند صیب په خدمت کښے د هاضر ید و سره ډیره په عاجزئ عرض اوکړو چه د تهولو نه مخکښے تاسو زمونږ عقائد واورئ چه زما عقیده په تا واضحه شی د عقائدو د اوریدو نه ورسته اخوند صیب اووئیل چه اوس د نوی څه ضرورت نشته زه تا خپل روی گنړم او په هر حال کښے به ستا خیر خواه یم - په مینه ورته غاړه وتی اووے وئیل چه نن زما اوستا په ناموس حمله شوے ده نو زمونږ فرض دی چه په جمع د انګریزانو سره جنګ اوکړو[1] -

هر کله چه انګریزان دے نه خبر شول نو انګریز کمشنر اخوند صیب ته اولیکل چه ته ولے په ناحقه خلق قتلوے - د برطانیے طاقت د پرلوئے دے - د غریب خلق د توپ او تفنګ مقابله نه شی کولے - ته درویش ے گوشه نشینی اختیار کړه - او مونږ صرف د مجاهدین د مکانه ایستل غواړو، د چا سره چه ستا هیڅ شه اختلاف پاتے شوے دے -

---

[1] سرگذشت مجاهدین ص ۳۵۶ -

اخوند صیب دے په جواب کښے او لیکل چه بیشکه چه تاسو ډیر زور وریئ لیکن ستاسو نه هم زیات زور ورته عادله او قوی هستی موجوده ده چا چه اصحاب فیل پسه توته توته کړکو تباه کړی - فرعون ئے غرق کړو او نمرودئے د ماشی د لاسه تباه کړو بیشکه چه زهٔ فقیریم - لیکن تاسو وله په فقیرانو بابیا حمله کوئ - دا طرز عمل ستاسو د حکومت دشمان خلاف دے[1]

دا ډیلے جنګ سوات او سیدو بابا د وار وته یو خاص مقام ورکړے دے - ځکه چه د اخوند صیب را پورته کیدل په سوات کښے د شپارسمے صدئ نه پس او له تاریخی واقعه ده چه د خانانو حاکیت ئے او سکونسلو او غلبه ئے پرے حاصله کړه - د سوات ریاست یو خاکه او تصوراتی د ا چه منظم کیږی او د سواتی نسل بنیاد کیښودے شی چه په دوا ره معلومو کښے د یو سنړو جاګیردار او معاشرتی تنظیم لاد کښے پریږدی[2] - او هغه د رحمان بابا خبره چه -

بادشاهی د ګدایانو په دعا شی
زهٔ رحمان ځکه بادشاه یم چه ګدا شوم

د سوات سابق شاهی نسل هم د سیدو بابا د لاسه موندے ده د بابا چا هی د هغهٔ د لاس کتله ده نکه اکبر احمد وائی چه د هغهٔ روحانی او اقتصادی حاکیت د خاندانی روحانی اقتدار د پاره بنیاد جوړوی چه ورسته د هغهٔ د اولاد په لاس کښے د سیاسی اقتدار حاصلولو د پاره مضبوطه وسله کیږی[3]

پښتانهٔ چه روایتی او منلی شوی بے اتفاقه خلق دی - دوئ که ډیرته هم چه ټرون کښے اتفاق کړے دے نو یوئے په دین اسلام اتفاق کړے دے او یوئے د غزا په میدان اتفاق کړے دے - د غه وجه وه چه د ا ډیلے جنګ کښے قول پښتانهٔ هغه کهٔ د سوات وو

---

[1] سرګذشت مجاهدین ص۳۵۹ [2] میلنیم اوکزما ص۱۴۲ [3] کزما ص۱۴۱

د بونیر وو، د چترال وو، د دیر وو، د باجور وو۔ کله د کابل وو، د وزیرستان وو، د کوهاټ وو، او کله د پیښور وو را جمع شوی وو او پوځ د سلو بیرغونو لاندے جنګیدلی وو، چه هر بیرغ د خپل خپل کوند نمائندګی کوله۔

واقعات :۔

مولوی عبدالله چه د سید وشریف نه واپس خپل ځائے ته اورسید و نو د فیرنګی روونه زره فوج د برګیډیر جنیرل چیمبرلین په مشرۍ کښے د اسپیلے کنډوټه نزدے سرکاوئ ته رسیدلے وو۔ هلته ے د غازیانو د مقابلے د پاره صورتے جوړے کړے وے۔ د فوځ د لښتے په ۲۰ اکتوبر ۱۸۶۳ء کښے را رسیدلے وو۔ مولوی عبدالله د ډیرے په نره په ۲۲ اکتوبر په دے ښکر حمله اوکړه نو مولوی صیب لویه غلطی د اوکړه چه د سواتی ښکر د رارسیدو نه ے مخکښے یواځے په لږ تعداد کښے ے د انګریزو په ډیر فوځ حمله اوکړه چه انګریزان هم پوځ مړه کړے شول نو ۵۳ غازیان هم پکښے شهیدان شول۔ انګریزانو د هغے حملے، کومه چه مولوی عبدالله په دوئ کړے وه بدله اخستل غوښتل۔ دے وجے نه هغوئ په ۲۴ اکتوبر ۱۸۶۳ء کښے د ډیمبر ویاس په مشرۍ کښے په غازیانو حمله اوکړه، اګرچه د حمله هغوئ په ډیر لوئے چال کښے کړے وه لیکن ګټه خاص مقصدے حاصل نه شو او هغه ځکه چه د سواتو اخون صیب چا چه د ۱۴۰۰۰ فوځ مشري کوله د مولوی عبدالله صیب امداد ته را رسیدلے وو۔ د اخون صیب یا صاحب سوات په دے فوځ کښے ۱۰۰۰۴ پیاده شپږ شلے سوارۀ او سل پکښے قامی بیرغونه وو۔ چه هر یو بیرغ د خپلے خپلے علاقے د غازیانو نمائندګی کوله۔

هر کله چه اخون صیب را اورسید و نو د مجاهدینو فوځ چه په تعداد کښے نهه سوه وو هم په دے فوځ کښے شامل شو۔ دے وخت په غزا کښے چه اول کواځ او اتلسته هم انګریزانو کړے وه نو بیا هم ۵۵۰ انګریزان پکښے مړه اود هغوئ مشر میجر ویاس پکښے سخت ټوبل شو د مسلمانانو شهیدانو تعداد ۴۵ وو۔

څه ورځې پس د ځوند یوبل ته ځای پرته وو. هوپه یوبل ځې د حملې سره راوتلې

آخر په ۷ نومبر ۱۸۷۳ء صحبت خان، چاچه په دغه ورځ د سراتی لښکر مشری کوله، په

انګریزی فوج حمله اوکړه - نیغ د دشمن په مورچو وړاندې اوخت اولاس په لاس جنګ ځې

شروع کړو - غازیان دا وخت په دومره جذبه کښې وو چه خپلې شړۍ اوشاړلې د توپونولو

کښې ورکړه او هغه ځې بند کړې چه چرته انګریز پرې وزاونډ کړی هغه ورځو کښې به توپ ډلې

د طرفه د کیدلے دوارې طرف ته به ډیر مړه اوژوبل کیدلې چه دے کمی د پوځ کولو د پاره

به دوارې طرف ته د سرو امداد راتلو، لیکن انګریز له ډیر او تربیت یافته او مسلمانانو

له کم هم او غیر تربیت یافته هم -

په ۹ نومبر ۱۸۷۳ء غازیانو ته نوې سنګری د باجوړ نه د فتح الله خان د زوی زمان

خان په مشرۍ کښې راورسیدل، انګریزانو چه دا اولیدل نو د هغوئ هغه خیال اوطمع غلطه

شوه چه ګنې هم رغه غازیان دی چه مونږ سره جنګیږی نو ښه نشته، هم هغوئ د رغه وخت

نه په غازیانو کښې چه د کمزوړو قبیلو خلق ورکښې وو، بے اتفاقی پیدا کول شروع کړل -

په ۱۰، ۱۳ نومبر غازیانو یوځل بیا په ډیره زوره په انګریزی لښکر حمله اوکړه په دوله

کښې غازیانو د هغوئ نه یوځو مړے وا خستے، لیکن انګریزی فوج ډیر مړے د غازیانو نه

بیا ډیر تباه وا خستے، په دے ورځ ډیر سخت جنګ وشو چه په کښې ۵۰ غازیان شهیدان او

۱۲۵ ژوبل شول لیکن ډیر ننګی هم پوښ زیان او نقصان بیا موندو - د هغوئ د طرف نه

د مړو ځخمګنو تعداد معلوم نه دے - البته د معلومه خبره ده چه کرنل ډیوډسن هم په دے

ورځ مړ کړے شوے وو ددے جنګ غازیانو ته ډیر زیات ګران پریوتو او هغه دا چه

په دے ورځ ډیر باجوړی غازیان مړه وو - څه باجوړی خو شهیدان شول او د

اسلامی لښکر تعداد پرے کم شو - او څه نورو په دے وجه هم کم شو چه نورو ژوندو

باجوړی غازیانو خپل شهیدان باجوړته یوړل -

اسلامی لښکر چه دا اولیدل نو ډیر ډیر ډیر پریشانه شول ټول یوځای ته راغونډ شول او د صاحب سوات یا سید بابا په مشرۍ کښے یوه جرګه اوکړه ټولو په جمع دا خبره نه ومنله کړه چه په دشمن باندے په لوئے تعداد کښے په جمع حمله کول پکار دی او د حملے د پاره د ۱۸ نومبر ۱۸۶۳ء نه وښ کړو - انګریزی فوځ د دے نه خبر شو نو لږ په شا شو -

قتل کړه :-

۳ خرد ۱۸ نومبر وخت را غله د کوے چه غازیانو انتظار کولو غازیانو په غره کښے په یو ډنګ ځائے چه ورته قتل کړه وائی موربچے جوړے کړے و ۱۸ نومبر د سحر په یوولسو بجو کښے غازیانو د فیرنګی په فوځ حمله اوکړه یوځل بیا د دښمن په کیمپ ور اوختل، بیا لاس په لاس جنګ اوشو - دوے ویشتو دے ځائے ته قتل کړه وائی - په دے وخت د فیرنګی له طرفه ۳۴ مړه او ۷۵ زخمیان شول - او د غازیانو له طرفه ۱۳۰ شهیدان او ۲۰۰ زوبل شول - دا هم هغه وخت وه په کومه چه د انګریزی فوځ مشر جرنیل چیمبرلین سخت زخمی کړے شو په دے وخت اګرچه زیان د غازیانو اوشو لیکن فیرنګی هم ډیر ویرے او هیبت واخست سمدستی ے په خپل فوځ کښے بدلون شروع کړو، د فوځ مشری ے د چیمبرلین په ځائے بل افسر ته حواله کړه -

غازیانو یوځل بیا قسمت ازمائیل او غوښتل او په ۱۵ د سمبر ۱۸۶۳ء کښے ۱۵۰۰۰ غازیانو د صاحب سوات په مشرۍ کښے په فیرنګی حمله اوکړه - د دے فوځ جنګ ډیر خطرناک وو - فیرنګی خپل پوره طاقت استعمال شروع کړو - د پنجاب د گورکهٔ ډګ نه ے فوځیان را جمع کړی وو تر دے پورے چه د واُسرائے هغه د حفاظتی د سته نه هم سپایان د جنګ له را غوښتی وو - دوهره فوځ دلته را لیږلے شوے وو - چه د میان میر چاونړۍ کمانډر چاچه به د پنجاب د حفاظت د پاره سپایان لیږل، د کورنو د حفاظت

دیارہ ے پہ مشکلہ ۲۴ سرې پیدا کړل ـ په دے ورځ ښه ګرم جنګ شروع وو ـ غازیانے ښه په نره جنګیدل ـ لیکن د انګریزی فوځ په مقابله کښے پاتے راغلل ، د فیرنګی ۱۶۸ سپایان مړه او ۶۷ ژوبل شول ـ ۱۰۰ غازیان شهیدان او بے شمیره ژوبل شول ـ

هم دے جنګ د بد قسمته ورځ وه چه غازیان په شا شول او دوئی په شاکید و سره فیرنګی را محکښے شو او د میلے کلے ئ اول قبضه کړو او بیلے ئ اوسوزولو ـ

غازیان دے ځائے د پریښودو نه ورسته بنیں کنډوټه چه اوس ورته بابا جی کنډو وئیلے شی اوختل ، دے نه ورسته آخری حمله په ۲۲ د سمبر ۱۸۶۳ء کښے د انګریزی فوځ د لوڼه اوشوه چه دوارہ طرف ته پکښے پوره نقصان اوشو ـ هم په دے ځائے د جنګ ختیږی ـ هوډ دے نه محکښے چه څه اوشول او د جنګ ولے بس کړے شو او دے نتیجه څه شوه ، لږ دیوڅو مشهورو خلقو رائے د جنګ په واقعاتو وراندے کول غواړم ـ که مشهور مؤرخ سر اولف کیرو لیکی چه د قبائلی جنګونه چه تر څومره پورے جاری وی د جنګ د غوندے تر زیاتے اوږدے مودے پورے جاری پاتے شو ـ قبائلی سړے صرف دیوڅو وړځو تو ښه د ځان سره واخلی او د کوره اوځی او د توڼی رسد د جاری ساتلو څه عام بندوبست نه وی ـ دے وجے نه که ځپړے اولتئ حمله ناکامیابه شی یا ئے جوش سوړشی نو قبائلی په خپله میدان پریږدی لیکن په امیلا کښے د انګریزانو په ځوکو دیوے میاشتے پورے حملے کیدلے ـ او دے نه ورسته هم دیوے میاشتے پورے به کله نه کله سختے حملے کیدلے کوم خلق چه د توڼی مهمانو په باره کښے د بنو لیکونو شوقیان دی هغوئی ته رابرټسن او ینګ حسینډ تصنیفات لوستل پکار دی ـ په دے تصانیفو کښے د برطانیے د توڼی تاریخ دیر ځیلدونکی نومود درج دی ـ په دوئی کښے براونلو کیسس ، نیوپل چیمبرلین ، گارډک او په خپله د رابرټسن نوم شامل دے ـ لیکن د دے نه چه په کومه خبره د زور ورکولو

ضرورت دے ، نو هغه دا چه په دوئ کښے هر یو د قبائلی دشمنئ په حیرت کښے د غور څونکے جهادرئ اعتراف کړے دے ۔ شپین زره فوځ ، درے په سر کښے ایسار کړے شو ۔ او هغوئ خونړے جنګ اوکړو ۔ په کریک پکټ او ایکلن نسټ "باندے هوفناک حمله اوکړے شوے ۔ په وړمبی باندے څلور حمله اوکړے شوے او په دے باندے درے پیسے قبائلو قبضه اوکړه او درے پیسے انګریز انو دا دوئ نه واخسته په انګریزی فوځ کښے د مړو تعداد نهه سوُ وته اورسیدو او قبائیلیان چه په دیره نره د توپکو په مخه راتلل دے نه هم زیات هلاک شول ۔ په خپله نیویل چیمبرلین هم "کریک پکټ" دحمله په مشرئ کښے سخت ژوبل شو ۔ "کریک پکټ" نن هم د قتلګاه په نوم مشهور دے ۔ دے خواؤ شاته د دوارو اړخونو د یوزر نه زیات خلق هلاک شول ۔ دا بر تښن د قبائیلیانو د بے کچه نرتوب او ښنګ هسبتلو د دوئ د نروالی د شان تعریف کړے دے [۱]

مسعود عالم ندوی صیب دے جنګ په بابت کښے لیکی چه سخت جنګ شروع شو ۔ په خپله جنرل چیمبرلین صیب سخت ژوبل شو اووڼ زره وته مړی ژوبل اورسیدل ، د توپ ل پنجاب چاونړو د فوځ پوره تګه کړے شو او سرحد طرف ته اولیږل شو ، دیخوا د اګرما کومی وه اوبل خوا د هندوستان واسرائے لارډ ایلجن صیب د حملے دغږۍ په دے حرکت او په زور د ځنګلے په وجه بے دمه شو او ټټ پټ مرشو [۲]

ندوی صیب د مشهور انګریز هنټر په حواله لیکی چه د ۱۸۶۳ء جنګ د پیرلوئے نقصان ورسټو مونږ ته دا سبق راکړو چه د مجاهدینو د چاونړو خلاف د معرکے کولو مطلب دا کیدے شی چه د دنیا د بهترینو جنګ بریږو تا مونږ د ۵۳ زره خلقو سره جنګ په سر واخستے شی [۳]

---

[۱] پښتانه ص۵۱ [۲] هندوستان کی پہلی اسلامی تحریک ص۸۵ [۳] ایضاً ص۸۲

په ټوله سرحدی علاقه کښے اور لګید لے وو۔ په نومبر کښے حکومت پنجاب خپلے نوځی څوکئ تودے حډه پورے خالی پیاموندے ۔ چه دوا سرائے کیمپ د حفاظتی دستے یوه حصه سوالی وه۔ او غو ښتلے شوه په سوروشتمله د سلطنتی پولیس یوه دسته د سوا صلاتو د حفاظت دپاره او لیږ لے شوه ۔کوم چه د دشمنانو په وجه په خطره کښے وو۔ د ۱۹۔ نومبر پورے حالات دومره ورانشوی وو ۔ چه د برطانوی هندی فوځ کمانډر انچیف په تاریخ سره لاهور ته راورسید و او د جنګ ټکرانی اوشریے په خپل لاس کښے واخستله ۔

مخکښے دا وو ځیلے شول چه فیرنګی خپل پوره طاقت په دے جنګ کښے استعمال کړو خو بیا ئے هم خپل مقصد حاصل نه کړے شو۔ او غازیان ئے یخی ختم نه کړے شول ۔ فیرنګی چه د غازیانو اسلام دوستئ ، وطن پالنے ، شوق ، جذبے او د فیرنګی سره کړے او نفرت ته او کتل نو پوهے شو چه دا په جنګ نه ګیډی څه بل چل پکار دے او هغه دا چه په رشوت چل و تی ، سیاست او پروپیګنډه ئے غازیان په کور کښے په یو بل بدګمانه کړل۔ په خپلو کښے بے اتفاقه شول ۔او دیو لښکر د بد قسمتئ دپاره دبے اتفاقئ نه بله غټه وجه څه کیدے شی ؟ ۔

دویمه دا چه دا انګریزئ فوځ په مقابله کښے د غازیانو سره دارو مرد کی او سامان رسد دیر کم وو او دومره لوئے او اوږد د جنګ له دیر امینشن ضرورت وی ۔

دریمه دا چه دبا جوړی غازیانو په تلو سره د غازیانو په تعداد کښے پوره فرق راغلے وو ۔

څلورمه دا چه غازیان د فیرنګی د لښکر په مقابله کښے غیر تربیت یافته او غیر منظم وو۔ دا منم چه په دوئ کښے د جهاد جذبه دیره زیاته وه لیکن پوسپاهی یو مجاهد له د جذبے سره سره د تربیت هم ضرورت وی ۔

غټه وجهٔ دیوبل سره د عقائدو اختلاف او پټ په پټه د فیرنګی سره ملګرتیا
وه - د غه وجه ده چه خبره د جنګ په ځای صلح ته اورسیده له - د قبائلو بے کچه
زیات تاوان شوے وو او د دغ تاوان په ډنډا کښے د هغوئ دا یقین راغلے وو - چه هغے
نه چه صرف د ملکا د پاره فیرنګے په ټول سوات او بُنیر قابض شی - فیرنګے هم به د ډیرۂ
شوے وو - چه هغے نه چه د دے جنګ په وجه چه د سرحد ټول قبائیلی څۂ چه د کابل
خلقو ورکښے حصه اخستے وه - اوس د دلته د راتلو موقع په لاس ورشی او خبره ډیره
کرانے له لاړه شی او په فارورډ پالیسئ به اثر اوکړی - د غه وجه ده چه دواړه
طرفته صلح ته ډیوا له وو -

د صلح د پاره د خبرو شروع شوه چه فیرنګیان د خپل فوج واپس مردان
ته بوځی او قبائل به هم خپلو خپلو کورونو ته واپس شی - خو دلته د فیرنګی د
وقار سوال وو - چه د دومره خونړی جنګ نه پس څنګه تش کورته واپس شی - د دے
ویے نه صفه په ضد وو - چه مونږ به ملکا خامخا سیزو -

آخر صلح هم په دغے اوشوه - چه د بُنیر د خان په مشرئ کښے به انګریزی لښکر
ملکانه لاړشی او د غه به اوسوزوی او بیا به جنګ بند شی -

سر اولف کیرو د دے په باره کښے لیکی چه " اخوند د سید و بابا) هم د دے
پالیسئ ملګرے وو - هغه ته د ویره وه که پترے سر تیری مجاهدین په خپل ضد
او د ریږی نو قبائیلو ته به نقصان اورسیږی او هغوئ به د خپلے آزادئ نه لاس
اووینځی - د اخوند صیب د هم خیال وو چه د ملکا په تباه کولو سره به د ستانړے د
ساد تو زور او وقار کم شی چه د هغے په نتیجه کښے د اکیدے شی چه د اخوند صیب
وقار زیات شی - د حقیقت د دے چه په بُنیر کښے د پیر بابا د زیارت په مقابله کښے چرته
چه د سید اکبر او مبارک شاه د مشر مزار دے په سید و کښے د اخوند مزار د خلقو

د زیارت ځای جوړیدو ددے وجے د بُنیر خانانو تہ اوو ټیلے شول په هغوئ د صلے پیش کش اوکړی هغه د وګړو زید اللہ خان په قیادت کښے په دے خیره رضامند شول چه هغه به انګریزو ملکشن سره دیوے ورکوتے محافظے وتے وځان سره ملکانه بوځی - د هغوئ په مخکښے به دا کلے وران و بیجار کړے شی [1]

کیټو ویر د کار خبره کړے ده ځکه چه دا جنګ یو اړخیز دے دغیر ملکی او قبائلو تر منځه نه وو - بلکه دا په کوم کښے د "دوو ګدو" جنګ هم وو - او هغے ګدے دا غوښتل چه کټه هغے ته لاړه شی او ورسره د دوارو ګدو په منځ کښے د مذهبی عقائدو اختلاف هم وو - البته دا خبره چه دکه ځنګه په صلح نامه یکلے شوے ده - او کومه چه عامه شهرت ده چه فیر نګیانو ملکانو سیزلو، لوټے ګټے کړو - نو دا داسے صحیح نه ده که په دے باب کښے موږ صرف او صرف د ملکانو د بُنیر د خلقو په روایاتو یقین اوکړو - نو هغه دا چه فیر نګیانو نه ملکانو سیزلے وو او نه ئے لوټے ګټے کړے وو چه د هغے تائید او مرسته د سید عبد الجبار شاه غوندے مدبره سیاست دان مؤرخ او عالم دا وینا هم کوی چه ملکانو زموږ خپل ملکیت دے او موږ ته صحیح علم دے چه یو کوم او یو څپیر قدر ے نه دے سیزلے شوے - د بُنیر کومو خلقو چه د انګریزو په فاتح جوړولو کښے د یو مدد کړے وو - هم هغوئ خندر شول - هغوئ وئیل چه د ملکانو سیزل زموږ ذلت دے دیوے کوتے بینش د سیزلو کوشش اوکړے شو نو هغه هم پرے کړے شو او انګریزی فوج تر ملکانو لاړ شو او بیا واپس راغلل [2] - او چه هر کله د "ګدو" مقابلے ته کوم او نو د سوات ګدئ میدان کښے دے - اګرچه د سید و بابا د وفات نه ورسته د ستانے د ګدئ مبارک شاه تر شپیر و میاشتو پورے په سوات باچاګی کړے وه خو د غه عامه مشری وه او بله دا چه کامیاب هم نه شو اګرچه دده نه ورسته

---

[1] پټهان ص ۵۱۳ [2] سرګزشت مجاهدین ص ۳۶۵

دستانړے وگدئ یوبل تامتوسیا ستدان پوئے اوقابل منتظم اویوښهٔ عالم فاضل سید عبدالجبارشاه ټهٔ په سوات د باچاهئ موقع سوا تیانوپه خیله ورکړے وه نو هغه هم ناکامیابه شئ - په هغه دقادیانیت فتوئ لګولے شوے وه - اوهغه وو هم قادیانے او احمدی نوزمابه خیال د هغهٔ باچاهی دقادیانیت فتوے ده . انګریز د شمنئ درے ورے کړے وه - اود هغه ځائے د سوات گدئ یوبهترین ناظم او مدبره میاں گل عبدالودود اخستے وو چه ورسټو بیاهم درنے گدئ خلقو چلوله -

د اغزا اګرچه د سوات په علاقه کښے شوے وه لیکن ددے اثرات تر دیره لرے لاړل ، په دے غزا کښے د دیر ، باجور ، مومند و ، وزیرستان ، سوات ، بونیر ، مردان ، پیښور او لرے هندوستان خلق شامل شوی وو . دهندوستان نه چه کومو خلقو دے غزا کښے جسمانی یا مالی طور حصه اخستے وه هغوئ له فیر نګیانو سختے سزا ګانے ورکړے لکه (۱) خلیفه احمدالله صادق پوری انګریزانو دے د باچاهیتو مشر گنړلو د هغهٔ کور او خاندان ئے تباه کړو - د هغهٔ له ئے د ټولو او بوسزا ورکړه او دے هم هلته وفات شو

۲ - ابراهیم منډل - دے د صوبه بهار د تاج محل اوسیدونکے وو ، قید ئے کړو او جائیداد ئے ورله ضبط کړو .

۳ - مشهور کسان مبارک علی او تبارک علی ئے هم په دے الزام کښے ایسار کړل او د عمري حبل سزا ئے ورله ورکړه -

۴ - امیرخان - دهٔ باندے دا الزام اولګولے شو چه دهٔ د غازیانو مالی امداد کړے دے - د دے د ښځے یو کروړ روپئ سود اګرو - ټول جائیداد ئے ورله ضبط کړو .

د انګریزانو د زور زیاتے په دے مسلمانانو باندے تر ۱۸۷۱ء پورے کیدو د مقدمو کښے د کروړونو روپو مال مسلمانانو نه فیر نګیانو ضبط کړو په قول د سرعبدالرحیم

شوک چه د هندوستان د مرکزی اسمبلئ سپیکر وو، چه د بنګال د مسلمانانو زمینداران
جائیداد چه د بنګال د قبضې څلورمه حصه ده، ضبط کړے وه او د غه رنګ زرګونه
مسلمانان ئے بے کوره کړی وو۔

۵۔ د هندوستان وائسرائے لارډ میو د ے فضا د پیدا شوی حالت لاندے د
پښتون شیر علی خان د لاسه په جرأت او ایمان کښے وژلے شوے وو۔

وزیرستان :۔

د وزیرستان خلق څومره چه د خپلے خپلواکئ او نروالی د پاره د یر زیات
مشهور دی هم د انګریز خلاف د یر جنګیدلی دی، د دوئ د علاقے یو مشهور
روحانی پیشوا او لوئ غازی باری فقیر چه اصلی نوم ئے پیوز خان او په قام
باندے محمود خیل اتمانزے وزیر وو۔ د سوات صیب بابا مرید وو او مؤذن وو۔
د سرکاوئ په غزا کا نو کښے حصه اخستے وه ۔او وزیرستان ئے د انګریز په ضد
رنګ کړے وو۔

د پنجتئ غزا :۔

د ا بیلے غزا له چه د مومندو د قبائلی علاقے د نکوم مشهور مشران
قبائلی سردارانو او روحانی پیشوایانو حصه اخستے وه۔ په هغے کښے حاجی
ابراهیم، مولانا سید محمد خلیل او خان سعادت خان شامل وو۔ هغے ملا صیب هم
په دغه زمانه کښے په مومندو کښے او سید و هغه هم د ے غزا له ښیرته راغلے وو۔
نو چه د ا بیلے غزا بس شوه او د انګریزانو فوځونه واپس شول نو په د ے خبره چه
جنګ په ښیر اوچله وو او د مومندو غازیان ور پسے بونیر ته هم اوسیدل په
د ے باندے قهر واخیستل او فیصله ئے اوکړه چه مومند وله د د ے کولو سخته سزا
ورکوله پکار د ی۔ نو په ۱۸۷۴ء کښے د سرکاوئ د غزا نه یو کال پس د کرنل میکن

اتلولیه کمان کښے د اشکریزانو قوځوته یوځل بیا په میچنۍ حمله اوکړه او یو خونړے جنګ ے تود اوساز کړو

په پښتو ادب اثر:-

هر ادیب د خپل ماحوله متأثره کیږی۔ ماحول په اصلیت کښے د ادیب سوے وی، چه چرته دے حئ دے ځے هم ملګرے وی۔ هم دغه وجه ده چه هر کلیو ادیب په خپل تخلیق کښے د خپل ماحول عکاسی اونۍ کړی یا اونۍ کړے شی نو هغه د اوبو کرښه شی، شاعری خو هسے هم یوه ډیره نازکه، حساسه او پاکه جذبه ده اود آزادۍ اوجنګ په حالت کښے هم دیوے مضبوطے وسلے په ځای استعمالیږی۔ او بیا دا سے وسله چه اثرے ډیر ژوی او تر ډیره وخته وی۔ د موجوده کوډ پاره هم ود را تلونکی د پاره هم په وخت د ضرورت پکار ید ے او استعمالیږے شی۔ او دے وجے دیو اوچت ادیب دا خبره ډیر وقعت لری چه د ملکونه د شاعر انو په مزعو کښے جوړیږی" پښتانه پښه خپلو کښے چه هر څومره بے اتفاقه ولے نۍ وی۔ خوچه د غزا نوم واوړی، څکښینی تول اختلافات ے ختم شی، یو موټے یو آوازشی، تاریخ په دے ګواه دے چه کله پښتانه چرته هم په یو میدان را جمع شوے دے نو هغه هم صرف د غزا میدان دے۔ او دا خبره د دوئ په اسلام دوستئ شهادت کوی۔ او هم دا وجه ده چه په پښتو ادب کښے رزمیه شاعری یوه خوندوره ټوټه ده۔

د مبیلے د غزا په دے واقعاتو ډیرو شاعرانو چه څنګه په د غه وخت کښے ژوندی وو طبع آزمائی کړے ده او څنګه دا سے شاعران چه اوس موجود دی د مبیلے د دغے زور اثر او نړوالی نه متأثره کیږی او لیکی پرے۔ که دا تول را جمع کړے شی نو یه خوندور تاریخی کتاب ترے جوړیدے شی د دغے ترڅنګه حده پورے یو مکمل تو ناچاپه کتاب د غزائے مبیله په نوم د پښتو اکیډمی په کتب خانه کښے

موجود دے ۔

د لتہ د یاد پہ طور ځہ لږ ے نمونے وړاندے کوم نکہ د تنہ کوهی سعد اللہ وا ۔

ناځاپہ ځیلہ شوہ تپول کفار ے کړہ زهیر

شہ پیدا د دین امیر

را اوچت شہ لہ بوریلہ

را اوچت شو د چاؤ نړۍ نہ فیرنگے لکہ د بوډ ۔

چہ راتہ پہ پول تپکور

منځ کښے ځہ وو برادره

لږ زیږدی یوسفزی نکہ کاونہ د شمیر

ورتہ جوړے کہ بهیر

خبر نہ وو د زلزله

قتل کړہ چہ د ا بیلے غزا کښے د فیرنگی د تباهئ یو یاد کاری دے د صوابئ د

تحصیل د کالو خان کلی ابراهیم دے ذکر دا سے کوی ۔

د قتل کړہ فیرنگے وارہ شو تمام ډیر شو قتل افسران

نارے کړے مکشن لښکرے وارہ زیر زبر شہ اګاه نہ شومہ پہ ځان

پراتہ وو سوارہ پیلی دچلے ترک نہ وک غرشہ ۔ جهان ے کہ طوفان

روښان صحبت خان وینم پہ لاس کښے شمشیر منځ نہ اړوی لہ کفاره

جرګہ ے ورتہ اوکړہ پہ صلاح ے کړہ راکیں خبر شہ لہ کفاره

صاحب د ا بیلے ورتہ کښ اوکښے کړہ قیام ۔

هم دغہ قتل کړہ واقعہ نواب خان د ا سے بیانوی ۔

پہ سر د قتل کړہ فیرنگی ډیر اوکړو ارمان شوہ چغہ د خطر پے

په ستر گوئے تیارہ شوہ چہ لیدل بہ ئے غازیان ۔ هم را ئے سرا سو پسے

کولئی بہ درفلو وریدلے دیز مرمیز و پتی وے مکشز تہ

فقیر دے معتبر ورسرہ نہ کیبی جنگیز چاک ئے او لیبرہ پہ پرتہ

صاحب مبارک دِ شہ وطن وایمہ تاتہ سیدئے دسوات بنیس

دسیلے یوسفزی پہ اقبال جمع شوغزا تہ پہ پرتہ ئے اوکړو فیر

پہ چار اووے جرنیل چہ ساہ ے نشتہ پہ وجود کښے واخہ اوشو پسات

لښکرے شہ کسکر نوی بہ گرځمہ پہ سود کښے رعیت ے نہ کہ سوات

دتیکرے هن ارے احمد گل دسوات باباجیؒ اوودے غزا پہ بارہ کښے وائی ۔

غزا پسے را غلے دے پہ کور ئے اللہ نور کہ

سولا دِ مشرق پہ هر طرف عبدالغفور کہ

منکل ئے دباتور صاحب کم نہ دے لہ بادشاہ تہ

سلام لہ ئے را غلی امیران لہ بدخشا تہ

لښکر ئے غیبانہ پہ امبیلہ بہ ځان حضور کا

غزا پسے را غلے دے پہ کور ئے اللہ نور کا

صفت زما دتور ے فیر شکے ذ بھاولپور کا

غزا پسے را غلے دے پہ کور ئے اللہ نور کا

دکندی کلی اکبر شاہ ملا صاحب د غزا ئے بنیس پہ موضوع دا سے لیکلی دی ۔

را غلہ غازیان دفیرنگی پہ هغہ کو باندے اوری قتل کړ باندے

را غلہ غازیان صلاح کوی دا لوریہ څوعالمہ گډ وینس یہ شوعالمہ

پہ ځان اختہ شوچہ پہ غرڅ کښے دیرے کولے بیل بیلہ یہ کارے کولے

اوازہ ئے او بسکلہ دا صلے غزن خان کړیدہ

اکبرشاه واخی چه زهٔ درځمه په ملا تړیاندے اوکړی قتل گړه باندے

یوبل ځائے یوبل شاعر واخی ۔

له هنده دی راغلی په غزا پسے سفر کا

له هنده دی راغلی خو وض نے بر یلے

اوس ناست دی په ملکا کښے جوړوی دا روګولئ

پیه وا که ورته ناست دی تل ثناء د پاک اکبر کا

له هنده دی راغلی په غزا پسے سفر کا

پیه وا که ورته ناست دی تل ثناء که د غفور

امګریز په ټوپئ جمع که لښکر ورته ګنړګور

لندن تر کلکته تر کمپنئ اوشه دا مذکور

د شمن دے پیدا شوے نن د تینګ ورته لښکر کا

له هنده دی راغلی په غزا پسے سفر کا

په یوه میله مزه ناکه چا ربیته کښے ددے حال دا ډے ویلے دے ۔

معامله جوړه شوه د کفر د اسلام پیکښے توے شو د حضرت د باغ ګلونو

د امګریز لښکر ے راغلے له لاهوره څنے توبے غنا ری څنے هاتیان وو

څوک خیر نه وو ددے کافر له زوره څنے خره څنے ټټوان څنے سړیان وو

د بدبخت وه څوک تر څرخ لوی کا ورسره د لښتنو بنګلی سپایان وو

له دے میلی نه ے را پورته کړ چې قام په ملکا باندے ے حمله کړه فوځونه

معامله جوړه شوه د کفر د اسلام

پیکښے توے شو د حضرت د باغ ګلونه

د بیکی اخوند صاحب راغلے له سواته تیکانړه او نیوه په امبیله کښے

صفه دکوک پلتن ئے وارہ کړه میراتہ — بیه باطن به ولاړه وه په معامله کښے
وے تن ورځ ده د جمعے کور وصیاله — ځائے په ځائے به وی مرګو په رسالہ کښے
بنیر والو داړه اوکړه په ما ښنام — په کوراؤ یمے هر دم کړهٔ ګذارونه

معامله جوړه شوه د کفر د اسلام

یو میل شاعر په خپله یوه چار بیته کښے درے جنګ واقعات د اسے ریکارډ کړی دی۔

فیرنګ د کلکټے نه را روان شو مارو مار — صاحب له برے ورکړے ټئے ملاشے پاک اکبړ
فیرنګ د کلکټے نه را روان شو په قوت — هندو او مسلمان ئے نوکران دی په دولت
خورے ورے پلټنے ورسره دی قط په قط — د ا جا او د راځ ټئے جوړ کړے د حکمت
زړهٔ کښے تنګی وه لاروی نه نهٔ وه لار — فیرنګ د کلکټے نه را روان شو مارو مار
وزیر د نجیستی وو په جمون کښے برادره — صاحب له برے ورکړے ټئے ملاشے پاک اکبړ
چیاؤ پرے باندے اوکړی د شپیته کوری سین — جټی نه چه روان شول قاضی پوټے ماسپښین
چه لاړل تر بیلے ټه هلته ئے اولګوو دوربین — فقیر د برکته پرے هیڅا نهٔ کړو یقین
د هغے لاټ یو زوے په امبیله کښے شو مردار — فیرنګ د کلکټے نه را روان شو مارو مار

بنیر والے به دنیا خلی نهٔ ویږی له سقره
صاحب له برے ورکړے ټئے ملاشے پاک اکبړ

سید کوهر شاه باچا د چملے واړے ؎

د ا بیلے درے انګریز له د ملا تیر کړو مات — د اُند لس تیر د استان ئے دوئی ته بیا راګنځے کړلو
وے پام کوه انګریزه د اد مسلمان زمکه ده — زمونږ په وینو د ے هر شجر هجر لوئید لو
د ا پاکه زمکه پاک وطن به په پاکئی کښے ساتو — ستا د نیا کو ارادو عیرت د اوموند لو

په خپل تاریخ کښے نوے باب د ا بیلے اونیکه
ستا ورستو پشت ته د اسلام قوت شهید ښودلو

د ا بیلے درہ دہ سختہ د خیبر د درے
د آزادئ د نخښے دا نشان هم تالید لو
وا ئی گوهر انگریزہ پوئے شہ زمری مړ چیرہ
د دوئی چیرلو په قومونو جهان وا پرولو

د ا بیلے دے درونو غرتہ د گرو غرهم وا ئی، میران شاه خیال د ناوګئ چیلے دے غرتہ دا سے خطاب کوی۔

اے د گرو غرہ تا نړتوب پخوا بنودلے دے
د عظمت پتکے په سر د درنو کانړو تړلے دے
څوک چہ درتہ گوری گوتہ خُلہ کښے درتہ پاتے شی
غیرت چہ د لندن تہ تر انگریزہ رسیدلے دے
غیرو تہ د ننګ او د ناموس سبق د اوښودو
بیا کہ ډیلغاړ کاندے بنهٔ د ځان ورتہ تللے دے
نسل د ملن کښے بے خطرہ ژوند د لوبو کړی
زړهٔ د د غیم په سینہ د ننه کښے چولے دے
ستاد اوچو کانړو تہ لوګے د دنیا غرونہ شہ
خپل بچی پښتون د غیرہ خپلہ کښے پالے دے
ستوری د آسمان په گواهی په قتل کړه او کړی
ځان ئے د د بتمن په تنوده وینه لمبولے دے

خلاصہ

د ا بیلے غزا ختمہ شوه - کومه غزا چه هاغه غزا چه د بړا عظمگی په تاریخ کښے د ۱۸۵۷ء کښه پس لوئے جنګ وو - هاغه غزا چه انګریزانے په صلح کښے خپله

خیرلیدلو۔ هاغه غزا چه په کومه کښې فیرنګیانو دخپل قوم د ټولولو او پښتو دوه تمغې د "کیتوریه کراس" ورکړې شوې وې هاغه غزا د کوم په یاد کښې چه فیرنګي خاصې تمغې جوړې کړې وې چه ا مبیله ۱۸۶۳ء پرې یک وو کومه غزا هاغه غزا چه د کوم د یادګار په توګه د یونټو په جنډو د "مبیلې" نوم د دغې جنګ د غزا په طور یادیږي وو۔

فیرنګي د ا مبیلې د ځانبنې نه وا پس شو لیکن بې مزه ده، که په غور سره او لټې شي نو معلومیږي چه د ا یوه کرکه وه د فیرنګي خلاف، دوستي او جذبه وه د اسلام او د ټول سره مسلمانانو، فیرنګي انګلستان ته د خصتول غوښتل، د ا مبیلې د جنګ مخکښې په ۱۸۵۷ء کښې یو لوی جنګ د برا عظم د آزادۍ د پاره شوې وو چه هغه په څه خاص وجوهاتو ناکامه شو چه هغې ته جنګ آزادۍ وې ټلې شي۔ که څوک د ا مبیلې جنګ ته د آزادۍ دویم جنګ اووایي نو بې ځایه به نه وي۔ ځکه چه د واړه جنګونه د فیرنګي د زور زیاتي او ظلم او د ملک ګیرۍ د هوس خلاف شوي دي د واړه د څه خاص وجوهاتو په سبب ناکامیا به شوي دي۔ د ا منوچه په یوکښې هندو مسلمان ټول حصه اخستې وه۔ او په مختلفو بنارونو کښې د جنګ محاذونه پرانستلی وو۔ په دې بل د ا مبیلې) کښې یو مخصوص خلق په مخصوصه علاقه جنګیدلی وو او صرف مسلمانان ورکښې شامل شوي وو۔ نو د اهم وې ټلې شو چه اوس جنګ د کمپنۍ سره شوې وو چه ورته د تاج برطانیه مکمله سرپرستي لاهاصله نه وه۔ او د ا دویم د انګریزي حکومت سره وو چه په دغه وخت کښې یو منظم حکومت وو او دومره سنګین صورت ته اختیار کړې وو چه د وا لسرائ د بادي ګارډ د سته او د پنجاب د ګورنر حفاظتي د سته ئ ورله د ا لیږلے وے۔

که په اولنۍ جنګ کښې د لکهنؤ، د هلي، میرټ، کانپور او جاني خلقو برخه

اخښتے وه نو په دوئم کښے د سوات، بُنیر، چترال، دیر، باجور، کابل، وزیرستان، کوات، پیښور، خلقو حصه اخښتے وه او دزړهٔ داخلاصه جنګیدلی وو۔

او لنے جنګ ناکامیابه شو، لیکن دغے ناکامیابئ فیرنګے د هندوستان باچا جوړ کړو۔ دوئیم ناکامیابه شو لیکن فیرنګے تهٔ سبق ورکړو او هغه ئے بغیر د قبضے کولو د سوات بُنیر نه واپس کړو۔

انګریز چه د مختلفو قباځلو د رعیت کولو د پاره د ۱۸۴۹ء نه تر ۱۸۹۰ء پورے چه څومره ځلے، واړے او جنګونه کړی وو۔ په هغے کښے ۴۲ ډیر زیات مشهور جنګونه دی۔ چه په هغے کښے د فیرنګی ۲۱۷۳ کسان مړهٔ شوی دی چه پکښے صرف ۹۰۸ کسان صرف د اصیلے په غزا کښے مړهٔ شوی دی۔

په دے جنګ کښے چه د انګریزانو کومو پلټنو حصه اخښتے وه د هغے نومونه دادی۔

(۱) ۱ پنجابی پیاده پلټن ۲ پنجابی پلټن ۱۲۔ نمبر د بیسی پلټن ۱۷۔ نمبر لائټ هاځی لینډ پلټن ۱۰۱۔ نمبر رائفل بنګال نیټو سیلیرز پلټن۔

د اوبد مضمون په په دے شعر بس کړو۔

مرګ وی د مومن په شرنګار د سپینو توره وکښے
ور کے شه سلګئ د خُنکدن په بستر وکښے لا

(چاپ "پښتو" فروری، مارچ ۱۹۸۳ء)

د ریښمو لار

د ریښمو په لار ټلے قافلے را ښکته نه شوے
ځکه کم خو په خټن دے نن سبا قدر د مشکو
که چرس د کاروانونو د نجدی له لوریه راشی
مائے ایښے دے منکرو په راتلو نذر د مشکو

د ریښمو لار چه په شاهراه قراقرم شهرت وه - اود چین او د پاکستان د زوال نه موندو نکے دوستۍ یوغټ ثبوت او مثال دے - او د دنیا ټوله عجوبه ورته د ټیلے ټی - په اصلی معنو کښے دا یو "شاهراه دوستی" ده چه د چین او پاکستان د اولږو د زملو او تکړه سپا هیانو د کلکے ارادے او لوړ همت یو روښانه مثال دے -

د شاهراه چه پنځه سوه میله اوږده ده - په کال ۱۹۵۹ء کښے پرے د کار آغاز شوے وو - کوے چه اوس اسلام آباد او پیکنګ د یو بل سره یو کړل - په دے شاهراه کښے په زرګونه کسانو کار کړے دے - چه په سوونو په کښے د دے په سمبالښت اورغید و کښے مړۀ هم دی - په دے شاهراه ځلے په ځلے په خورونو سیند ونو او خورکو یو کم سل پلونه جوړ کړے شوی دی چه خپل ثانی نه لری - په دے شاهراه جوړولو کښے اتیازره ټنه سیمنټ، اتیازره ټنه تیل او پټرول، او پنځه کم څلویښت زره ټنه کوئله استعمال کړے شوی دی -

د چین او پاکستان د تعلقات څه اوسنی نه دی - بلکه دا په زرګونو کلونو محکښے سم د یو بل سره د یر خوږ وو - که یو طرف ته ئے د یو بل سره ثقافتی او تجارتی

معاهدے وے نو بل خواۓ د یو بل سره فوجي معاهدے هم وے - چې خو د غه زمانے تجارت د روم چین او هندوستان په مینځ کښے کیدلو - خو د لته زۀ لږه غوندے جائزه د سوات او چین د تعلقاتو راخستل غواړم -

سوات او چین :

د سوات او د چین د یو بل سره تعلقات وو - خو د تاریخ نۀ موندو په وجه موږ دد ے په باره کښے څۀ د یاد ات علم نۀ لرو - خو د بده مت په وجه چه د چین او سوات تر منځه کومه مذهبی ثقافتی او تجارتی رشته جوړه شوے وه د ے څۀ حده پورے د دواړو ملکونو تعلقات بشکاره کړی دی او صغه دا ے چه هر کله د سیاسی بادشاهئ مرکز سره اشوک باچا مذهبی مشری هم شروع کړه او ځان ۓ د بده مذهب یو عقیدت مند پیروکار ثابت کړو - نو د بده مت د خورو لو د پاره ۓ د هندوستان نه بهر نئ دنیا ته هم مبلغین لیږل شروع کړل - سوات چه د بده مت د تهولوڅخه یو نیورستی وه - دد ے ځایه یو مبلغ په هغه لار چین ته او لیږلے شو - په کومه چه به مخکښے صرف سوداګر تللل را تللل هر کله چه د تبت او چین خلقو بده مذهب خپل کړو نو بیا په هغو کښے څۀ دا ے کسان هم پیدا شول چا چه د غو بښتلۀ چه لارښی او د بده مذهب د پاکو ځایونو زیارت اوکړی - مذهبی علم حاصل کړی - دد ے غرض د پاره د ے مشهور زائرین چه یو فاهیان وو او په ۴۱۲ء کښے د لته راغلے وو - دویم سانګ یون چه په ۵۲۰ء کښے ۓ خپل سفر شروع کړے وو او دریم او زیات مشهور هیونګ سانګ وو چه په ۶۳۰ء کښے راغلے او په ۶۴۵ء کښے واپس تلے وو - د خوش قسمتئ نۀ د ے کسانو د خپل سفر تول روئیداد په خپلو سفرنامو کښے د یر په تفصیل سره لیکلے د ے - چه د د غه وخت د سیاسی، مذهبی، معاشی او معاشرتی ژوند ترے د یره ښۀ اندازه لګیدے شی - د ے ټولو په خپلو سفرنامو کښے د سوات د مزکے د یر صفت کړے د ے - د ے ته

د رحمتونو او دعاګانو زمکه وئیلے ده - دے ز مکے د هغوئ په نظر کښے ډیر عزت او لوړ مقام وو - ځکه چه د هغوئ د اعتقیده وه چه ګوتم بدھ په رویم ځل د لسته په سوات کښے پیدا شوے دے د لسته دوئ د سوات د سیند ځولے له هم تلی وو - چرته چه مهاتما ګوتم بدھ یوه لویه اژدها ایالا لاخپله تابع فرمان کړے وه - دوئ د سوات د زمکے د بناسته سره سره دے ځائے د خلقو د میلمه دوستئ، ښو اخلاقو او پاک ژوند ډیر تعریف کړے دے او دے ځائے د امن وامان نه ډیر متاثره وو - دغه وجه وه چه دوئ سوات ته اوریانه یعنی باغیچه وئیلے -

دوئ سوات کلے په کښے کتلو - دے ځائے د علما نو څخه ملاؤ شوی وو - ډیر څه ے ترے زده کړی وو - او څنے مقدس لوښی او سامانونه او مذهبی کتابونه ے ترے تر لاسه کړی وو - ترے پورے چه بونیر ته هم تلی وو او د ایلم په غرہ کښے ے پوره وخت ایستلے وو په خپلو سفرنامو کښے ے ایلم د ایلمتو په نامه یاد کړے دے - د ایلم د غرہ د زرخیزئ د دانئ او خانقاهانو ے ډیر تعریف کړے دے - او دے هم لیکلی دی چه د لسته زعفران هم کرلے شی - د دوئ د راتلو په ورځو کښے سوات د جادو مرکز ګڼلے شو - د غه وجه ده چه دوئ د سیدو شریف د جادوګرو ډیر بحث کړے دے دوئ دومره تفصیلی معلومات کړی دی چه سړے ورته حیرانیږی - کله وائی چه سوات په دوو حصو کښے تقسیم دے چه یو ته کوز سوات او بل ته برسوات و ئیلے شی - د سیدو په باره کښے لیکی، چه سیدو په څلورو سوو کورونو مشتمل دے او په دوه حصو کښے تقسیم دے - دے هم لیکلی دی چه د کوم ځائے خلق په مذهبی تعلیما تو کښے زیاته حصه اخلی او د کوم ځائے خلق کمه د لچسپی لری - د بدھ مت په وړانو شوو خانقاهانو څخه ګان ښکاره کوی - دے ځائے د وافره میوو بحث کوی او خاص کر د انګورو ډیر شه والئ غرض دا ټوله د هاغو مذهبی

زیارت کوؤ تکوشۂ لږ حال چاچه دا خپل فرض ګڼړل، چه په مذهبی لحاظ لارښی او د خپل پیغمبر د پیدائش ځای ځایګی اوویني - ځکه چه دا هغوئ په ځان فرض ګڼړله - او په دے باره کښے چه هغوئ کوم لیک پریښے دے دغه د صفت جوګه دے - او د چین او د سوات او د پاکستان د ډیرو ځایونو د ثقافتی تاریخ ترے ډیر ښکلے مطالعه کیدے شی -

سفارتی تعلّقات :

د چین او سوات ترمینځه ډیر ښۂ او مضبوط سفارتی تعلقات قایم وو د چین یو نمائنده به د ملتے په سوات ګڼے وو - او د سوات یو نمائنده به هلته د سفارت کار کولو - دے نه علاوه د دواړو په مینځ کښے یوه مضبوطه فوجی معاهده هم وه - چه هغے پته دے نه لګی، چه هر کله په ۵۲۰ء کښے سپین پوستو یاوا هنت هنز په سوات حمله اوکړه - نو دے ځائے بادشاه د خپلو سردارانو سره صلاح اوکړه - او پس د صلاح نه ئے یو سړے چین ته اولیږه - او د هغوئ نه ئے امداد اوغوښتو -

ثقافتی ژوند :

دواړو دیوبل سره ډیر ښۂ تعلقات لرل - هم دغه شاهراهِ ریشم یا قراقرم به سوداګرو د خپلو قافلو د پاره استعمالوله - مالونه به ئے پرے اوړل راوړل - تعلقات تر دے حده ښۂ وو - چه واقعی د چین شهزادګیانے به دګرمئ تیرولو د پاره د ایلم غرۂ ته تلے راتلے چین چه د تیولو نه کوم غټ چین د سوات نه خپل کړے وو - هغه بدھ مذهب وو - بیا هیون سانګ دے مذهب ډیرا هم او خاص ګڼا بوند د ځان سره دے ځایه په ځچرو اوړی وو -

ځنے داسے څیزونه چه د هغے نه د سوات خلق مخکښے اشنا نۂ وو، د چینیانو د لاسه آشنا شول لکه د شتالانو او ناشپاتو بوټی، خربوزے، د کپړو صنعت،

ریښتم چلے، آلاچی، ادب د لرگی کلکاری، عارفانه او متصوفانه مسلک او روش او دا سے
د کلچر نورے نمونے او طریقے۔

په دے بدله کښے سواتیانو چین له هم دیرخه ورکړل۔ هغه داچه لکه د
سوات خلق یو ښه معماران، مستریان، د نکسازان وو۔ چینیانو روئی ددے ځائے
نه چین ته بوتلل چه هلته خانقاګانے او عبادت خانے جوړے کړی۔ تردے پورے
چه د سوات د ټوپو و سنګ مرمرو ګټے هم په لویه پیمانه ددے ځایه چین ته یورے
شوے ځکه چه دا مرمر ډیر صفا ښکلی او پرقیدو مستکی وو۔

په دغه ورځو کښے د سوات پاګند هارا را نجهٔ ډیر ژیات مشهور وو۔ او
دا به د بهرنی تجارت دپاره یو ګټور پیدا وار ګڼلے شو۔ د چین عامو زانو
او د امیرانو ښځو به دا را نجهٔ ډیر خوښول او ددے ډیرے قدر دانے وے۔ او
په ډیر دروند قیمت یے اخستل۔ دغه شان چه د سوات کښلے چه تر روم پورے
مشهورے وے، هم به چین ته د تجارت دپاره لیږلے شوے۔

اوس د دواړو ملکونو چین او پاکستان عسکری، ملی او دغه زارهٔ تعلقات بیا
را ځوکیدے کړل خو اوس به د پخوا په شان قافلے نه ډیرے نه راځی د واؤ د ورځو،
او ډاکو ویره به نه وی او نه به دا قافلے کلونه او میاشتے اخلی۔ دا شاهراه به د دواړو
ملکونو په مینځ کښے مینه محبت، تجارت او تعلقات نور هم زیات کړی۔

(چاپ "اباسین" مئی ۱۹۷۹ء)

صحافت په سوات کښے

سرات چه د بنکلا او ښائسته یو بنکلے تاج محل دے ۔ چرته چه ژوند ژوند او لوړ لوړغرونه دی ۔ دنگے دنگے واوړینے څوکے دی ، گنز گنټ څنگلونه دی ۔ روانے ، پاکے او پریمانه اوبه دی ۔ وګے دی ، خوږونه دی ، پینے دی او سیندونه دی ۔ دشتونه دی ، باغونه دی ، راغونه دی او زړه را بنکونکے ناوے او میدانونه دی ، سمسورے پاڑی دی ، ګلونه دی ، فصلونه دی ، میوے دی او د دا رود ګرملو ګیلے بوټے دی ۔ یخے ، پاکے او خوږے هوا ګانے دی او پاک صاف ماحول دے ۔ دکوے په سوب چه د اګظمتونو ډکه ملاقه د دنیا په کوټ کوټ کښے مشهوره ده ۔

نو یوه خبره ده او هغه دا چه ے شکه د ا زمکه د ا ټول صفات لری او د سیلا نیانو د پاره یو قدرتی جنت دے چرته چه فطری بنکلا په خپل اصل صورت کښے موجوده ده ۔ او انسانی لاسونو هغے ته لا د مصنوعیت جامه نه ده اغوستلے ۔ نو د فکر وړ خبره دا ده چه دے زمکے په تهذیبی ، معاشرتی ، سماجی او علمی تاریخ باندے چا هغه کار نه دے کړے ۔ دکومو په وجه چه دا زمکه د دومره لوئے حیثیت حقداره شوے ده ،

بنکاره خبره ده ، چه دا زمکه د نامعلوم وخت راسے د مذهبونو او تهذیبونو زمکه

پاتے شوے دہ دا د علم او عرفان کومے وو ، د آئین د ستور او قانون مرکز وو۔ دا ے زمکے خپل یو تقدس وو ، خپله یوه پاکی ئے وه چه د هغے په وجه تر ډیر اوږد وخت پورے دا د رحمتونو او امن زمکه ګڼلے شوه " بیا یو وخت دا سے راغے چه دلته زور وو ، ظلم وو۔ لوټ تاوان وو ، بربادی وه ۔ چه روښی شروع ے ظالم او جاهل باچا مهرګل کړے وه ۔

ټن کاڼ مونږ د دغے ګل وریښے زمکے په باره کښے څه لوستل غواړو هم ، نه ، نشو لوستے ، ولے ؟ ځکه چه دغه نمونه مواد موندل تن ډیر ګران دی او کران په دے وجه دی ۔ چه د دے زمکے د قدیم تاریخ د لیکلو د پاره په سرکاری ډول یا په غیر سرکاری ځای دا سے کوشش نه دے کړے ۔ چه په منظم ډول د دے د تاریخ ورکے کړی د ابر څیره کړے شی ۔ او د دے خونده ور ے علاقے یو خونده ور تاریخ ترے ساز کړے شی ۔

مونږ ځائے په ځائے څه نقش نیمګړے ، حوالے ګومړو ۔ چه دا اندازه ترے لګی ۔ چه هم د دے سوات د سین په غاړو آریا ګانو خپل ویدونه ویلی دی او په هغے کښے ئے د سوات زمکه او سین په ډیر احترام یاد کړی دی ۔ معلومه خبره ده چه آریا ګان د لته دا تللل ، نو دا علاقے خوښے نه وے پرته دا ډیرے وډانے وے ۔ منطقے باچاهئی وے پرے ۔ ځکه نو د آریا ګانو د دے ځائے د قدیمو او اصلی خلقو سره جنګ جګړے شوی دی ۔ بیا د لته تاتار کول ، دراوړ سیتھین ، ایرانی ، یوناني ، بدهیان ، هندو شاهی ، سنګول ، ترک ، مغل او فیر نګیان هم راغلی او خپل څه خونده ور او یا څه د شخړو د ک وخت ئے د لته تیر کړے او بیا د دے ځایه په مخه تلی دی ۔

مؤرخین د ے بارا کښے دومره تیروتی دی ۔ او دومره قدرے فکرئے هم

نړۍ کړے ۔ چې پښتانه ټ په سوات کښې وکله نه آباد وُ ۔ ځکه چې دوئ د یوسفزو
راتلل سوات ته د پښتنو او لنې تک کړی ۔ نو خبره دا سے نړۍ ده ۔ بے شکه چې
یوسفزی پښتانه ټ وو، اودی هم ۔ خو دا د پښتنو یوه قبیله وه چې د لنې د
نورو پښتنو د جنګ جګړو د لاسه را رسیدلے وه ۔ او د لنې ځ هم د خپلو
پښتنو سره جنګ جګړے کړے او هغه ځ مغلوب کړی دی په او له کښې د لنې چې لا یوسفزی
نړۍ وو را غلی، نو یوسفزو ته د کابل او غزنی د ورزونه سوات، د سوات نښکلا او
شتمنی معلومه وه ۔ او دا ورته هم معلومه وه، چې په یاجوج او سوات ټوک ټوک
میشته دی ۔ ځکه چې د دوئ نه وړومبئ قبیلے کوے چې د دوئ نه یوځو سوه کاله
مخکښې د لنې را غلے او آباده شوے وے ۔ هغه هم د غه د کابل غزنی او کونړ د هاورو
نه په هغې نورو پښتنو قبیلو پسے را غلے وے ۔ کوے چې د لنې د قدیم را سے آباده
وے ۔ د پښتنو د دغه وخت د ورته مونږ د شړو تیا دور و ټ ولے شو ۔ په ټولو
پښتو نخوا کښې چې به کومه قبیله په جنګ کښې ګډه وډه شوله ۔ نو هغې به بل
ځلئ ته او دا سے ځایئ ته کوچ کولو چرته چې به ورته خپلو نورو قبیلو پناه او
ډزو ند ټروا ک د پاره ځمکه ورکوله شوه ۔ بیا چې به ځ ځ نیټه ټیره شوه ۔ نو
د د غې دوُو قبیلو په منځ کښې به جنګ جوړ شو ۔ یوه به بے د خله کړے شوه او
بله به د د غې ز مکو وا کدا ره او ګرځیده له ۔ چې د ر سته ټال ئ ستاسو د وړاندے
دے ۔ چې یوسفزی پیښور، د وایے، اشنغر او سوات ته ځنګ را غلی وو ۔ او
نن چې کوم خلق په پکهلئ هزاره پراته ده دوئ ځنګه دے ځایونو ته را غلل
د هزارے د پښتنو په سوات او بده او محکمه باچا هئ وه د هغې باچا هئ هغه تاریخ،
هغه نظم و نسق هغه علوم او فنون ځ ټول ؛ د غه ټ تاریخ نړۍ لیکلو غټ سوب دے
چې نن مونږ د هغوئ په بارا کښې هیڅ نړۍ لرو ۔ او کوئ ځ نیش نیمګړے پیدا کوو هم

نو یه ډیر شوا خون ښځ پیدا کوؤ۔ چه یقین به ورکښے لږ او قیاس به ورکښے ډیر وی ۔ وولے به په کښے ډیر وی ؛ ځکه چه ځینے خپلو مورخانو او اکثرو فیرنګی مورخانو دا مهربانی اوکړه او حکم ځ او لیکلو چه د هغه ارے سوا تیان پښتانه نه وی ۔ ځومره د حیرانتیا خبره ده چه هغوئ په خپله وائی چه مونږ پښتانه نه یوؤ دویمه دا چه نن هم ډیر پښتو وائی او دغه ډیر ښځ لکه د ډیرشه غاښونو کښے د اګیره سا تلے ده ځکه چه یو طرف ته تر ے کشمیری، هندکو او بل طرف ته تر ے کوهستانی ډیر دی نو آیا دا خلق پښتانه نه وو۔ نه ځ ډیر پښتو وه۔ نو چه هغه کله د سوات نه ے طنه شول ۔ نو چه هغه ارے ته لاړل نو هلته ځ پښتو اژده کړه ۔ هلته ځ کهٔ نوے ډیر ه اژده کولے نو هندکو، پهاړی او کوهستانی به ځ اژده کړے وه ۔ هلته بیا پښتو نه اژده کیدے شوه ۔ هغه! هیره ولے کیدے شوه لکه څرنګه چه د هغه ارے په امب، ډوبند کښے شوے ده۔

د پښتو د ډیر ے او تاریخ سره دا قسم لوے ډیرو ځایونو کښے شوے دی او کیږی به ۔ ولے ؛ ځکه چه پښتانه مور خان په کړه دنده د پښتو تاریخ لیکی۔ دوا نمونه ګشاو پخپله د جائزه اخستو دپاره دلته علاقو ته د تلو تکلیف هم نه کوی نو هغه کړی د لائبریرئ نه د چا انګریز تاریخ راوا خلی۔ خپل باب پوره کړی۔ او د حوالے ورکولو ضرورت ځ ارادتاً نه لری ځکه چه د اسے یاددهٔ علم او سیرچ ته نقصان رسی او س نو ورکښے د خیره د اسے مور خان هم پیدا شول چه هغوئ خو د هر چا نظریه رد کړه نو خپله ځ ورانده نه ځ کړے شوه او دغه شان ځ پښتانه چور لټ او بیخی بے نسبه، بے شجرے او بے تاریخه ګرځ ل۔ نو یاد لرل پکار دی چه د نمونه مورخان "ابوالفضل تماپٹ" مورخان وی او د کبر د جنازے سره د دوئ د تاریخ جنازه هم اوځی ۔ څومره عجیبه خبره ده چه وائی چه د اسلام نه مخکښے

پښتانه، نه هندوان وو، نه بدهیان وو، نه پارسیان وو، اونه نورځنې وو نو آخرځنه وو - جواب ورکوی پښتانه وو، صیب پښتون نمود نسل نوم دے۔ د مذهب نه، او بیا داچه دوئی غیر مذهبه یعنی غیر مسلم نه وو - نو بیا د اسلام د قبلولو ضرورت ورته څنګ پیښ شو - د پښتنو په ګلهمه نړۍ کښے دا دوئی صفت چوګه خبره دا ده چه دوئی د اسلام نه مخکښے خپل هندومت، بدهمت، زرتشت مذهب اودا سے نور ډیر مذهبونه پریښودل - او د اسلام مذهب ئے په خپلیت مجموعی قبول کړو او دکله نه ئے چه قبول کړے دے - نو بیا ئے ور کښے دکه دنورو قاموتو د پیغمبرئ، تجربے نه دی کړی - او خپل مذهب ئے پاک او ساهوسا تلے دے، چه ترتن ورځ پورے په ټوله دنیا کښے کلک او پاک مسلمان کنړلے شی - څوک وائی چه، تا، بدهیان نمومطلق نشی کیدلے، ځکه چه پښتانه جنګ ببر خلق دے۔ او د بدهه فلسفه او مذهب د من فلسفه ده، دا خبره هم دغه قسم " ابوالفضل موګرو پا" موړ خینو د بدهیانو د تاریخ نه دے خبرئ یو څرګند علامت دے۔ دوئی له پکار دی، چه دبدهیانو د باچاهانو تاریخونه اوګوری، دویمه داچه پښتون دکوے جنګ ببر قام دے - دے خپل ماحول او سیاسی هلوګولو او د زور ګیر زور ظلم جنګ ببر کړے دے - ګلی دا یو ښه د من خوښوتکے قام دے - او تل د مظلوم ملګرے وی - او س که څوک د مظلوم ملګرتیا له د "بربریت" نوم ورکوی نو دهغوئی خوښه ده دویمه داچه د پښتون خوا په ګوټ ګوټ کښے دهندومت، بدهمت اوزرتشت مذهب دا دومره واقره آثار قدیمه دکومه دا غله؟ یا نو بیا دا سے وئیل پکار دی۔ چه د لسته نور خلق آباد وو - پښتانه ددے د لاندے په اوومه زمکه کښے د نسته پټ او خاموشه پراته وو - او بیا چه کله اسلام پښتو نخوا کښے ښه مضبوط شو - نو دوئی د دغے زمکونه دا اووتل او موړ خیتو په یوو لسمه صدئ کښے او پیژندل - چه دا پاک اوصاف

خلق پښتانه دی -

که د غه نومونه مؤرخان چه تاریخ دځان نه پیکی ټول آثار، شهادتونه اوثبوتونه پریږدی هم اوصرف دمستند سلمانانو مؤرخینو تاریخونه اوګوری - نودپښتنو که نوم څخه څرګند نه، نه وی - نود مذهبی څرګند نه به ځانمخا خبرشی اوبیا په تیره تیره د ورکښې صرف خپل پښتون مؤرخ البیرونی په ژور نظر اوګوری، خبره به پاکه شی - اوکه دې ورله لږه مزه ورکړه نوبیا د "فرشته" اوګوری اودغه شان د رو رو لویو مؤرخینو ته ځان اورسوی چه د څه نه خبرشی - اوپه دې ټاسې خبرید و سره به بیا ترې نه د پښتنو تاریخ ورانیږی اونه پرې ورانوی -

د مولانا عبدالقادر خبره، چه په کومه کوڅه سرشوم، لیکلې څه اولاړم چې څه خبره مود سوات د تاریخ، ثقافت اوعلومو کوله - اوهر کله چه بنکاره ده - چه سوات د مختلفو مذهبونو اوتهذیبونو تهوکیدو ځکه ځمکه ده، نود لته علمی اثرات، علمی ترقی، مدرسې، خانقاګانې اوکتابې دنیا په کوم رول وکړ ځکه چه هم دده ځانګې نه هغه بده مت چه په نیپال کښل وستوکښې پیدا شوې وو - هلته ځونړ دومره وده اوکړه، نړ دومره لوئی ګندهارا تهذیب پرې پیدا کړو - نړۍ دومره لوئی عالمان پیدا کړل - نړۍ دومره نومیالو ملکونوته د مذهب ورکړو - کوم چه د سوات دوړې خوشانداره اوژوندۍ ژبې اوکړې شول - چه د مذهبونو ته حدته اورسولو چه دا ئې د نومیالو دپاره "دیتی کن ستی" جوړ کړو - اوهم د مذهبونو کشمیر تبت، چین، جاپان، سکم، بهوتیات اوداسې نومیالو دیرو ملکونوته اورسولو - لکه څرنګه چه بیا ورسره اسلام، دهند کفرستان ته اورسولو اوهلته ئې خلق د وحدت، مساوات روڼی اوبرابرۍ د ژوند ډهوډو څخه خبراو شتمن کړل -

دے غاورے علمی او تعلیمی حیثیت د تبت او چین د زائرینو د سفرنامو
په اساد څاهرې ږی او کله چرے د غاوره د علم او عرفان غاوره نه وے۔ نو
هیون سانګ به ترے څرنګ په څلویښتو څخو و بارکتابونه ورړل۔

د دے زائرینو د سفرنامو نه علاوه یوغټ ثبوت دا دے۔ چه د بدهیانو د
عقیدے مطابق د هغوئ یو مشهور پیغمبر پدما سمبهوا د سوات په اودیګرام یا
ایلم کښے پیدا شوے وو۔ څنګه ورځو پورے د پښتنے په مذهبی یونیورسټی کښے
وو او بیا د چین او تبت بادشاه په ډیر لوئ احترام هلته بوتلو چه هلته
بیا ورسټو د روحانی او مذهبی لورتیا په وجه په "لوئ استاذ" مشهور شو۔
او د چا په وجه چه په دغه بدهمت کښے پوره بدلون رغے۔

په سوات کښے ډیر پریمانه ډیر یکونه وُو۔ چه په هغے د دغے مذهب په باب،
هدایات، مشورے او تعلیمات یک وو۔ خو د بده مرغه دغه ډیر یکونه د سرحد
انګریز کورنر ډین فیرنګی په منظم دول په ډیر قیمت د عبدالحنان نوے ډیوه
او مشرئ کښے د دے ځایونو نه اُوو پستلو او په ډیر لوئ شمیر کښے ئے د فیرنګیا منو
وطن ته ویوړے۔ نن مونږ په ډیره ګرانه صرف هغه یکونه قدرے پیدا کولے
شو۔ کوم چه په دغه ډیر یکونو د غے فیرنګی یانو رو فیرنګیا نو په کتابخانو
دول څخه لیکلی دی۔

د دے ډیر یکونو نه علاوه د د غے پیغمبر پدما سمبهوا د اقوالو مجموعے
خبره کیږی۔ دغه اوس په کتابخانو دول ملاویږی۔ خو تر دے ساعته پورے په دے
یتیجه اونه رسیدے۔ چه دغه "اقوال" استاذ پدمسمبهوا لاس لیکلی وو۔ او کنه
ورستوئ منونکو په کتابخانو دول ساذکری دی۔

دے نه ورستو دیوبل "تحریر" شهادت چه په لاس راځی نو هغه د سوات

دباچا اندرا بوتا " پیکا کتاب دے چه نوم ئے دے اودیانا پیتا (Uddayana pita) اندرا بوتا دبادشاهئ نه علاوه یو دیر لوئ عالم فاضل سړے وو۔ د دهٔ ذکر چینی زائرینو هم کړے دے چه دده صدر مقام په ژمی کښے سیدو شریف (روئے کار) اوپه اوړی کښے ایلم (Elamta) وو۔

اوس چه انټرنیشنل بدهزم یونیورسټی کوم کتابونه منځ ته راوړی دی۔ په هغے کښے د غه کتاب د اودیانه (سوات) په لیکونو مشهور دے۔ چه دیر لوئ اهمیت ورکړلے شی۔

د خت و حالات وی کله څنګه او کله څنګه راشی۔

د وخت چپاؤ هم څهٔ په بله واړوی د دین فیرمنګی د تلونه ورسته معلوم شوه۔ چه د هغهٔ د لاسونونه یوځو کښے ځائے په ځائے پاتے شوے دی۔ څهٔ د غه او څه ځینے ځائے په ځائے د آثار قدیمه پوهانو ته د کښتلو د ځایونونه په لاس ورغلے دی چه د هغے نه مونږ په سوات کښے د تحریر، د لیک دود او د د غے دور د یو مخصوص صحافت اندازه لګولے شو۔

د بدهیانو نه ورسته په سوات د هندو شاهی خاندان حکومت راغے۔ د غه خلق هم د علم او فن خلق وو۔ د هغوئ د وخت مونډ لے شوے کتبے د هغوئ په د غه خبره ګواهی کوی۔

د پیرومذهبونو د دور دوران د لیدونه ورسته د سوات په ګل وریتو څوکو د اسلام نور اوځلید و۔ محمود غزنوی په اخوا هندوستان د حملونه مخکښے ورو ورو مبئ حمله په سوات د یولسمے صدئ په ورومبو کالنو کښے اوکړه۔ د دے ځائے راجه کیرائے ووواهه۔ څوک چه بیا د دیر شیرینګل ته لاړ شو او بیائے خپل حکومت جوړ کړو۔ او د لتهٔ د اسلام پر وړاندے غازی څوک چه هم د لتهٔ په اوډیګرام کښے

په دے غزا کښے شهید شوے وو۔ د هغه او د راجه گیرا د لور شهزادگئ منجادیوی
د رښتوني عشق قیصے چه نن د هر لوئی ورو کی په خُله دی۔ خُکه چه د غه روبے
غازی پیرځو شحال د لته شهید شو۔ د منجا دیوی سره ئے واده او نه شو۔ د هغه
قبر نن هم د گیرا د غرهٔ په لمن کښے موجود دے۔

د غزنویا نو حملے کهٔ یو طرف ته د زمکه د اسلام په رنړا روښانه او منوره
کړهٔ۔ نو بل طرف ته ئے د لته په اول خُل د عربی ژبے یک یونیورسټی هم پښے کړو۔
کوم چه په هغے جمات نگولے شوے وو۔ چه د لته جوړ کړے شوے دے د غه جمات او
د غه د یونیورسټی په ۱۹۸۴ء کښے د سوات میوزیم د ائرکټر او د اثار یالوجسټ انو د یرټیڼ
کړی دی۔ په دیونیورسټی د اسے یک کړے شوے دے۔

۱۔ بسم الله الرحمن الرحیم (۲) امر الامیر الحاجب ابو منصور (۳) نوشتگین الخیری
ادام الله توفیقه (۴) بناهذا المسجد و لبادب (sic) فی شهور۔ (۵) سنة اربعین
و اربع مائة تقبل الله (۶) منه و شکر سعیه۔

دیولسمے صدئ د سرنه تر شپارسمے صدئ د سره پورے په دے منځ کښے هیڅ
قسم څهٔ د اسے شهادت په لاس کښے نشته۔ چا ترے د دے او بد د ور څهٔ، نه څهٔ
معلوم کړے شی۔ د غه ور څُو کښے یوه خبره جُوته ده۔ چه یوسفزئ قبیله سوات
ته راځی۔ او د سلاطین جهانگیری تخته ابوته کوی۔

اوس د اسلاطین څومره وو د کوم وخت نه وو۔ هم د غه یو خاندان کښے
حکومت را روان وو۔ کنه بیل، بیل خاندانونو او لاسونو ته پورے وت را پورے
وت د غه وخت کښے په سوات کښے کوے کوے غټے قبیلے وے۔ کوے کوے ژبے
وے۔ څهٔ پیسے، سکے، حدود، نظم و نسق او او لسی ژوندے څرنگ وو۔ دے بارا
کښے هیڅ نه معلومیدل۔ حالانکه په کلهم پښتون نوا کښے د د پښتنو او لنے سلطنت

وو۔ او دا د پښتنو دے اتفاقئ، ے تد بیرئ نا پوهتیا یو بنکاره مثال هم
وو۔ ځکه کهٔ چرے دوئ دیو پښتون په نوم ځان راتینګ کړے وے نو کامیاب
شوی به وو۔ ځکه چه هم په دغه ورځو کښے په هندوستان کښے د پښتنو لودیا نو
حکومت وو۔ په کشمیر د تبت د ځنډو پورے او د ننګئ ورځے د "شمالی علاقه جات"
پورے هم د سواتی خانانو حکومت وو۔ او د ملتے د سوات نه ترجهلم پورے
"سلاطین" ولاکن وو۔ هم دغه ورځے وے چه یوسفزی او بابر یو بل ته نزدے
نزدے سوات ته راغلی وو او بابر د ے ځایه د هندوستان په لور تاخت نو
د پاره نو ځیان غوښتل۔ او بله داچه د جهلم نه اخوا په لاهور او بیا قصور د
پښتنو مضبوط "گڑھ" وو

د دغه وخت ذکر بابر د خپلے رضا په مطابق په خپلے "تزک" کښے کړے دے نو د
سوات په خاوره مونږ د دے جهانګیس یا نو" په باب دونر ځهٔ چه تت تاریخ په اصل
حالت کښے نهٔ مومو چه د ملتے د علم و فن ځهٔ حال وو۔

بیا چه کله پښتون، د پښتون خونه وراته کړه۔ یوسفزی د سوات واکمن
شول نو مونږ صرف په هوالو کښے د "دفتر" "فتح سوات" "تاریخ سوات" نومونه
لولو۔ نو په لاس هیڅ نهٔ راځئ۔ چه ترے د دے قبیلے د راتلو د جنګ جګړو د سوات
اخستو د زړو سواتیانو حال، د هغوئ د باچاهانو، مشرانو حال د ملتے د راغلو قبیلو
تعداد، د نفرو شمیر، د او لس حال، ژوند ژوند، او د وطن د عام حالات په باب
خبر شو۔ معلومیږی د اچه د "شیخ ملی" د کتابونه به د لوئ اهمیت کتابونه وو۔ ځکه
چه یو دومره لوئ او لس په نوو زمکو آباده ول هغوئ له ځهٔ قاعده قانون
جوړه ول دیره لویه خبره ده نو اسوز چه بیخی ورک دے۔ کومه نسخه چه په
سوات کښے پیجر راورتې تهٔ لاس ورنه لګیده۔ چه ځهٔ شوه

د یوسفزو دھاغو شرانو چا چہ دوئی یو ځای را ټولوی وے شو، د مړۍ کیدونہ ورستو پہ سوات، دیر، باجوړ، خدو خیل، بونیر، چملہ او مردان کښے د ځان ځانئ دور شروع شو. او د یوسفزو یووالے ختم شو۔

دغہ دور کښے پیر روښان د مغلو د ستر کو از غے پیدا شو۔ پیر روښان تول پښتون او لس د مغل خلاف اود رولو۔ او د دغے د پارہ ھغہ خپل اثر او نفوذ د سوات پہ زمکہ کښے ھم پیدا کړے وو۔ ھم د سوات د اخون درویزہ بابا د پیر روښان سرہ مذھبی طور مخالفت وو۔ چہ د سوات د کاپیلئ پہ مقام د دواړو پہ مینځ کښے مناظرے ھم شوے وے۔ او پہ سوات بونیر کښے د پیر روښان پہ مرستیالو کښے ښہ شاعران ھم وو۔ چہ د ھغوئ د کلام نمونے د دغے وخت اندازہ پہ ښہ ډول سرہ کیدے شوہ۔ نو د بدہ مرغہ د دغہ تیول څیزونہ ھم پتہ دی اود سوات د خلقو د پیر روښان د ھغہ د اولاد سرہ د مرستے اندازہ د "ملندړئ" د جنګ نہ د کړاکړ د جنګ نہ، د تورورسک د جنګ نہ، او د چکدرے د جنګ نہ د ښہ ښہ لکی چہ د ملندړئ جنګ د مغلو او پښتنو تر مینځہ د تپوونہ لوئی جنګ دے۔

د پیر روښان پہ دے زمکہ د ورځ کامیابی اود لتہ د ورځ پشتہ د اخبرہ را مینځ تہ کوی چہ ھغوئ پہ خپرا لیبان او خپل نوم کتابونہ ھم د لتہ پہ سوات کښے لیکلی وی، او د اخوند درویزہ بابا اود ھغوئ د اولاد تول کتابونہ خو د دے زمکے یوسوغات ګڼلے شی۔

د پیر روښان د شجرے نہ روستو د لتہ بیا چہ پہ ھر کلی د خپلے خپلے ځانئ دور دوران وو۔ سرہ نو خوشحال خان خټک د یوسفزو نہ امداد غوښتلو لہ سوات نہ راغے، سواتیانو مدګر تیا او کړہ او کنډ ؤ ولے ئے او نہ کړہ؛ د دے د پارہ او کورئ زما کتاب د سوات کلونہ) نو خوشحال، خوشحالہ زړہ د سوات نہ رخصت نہ شو۔ بابا خوشحا

خپل تول تأثرات په "سوات نامه" کښے قلم بند کړی دی - او دغه یوه د سے مکمل دستاویز دے چه د سوات د تاریخ، جغرافیه سماجی، معاشرتی او سیاسی ژوند یوه ډیره ښکلی او خوندوره نقشه راکاږی -

د خوشحال خان نه ورسته بیا د مغلو خپل کتې په درے پښے شوے وو - او دهغوئی نه ورسته ډیر زر د مغل په ځائے فیرنګے واکدار شو - د فیرنګی په هندوستان کښے تقریباً شپږ سوه کاله د ریاستونه هم وو کوم چه اندرونی طور خود مختاره او بیرونی طور د فیرنګی "وفادار" وو - په دے ریاستونو کښے یوځو ریاستونه د پښتنو وو - چه ډیر په پښتونخوا کښے او بل په لرے هندوستان کښے وو - د هندوستان په ریاستونو کښے یو ریاست د رام پور هم وو دغے ریاست نه یو تاریخ چه په ۱۹۷۰ء کښے بیا پښتو اکیډیمی چاپ کړو - بیا موندے شوے وو - چه نوم ئے تواریخ حافظ رحمت خانی دے - کوم چه د روشن خان په مالی مرسته په پښتو او بیا سره د هغوئی د خواشی په اردو کښے چاپ شو - خو نوم پرے د پښتو اکیډیمی لیکلے دے - دغے تاریخ د نورو هر څه نه علاوه دومره فائده اوکړه چه سوات ته د یوسفزو راتلل جنګ جګړے، فتح او سوبه، د بابر راتلل، د بابر کے سره واده او د "سلاطین" "جهانګیری" په باب څه نه څه معلومات مینځ ته کړل - چه د سوات چه د سوات د دغے وخت د تاریخ په باب ترے څه نه څه معلوم کړے شول - خو دغے تاریخ دا خبره تر دے ساعته پورے لاحل نه شوه - او هغه دا چه دا تاریخ په دغه وخت کښے دے ځائے دبا چا هانو ژبه "کبری" یاده وی - او د نورے د عمایا ژبه "یادری" ذکر کوی - پر دے بارا کښے د خان روشن خان سره د ډیرے خبرے، خط و کتابت هم شوے دے دے نه علاوه د پښتو اکیډیمی سره، د کابل د څښے عالمانو سره، د هزارے د څښے پوهه خلقو سره خو اړه خواږه بخښونه شوی دی - په دے بارا کښے په پښتو کښے د اکبر حنیف صیب او نورو پوهانو خپل قیمتی

تاثرات ورانده کړی دی خو زهٔ ددغه ټولو نه مطمئن نه وم - او خپل لټون مې کولو۔
پوهه شل کاله کښې مې ددغو ورکو قبیلو او د هغوئ د ژوند بوخت درک پیدا موندلو۔
چې په وخت بې ستا سو د رانده حضور ته ورانده کړے شم۔

نو خبره مود مې کړه ته د انګریز د راتلو کوله۔ فیرنګې د هند وستان د
کوټ سرته په لږ ساعت او په دیره اسانه په ۱۸۴۹ء کښې د پښتنو خاورے ته
را اور سیدو د فیرنګی هم دغه خیال وو۔ چې د علاقه به هم دمرې د ځپلې حلوه
وی۔ خو هلوئ د زوره خبر شو چې د نړۍ ورځ پرے ټوله شپه شوه او تاریخ
ګواه دے چې د ۱۸۴۹ء نه تر ۱۹۴۷ء پورے کهٔ چا هم د انګریز یونین جیک نه
د ے منلے او هغه ئ په ارام نه د ے پریښے او یا د هغهٔ او یا پخپله وینے د ا
زمکه رنګینه کړے ده۔ نو هغه هم دغه د سرحد پښتانهٔ وو۔ څوک چې د خپلے خاورے،
خپلے آزادئ، او خپل عزت د بقا او د خپل تهذیب او تمدن د پاچ ساتلو د پاره په هره
مورچه او هر سنګر جنګیدل۔ او کله چې د هند د برېلی مسلمانانو او د هغوئ امیر
سید احمد شهید برېلوی ته د ے خلقو د ے مبارزو او مجاهدو لوپته او ګډه له۔ نو
هغوئ هم د فیرنګی او سکهٔ خلاف د ځلئ د جنګ د پاره خوښ کړو او ځانونه ئ
د ته د اور سول اګرچه سید احمد شهید برېلوی او د هغوئ ځینې ښه ښه ملګری
سره د دیرو پښتنو غازیانو په بالاکوټ کښې شهیدان شول۔ نو بیا پکار وه چې دغه
"مشن" د دغے سره ختم شوے وے، خو، نا، دا سے او نه شوه او نه د ا سے کیدهٔ شوه
او نه به چرته او شی۔ ځکه چې پښتنو د خپل وطن او خپلے خاورے ساتنه عمر له د بل
د سر په بدل نه، د خپل سر په بدل کړے ده۔ د غه وجه ده۔ چې د سید احمد شهید
برېلوی "باقیات" د پښتنو سره پیښه پاتے شول۔ څهٔ ور کښې هند ته واپس لاړل۔
پښتنو بیا لکه د باز خپلے منګلے په خپل ښکار سره کول شروع کړل۔

خو په دے پیړۍ د سوات په تاریخی غاوره یو شرعی حکومت جوړ کړو - د کوے
بادشاه ے چه سید اکبر شاه د ستانړے غوښ کړو - او اخوند صیب د سوات ے
د هغے مشر قاضی یا چیف جسټس مقرر کړو - د غه شرعی حکومت په ډیر ښه ډول د
۱۸۵۷ء پورے روان وو - ددے باچا سرکاری او دفتری ژبه فارسی وه - کومه چه د
هغوئ په جاری شوی فرمانونو کښے لو ستے شی - (دا تاسو زما په کتاب پښتو په سوات
کښے" لو ستے شئ) په د غه منظمه باچاهئ کښے په اول ځل یوه اسے علمی او تاریخی کار
هم شوے وو - چه دے زمکے تمے ډیره لوئی ورکړے ده - او هم د د غه ځایه د صحافت
د عمارت او لنئ ردہ پورتنه کړے شوے ده - او هغه ددے زمکے نه یو اخبار جاری کول
وُو - او دا د وخت د تقاضو سره سم کار وو ځکه چه دومره اوبه ده قبایلی علاقه د
هر څه نه برابر خبر ساتل ډیر گران کار وو - چه دا ے اخباره نشو کیدلے - دے بارے
کښے اجمل مکک صیب لیکی" و ئیلے شی چه د سید احمد شهید د جهاد د تحریک په دوران کښے
به د یوے صفحے یو اخبار په پښتو ژبه کښے ایستلے شو - د کوم نوم چه "الجهاد" وو
او د مردان د ضلع د طورو د کلی عبدالغفار پیښوری به دا مرتب کولو او - د
ادارت فرائض به ے د سوات والی عبدالغفور، شوک چه یو مجاهد درویش وُو،
پوره کول - دا اخبار به په یو دا سے مصالحے چاپ کیدلو کوے ته به ے چه حلوه
پریس وئیلو - کله به ے چه د اخبار کاپی په دے کلکه کوله نود کاپئ حروف په دے حلوه
نما شی باندے وتل او بیا چه به یو سپین کاغذ په دے د یو خاص دباؤ سره کیښودے
شو - نو هغه کتابت به بیا په د غه کاغذ منتقل کیدو او د غه شان به ددے مطلوبه
مواد طباعت کیدلو"

سوات دکه څرنګ چه محکښے ذکر او شو د قیرښتګی د راتلو سره سم دهے کولے ځائے
جوړ شوے وو - د سرحد اکثر روحانی مشران هم په د غه ورځو کښے سوات ته راجمع
(اے صحافت صوبه سرحد میں ص ۲۳)

شوی وو - او د لښکر ځ د بهرنیو خطرے نه علاوه یوه داننیو اوکورنیو خطره د ګډوډۍ د اقتدار پیدا کړے وه - د غه وجه وه چه هغه کله سید و بابا (اخوند صیب) په خپل مخ کښے سید اکبر شاه باچا کړو نو تر لسو کالو پورے کورنیو سیاسی هلے ګولے سړے وے - خو چه هغه کله سید اکبر شاه باچا په ۱۸۵۷ء کښے پخ شو او سید و - نو د ګډوډۍ دپاره جنګ د سید و بابا د مشر زوی میاں ګل عبدالخالق او مبارک شاه په مینځ کښے اوشو میاں مبارک شاه هغه ناکامیابه کړو - خو چې له هم بریالے نه شو ځکه چه هغه د خپل ځان په حق کښے د اولس مرسته حاصله نه کړے شوه - د سوات په دے کشمکش د پښتون خوا د ټولو خلقو نظر وو او ډیره دلچسپی ئے ورکښے درلوده - د کوم اندازه چه د دے وخت د پښتو د یوا اخبار مطبع مرتضائی ته ځکی - د اخبار لیکی :

" د ریاست سوات د ورو میی باچا سید اکبر شاه (م ۱۱ مئی ۱۸۵۷) نه وروسته د سید مبارک شاه په وخت کښے د سیاسی انتظامی حالت نقشه دے خبر ځنډه شرکند ه دی -

" د غه ځلے هم څه عجیبه حال دے - چه ورځ په ورځ ے حاکم ته حیرانی او پریشانی وی چه په هغه یوکالی کښے په کوم، کوم کښے امیر دے - چنانچه د وخت د تالاش او دوه نور و کلو د ډیر معاملے نه چورلت جواب ورکړے دے - او د شموزو علاقے چه د محمد علی خان جاګیر دے او څوک چه د ریاست مدار المهام دے هغوئی هم صاف انکاری جواب ورکړے دے - اوس کور وچه باچا څه بندوبست کوی او ټول شاهی ملازمان هم د دے ملک دی - خو د جنګ په وخت کښے ډډه کوی - د دے وجے عام خلق ے ریاست څخه ورشوی دی او سید امیر خان باجوړی د سعادت علی مومن په مټ ګډ تیا یو فساد جوړ کړے دے بلکه سعادت خان نو څه سړی نوګران کړی دی کور وچه اوس هلته څه کیږی[1]

---

[1] اطعارف ش ۴ ص ۱۲۵

دا صحیح ده چه د سید اکبر شاه او سید بابا نه ورسته د یولوئ قبائلی ریاست یا حکومت جوړید و خوب نه څخه چه د سوات هغه مرکزیت هم ختم شو۔ نو روحانی مشران نو لکه هدې ملا صیب، بابړے ملا صیب، ترنګزو حاجی صیب، سرتور فقیر مولانا رحمت الله برکت الله، ملا مستان، سنډاکئی بابا، سنډو بابا، پالم ملا صیب، جان صیب او دا سے نور و ډیرو فقیرانو د "غزا" دا میدان کرم ساتلو چه فیرنګے ئے ساه اخستلو ته نۀ پریښود لو۔ د دوئی مریدان به د اسلامی لښکر په نوم جمع کیدل او غزا کانے به ئے کوله، چه ور کښے د ۱۸۶۳ء، ۱۸۹۷ء، ۱۸۹۸ء، ۱۹۰۰ء، ۱۹۱۴ء او ۱۹۱۸ء غزا کانے زیاتے مشهورے دی، او بیا د ۱۸۶۳ء د غزا په باب نو د فیرنګیانو د شرانو خپله ویناوده چه په هندوستان کښے د ۱۸۵۷ء د جنګ نه ورسته د ټولو نه لوئ جنګ د ۱۸۶۳ء دا میلے جنګ وو۔ په کوم کښے چه مونږ ډیر لوئ زیان اوتاوان موندلے دے۔ که څرے د هندوستان نور خلق هم د پښتنو ملګری شوے وے نو یقینی خبره وه چه مونږ به ئے بهر ویستی وو۔

زمونږ د غه رو صافی مشران ډیر هوښیار خلق وو۔ د وزیرستان تر باجوړ او سوات چلے پورے دا قبائل تیار او خبردار ه ساتل ضروری وو۔ د غه خپل یو اخبار "المجاهد" سره ئے یو ډوه۔ نور اخبارونه په پښتو، اردو او فارسی کښے ویستل شروع کړی وو۔ کوم چه به ئے د دے ځایه کلکته "بمبئی۔ دیلی، دکن بهوپال، رام پور، افغانستان، ترکی او قبائلی علاقو ته لیږل۔ او په دومره پسته طریقه به ئے دا د غره په یوه څمښ کښے چاپ کول او بیا به ئے په دومره پسته او محفوظه طریقه د غو ملکونو او علاقو ته لیږل۔ چه د دشمن به ئے هیڅ زره هم نه شوه کولے۔ په دے چل به ئے یو طرف ته هغه د خپلو حالاتو او کارګذارئی نه خبر ساتل او بل طرف ته به ئے د هغوئی اخلاقی، روحانی امداد حاصلولو۔ تر دے پورے چه دا اخبارونه

یے جرمنی او جاپان تہ ہم لیږل۔

شمشیر (سمس) چہ د هندوستانی مجاهدینو هیلو کوارتر وو۔ د هغے نہ بیا یو بل اخبار "المجرض" په ۱۹۳۸ء او "المجاهد" په ۱۹۴۰ء کښے جاری کړل۔ د کوے ایډیټر چہ شهزاده نورالهدیٰ وو۔ دا اخبارونہ ډیره ښه اونډ چلیدل۔ ځکه چہ د علاقه اوس د امبیلا وسوات دریاستونو په مینځ کښے راګیره وه۔ او دواړه طرف تہ ترے منظم خوداسے دریاستونہ جوړشوی وو۔ کوم چہ "ډیوټین جیک" وفادار وو۔ او د هغوئی د مرضئ خلاف ے هیڅ نہ شوکولے۔

د ۱۸۷۷ نہ تر ۱۹۱۴ء پورے د سوات وطن یوے پاچا وطن وو۔ صرکله چہ سواتیان دکاوندی دریاست دیر د زور ظلم او جنګونو نہ تنګ شول۔ نو ځان له د پاچاپه لټون شو۔ آخر د سندا کئی بابا په مشرۍ د ستانړے سید عبدالجبار شاه راوستو او د سوات پاچا ئے کړو۔ عبدالجبار شاه پاچا په خپله یو پیر لوئے عالم، فاضل ادیب، مؤرخ او شاعر وو۔ د دوئی په ورځو کښے د ریاست سرکاری ژبه فارسی وه۔ د دوئی په ورځو کښے د سوات نه څهٔ اخبار یا رساله نهٔ ده وتے۔ هغه! دوئی په خپله د پښتنو تاریخ، د سوات تاریخ، خپله سوانح عمری، شجرے، د پیر بابا اوتوند نورې دیرخوندوره دوه اتیا کتابونه لیکلی دی۔ چه صرف دوه دے ورکښے چاپ دی۔

کله چه په عبدالجبار شاه باچا د قادیانیت فتوی اوکولے شوه۔ ځکه چه هغه هم قادیانے وو نو د ے ویے نه هغه د سوات د بادشاهئی نه لرے کړے شو او د هغه په ځائے میان گل عبدالودود په ۱۹۱۷ء کښے د سوات حکمران شو۔

میان گل صیب په خپله نالوستے وو خو ذوقئے لکه د اکبر باچا په برخه رسیدلے وو۔ اخبارونه، رسالے او کتابونه ډیرے راغوښتل او ځان تهٔ ئے یو مرزا نیولے وو۔ هغه

به ورته اورول۔ دغه وخت کښے په سوات کښے هیڅ قسم جدید او انګریزی تعلیم نه وو۔ دغه وجه وه چه د هندوستان چاپه اخبارونه به هم دلته نه راتلل۔ باچاصیب په خپل سوانح حیات کښے وائی :۔ "چه ما به خپل یونوکر دتانړے کلی ته لیږلو چه د هغے د یوخان نه پرے زاړه اخبارونه راوړل۔ ماته به زما سړی دغه اورول او زه به د هندوستان د حالاتو نه خبریدم۔" [1]

د ۱۹۳۰ء نه په دیخوا د ۱۹۴۹ء پورے په ټول ملک کښے د نیرنګی خلاف د خلقو جذبه ډیره زیاته تیزه شوے وه۔ په دغه وخت کښے د صحافت په دنیا کښے د "محمد علی جوهر کامریډ" او د "ظفر علی خان زمیندار" لوئی نوم پیدا کړے وو۔ دغه وخت کښے د سوات د اولنۍ انګریزی مدرسے د تعلیم یافته ګروپ هم تر لسم جماعته پورے رسیدلے وو۔ دغه وجه وه چه په عام اولس کښے په اول ځل "زمیندار" اخبار کامران خان، چاچا کریم بخش، ډاکټر نیاز، عبدالرشید خان (ډیرئ) هیډ ماسټر مولوی صیب او عبدالمتین اُستاذ د متکلمو به ځان له په څه طریقه پیدا کولو او لوستلو بهے۔ او د ځان نه علاوه نورو دوستانو بهے هم د وخت د حالاتو خبره وَل هم په دغه وخت کښے د پښتنو مشر باچا خان د خپل اولس د بیدارئ او باخبره ساتلو د پاره خپله یوه رساله "پښتون" جاري کړے وه۔ دغه رساله به هم سوات ته د ډیرو کسانو را غوښتله خو دا رساله بهے پته ساتله، ځکه چه د سوات باچاد مخبرِ اتفاقات نه خلاف وو۔ د باچاصیب په دور کښے د سوات تاریخ او لیکلے شو۔ چه د تاریخ هغه خاصیتونه ورکښے نشته۔ کوم چه د تاریخ مقصد وی۔ نو بیا هم د نورو د څه نه څه تت شکل څرګنده وی۔

کله چه په ۱۹۴۹ء کښے د باچاصیب په ځائے میاں ګل میجر جنرل جهانزیب د سوات باچا شو۔ څوک چه کهٔ یو طرف ته شهٔ تعلیم یافته وو۔ نو بل طرف ته په

---

[1] تاریخ ریاست سوات ص ۱۷۰

پبلسټۍ دیر زیات مټین وو۔ دغه وجه وه چه هغوئ د خپلے پبلسټۍ دپاره دکراچئ، لاهور، پیښور، اومردان دا سے دسالے اود هغے مدیران په بیعه واخستل چا، چه د هغوئ د مبالغے نه د که پبلسټۍ شروع کړه۔ اود غه شان عاموسواتیانو ته د لوستو مواد هم په لاس راغلل۔ ځکه چه د غه دسالے په سرکاری دول په لوئی شمیر کښے را غونښتے شوے۔ په عاموخلقو او سکولونو مدرسو به هسے وېشلے شوے۔ څنه هم که دا دسالے د یو خاص مقصد لاندے به چاپ کیدلے چه به هغے کښے به هر څنه د "عادل سلطان" او "فرشته امن" چاپیره چوریدل۔ نو د ما په نیزے یوه فائده دا هم وه چه کله کله به په دغه رسالو کښے یو نیم خوندور مضمون د سوات د تاریخ، ثقافت او کلچر په مناسبت هم چاپ شو۔

په سوات کښے میجر جنرل جهانزیب د سکولونو او مدرسو یو جال ټول کړے وو۔ چه دا ے د سوات په اولس یونټ ورکیدو نکے احسان دے۔ بیلے د اعلیٰ تعلیم دپاره "د سوات اعلیٰ کړه" جهانزیب کالج جوړ کړو۔ هم دغے کالج نه په ۱۹۵۶ء کښے په وړمې ځلې یوه رساله "ایلم" په درېو ډبو کښے خپره شوله۔ چه تر دے دمه په باقاعدګۍ سره اوځئ۔

په پرائیویټ تولګه په سوات کښے د باقاعده صحافت قدم د مینکورے یوځوان فضل خالق مادون اوچت کړو۔ چا چه "د سوات د ځښت" په نوم یوه میاشتیزه او یوه ښه معیاری رساله اوویسټله۔

هم دغے دور کښے په سوات کښے "د خاندانی منصوبه بندی" محکمه پرانستلے شوه۔ چه مشرے حاجی نواب خان او سرپرست اعلیٰ ے د سوات حکمران په خپله وو۔ دی محکمے هم یوه رساله د خپلے محکمے په نوم په ۱۹۶۶ء کښے جاری کوله۔

هم دغے دور کښے د ریاست د طرف نه د "محکمه اطلاعات" یوه څانګه جوړ

تائید کړے شوه چه هغې یوه ورځ د شان رساله د "جائزه ریاست سوات" په نوم شروع کړله - لیکن د صحافت په دنیا کښے د ټپولو نه غټ قدم او د ستاسئلو وړکار د سید میاں گل فروش دے - او هغه دا چه د سوات د ریاست د ختمولو سره هغوئی دملاکند ډویژن دنمائنده اخبار په نوم یو اخبار "فلک سیر" جاری کړو - او دا دے اخبار یوه نویه خوش قسمتی وه چه دے ته د میاں سید عمر ناصح غوندے یو باشعوره، تعلیم یافته، ادیب او شاعر مدیر په لاس ورغلو - چا، چه د خپل زړهٔ په وینو، د تندی په خولے او مغز و تړو دا اخبار ډیر ژیات کامیاب کړو - او د خپل دغے کامیاب کوشش په سبب د دغے اخبار نه علاوه ئې د نورو دے څلورو اخبارونو سیټرل ایډیټر چیف ایډیټر او بیورو چیف دے -

د "فلک سیر" نه ورسټو د صحافت په میدان کښے ځینے نورو نحوا خوبدلو او پوهه زلمیانو څه رساله مینځ ته راوو یستله، چه مخکښے بهٔ ذکر راشی - خو دلته دیوکم عمره زلمی ادیب ذکر ډیر ضروری دے، د چا عمر که څه هم څومره کم وے نه دے - خو شعور او پوهه ئې زیاته ده - دغه زمے فضلِ ربی راهی دے - څوک چه ادیب دے، شاعر دے - بک سیلر دے او پبلشر دے، د سوات په صحافت کښے ډیر زر نوم پیدا کړو - د خپل یو بل ادیب ملګری کریم جان مجاهد سره ئے په شریکه یوه رساله "د کوهِ سخن" په نوم اوویسته - که یو طرف ته ئے ډیر زر د رساله دغه نوم چه د سوات د یوغر په نوم دے ایښود ے وو - خو ښه نه شو - ځکه چه هغې چا به دا ټپوس کولو، چه دے نوم مطلب څه دے - تو بل طرف ته د دواړو ملګرتیا هم کامیابه اونه خټله - حالانکه رساله ئے ډیره خونده وره وه - سمدستی ئے د یو بل زلمی څوک چهٔ په خپله هم شاعر دے او د کار سړے دے د فضل محمود روښانی په ملګرتیا کښے ئے د یوے بلے ادبی رسالے تاسیس او کړه - او دواړو ملګرو د "سوات ادبی سیرز" په نوم یوه خونده وره رساله

جاری کړه - چه د وتلو سره د نورو علاقو لوستونکو نه ښه کړه - خلور پنځه شمارې وتلې وې چه فوسا ئلو ډکې په وجه د خپرېدو نه پاتې شوله - بله داچه د رساله د دوارو کسانو بغیر د ډیکلریشن و پاتله - چه د هغې دویمې نمبر تړلې قدم په قدم مالي مشکلات ور پېښ کېدل - دوارو د ډیکلریشن دپاره مخه تړه شروع کړې وه - خو لا بریالی شوی نه وې - پکار داده چه حکومت دې باره کښې د روښ هر قسمه جائز امداد اوکړی چه د ملک دالړې پرتې علاقې د صحافت په رڼا منورې شي، خکه چه د ټولنې کاروان د سرکار د سرپرستۍ او مرستې بغیر نه کیږي -

هم دې ورځو کښې د "سماجی بهبود" د محکمې د خوا یوه رساله "سماجی بهبود" په پېرا میډیکل انسټیټیوټ له خوا "کونپل" د سوات اسکاؤټس له خوا "سوات سکاؤټس" او د مینګورې یونۍ انور علي د "کلیکسی" په نوم یوه رساله میدان ته راوویسته - مونږ په دې هر څه من، من عقیدلو او نو ښه کالیدلو - خکه چه هېڅ یوه علاقه په ښنې دوره کښې د "صحافت" د رڼا نه بغیر ترقي نه شي کولې - او په اصل معنو کښې صحافت د قامي ترقۍ جړوی - څه کوم چه د شمیر ۸۸ په میاشت کښې یومیل تکړه اوحاس زلمي احسان الحق حقاني یو پندره روز "اخبار صداے دل" د لوستونکو لاس ته اوسولو - چه ښه برابر روان دے -

د سوات نه وتونکي اخبارونه اورسالے -

نوم	نیټه	ځاے	ژبه	چلونکے
المجاهد	۱۸۶۳ء؟	سیدو شریف	پښتو	عبدالغفور
المحرض	۱۹۳۸ء	سمس	پشتو-اردو- فارسی	نورالهدیٰ
المجاهد	۱۹۴۰ء	سمس	" " "	"
ایلم	۱۹۵۶ء	جهانزیب کالج	پشتو-اردو-انګریزی	د کالج هکان

نوم	شپته	ځای	ژبه	چلونکے
قاندانی منصوبه بندی	۱۹۶۶ء	سید وشریف	اردو	کل نواب خان
جائزه ریاست سوات	۱۹۶۷ء	سید وشریف	پشتو اردو	عبدالحلیم محکمه اطلاعات
سوات دائجسټ	۱۹۶۸ء	مینکوړه	اُردو	فضل خالق مادړن
فلک سیر	۱۹۷۲ء	مینکوړه	پشتو - اُردو	میان سید عمر ناصح
سراج کوهستانی	۱۹۷۴ء	مینکوړه	پشتو - اُردو	مضروف سلام
پهول	۱۹۷۵ء	مینکوړه -	پشتو - اُردو	شمس فخری
کے - وی - پی	۱۹۷۵ء	بشام	انګریزی	جان نادر خان بریګیډ ئر
بلدیه	۱۹۷۸ء	مینکوړه کمیټی	اُردو	میونسپل کمیټی
بونیر پراجیکټ	۱۹۸۲ء	بونیر - اسلام آباد	اُردو	نارکوټک کنټرول بورډ
موغزار	۱۹۸۳ء	د جینکو کالج سید وشریف	پشتو - اردو - انګریزی	د کالج جینکئ
کوهِ سجن	۱۹۸۶ء	مینکوړه	پشتو - کوهستانی - اُردو	فضل ربی راهی کریم جان مجاهد
سوات	۱۹۸۷ء	مینکوړه	اُردو	فضل محمود روښان فضل ربی راهی
سماجی بهبود	۱۹۸۷ء	سید وشریف	اُردو	رحیم شاه
کونپل	۱۹۸۷ء	سید وشریف پیرا میډیکل	پشتو - اردو انګریزی	فضل سبحان سبحانی او منګری

سوات سکاؤٹس	۱۹۸۸ء	چاریاغ سکول	اردو	محمد علی اومکڑی
کلیکسی	۱۹۸۸ء	مینکورہ	انگریزی	انور علی
صدائے دل	۱۹۸۸ء	سیدو شریف	اُردو	احسان الحق حقانی

سوات ته راتلونکی اخبارونه اورسالے

په اولسی ټولګه خلق د اخبار لوستنے سره داشنا کولو او دوئ ته د اخبار رسولو خوش قسمتی د اروښاد محمد سعید او اروښاد ماسټر مظفر حسین په برخه ده، چاچه په اول ځل د ۱۹۵۲ء په ځواؤ شاپخیلو دکتابونو په دکانونو اسلام بک سټور او کتابستان کښے د اخبارونو ورے غوندے ایجنسئ پرانستله، کوے چه نن د هغونا ماتو اولاد په دیر لویه پیمانه او په دیره ښه طریقه سره چلوی۔ او دغے نهال کرې ورڅخې بوټې نن دیوے لوئے اوښے په څیر وده موندلے ده۔ چه ګنې شاخونه اوشاخونه لري۔ دغه وجه ده چه نن د ټول پاکستان هر قسمه اخبارونه اورسالے سوات ته راځی، چه مختلفے ایجنسیانے ئے د شران چلوی۔

۱۔ مشرق، جمارت، فرنټیئر پوسټ، وحدت، جنګ، خیبر میل — صلاح الدین
سرحد، امن، شهباز، نوائے وقت۔ انقلاب، سباوات، دان، ننګیار، نورجهان، سکرین۔

۲۔ هیواد۔ حاجی شمشیر علی ۳۔ حیدر۔ عبدالرحیم

۴۔ جدت۔ محمد سلیم ۵۔ مرکز۔ محمد هلال

۶۔ فلک سیر، ترجمان افغان، حقیقت، جرأت۔ میاں سید عمر ناصح

۷۔ پاکستان ټائمز، امروز، ترجمان افغان۔ محمد رشید

۸۔ مسلم۔ احمدی ګل ۹۔ جهاد۔ افتخار خان ۱۰۔ ارم۔ سلمان

۱۱۔ ډیلی رپورټ، تاجر، انقلاب، شهاب۔ فضل الرحیم

سوات ته د راتلو نکو اخبارونو تعداد

اخبار	تعداد	اخبار	تعداد	اخبار	تعداد
جنګ	۲۰۰۰	شهاب	۳۰	مساوات	۱۲۰
مشرق	۷۵۰	تاجر	۶۵۰	قومی - ریډیو	
وحدت	۳۵	حیدر	۲۵۰	انقلاب	۵۰
شهباز	۶۰	جرأت	۵۰	ویلی رپورټ	۲۰۰
سرحد	۱۰	فلک سیر	۳۰۰	طارق	۱
امن	۴۰	ترجمان سرحد	۳۰	نګار	۱۲۵
جسارت	۲۵	جدت	۱۱۵۰	سکرین	۱۰
هیواد	۱۵۰	حقیقت	۲۵	حریت	۱
امروز	۱۰	خیبر میل	۳۰	نورجهان	۱۵
ترجمان افغان	۷۰	فرنټیئر پوسټ	۱۴۰	جهاد	۱۵۰
مسلم	۸۰	پاکستان ټائمز	۲۵	وان	۵
نوائے وقت	۴۵۰	مرکز	۱۰۰	انقلاب	۵۰

قومی - ریډیو

د اخبارونو او رسالونه علاوه د سوات د خلقو سره په سلګونو اوزګارنو قومی او ریډیو شته دی۔ ټول پروګرامونه او نشریات د ملت د ډیر په اسانۍ سره اوریدلے او لیدلے شی۔ البته شا نګله پاره، کالام او بونیر طرف ته قومی شبکه کار نه کوی دوئیمه داچه خلق واګیله لری چه په قومی د پروګرامونو وخت ډیر کم دے۔ د دې نه زیات کړے شی ځکه چه د خلقو د ملکی او غیر ملکی حالاتو نه ځان خبر ساتل غواړی۔

(ناچاپه)

دلیکو نکی نور کتابونه

مشرق کا سوئیٹزرلینڈ
اباسین کوهستان
سوات کزټ
کوهستانی زبان
کوهستان اور ښټو زبان
کوهستان اور شنڑ کی زبان
کالام کوهستان
پشتو اور اس کی همسایه زبانیں
سوات میں تهذیب کا ارتقاء
تاریخ ریاست سوات
کافرستان، لوگ اور زبانیں
دپښتون خوا کلونه
زه پښتو یم
دسوات کلونه
تورے ممانڑے
پښتو په سوات کښے
اقبالؒ او پښتانه
بدهمت په سوات کښے
حجره
دمه
اسلام او پښتانه
الله هو
پاکه پښتو
دسوات ډکشنری
دسوات متلونه
درے لارے
عملی تنقید
پالوان او پالوان
پیژندونکی
شیخ ملی
دسوات ژبے
تورواڑ اور تورواڑی زبان
کل ورینے څوکے
دسرد روغبڑونه
سواتیان
هیونګ سانګ کا کا
دسوما کلونه
کودر
دپښتنو ژوند ژواک

شعیب سنز پبلشرز، بک سیلرز منگورہ